د افغانستان اسلامي جمهوریت
د پوهنې وزارت
د تعلیمي نصاب د پراختیا لوی ریاست


# سیرت النبي صلی الله علیه وسلم

## اووم ټولگی

## (د دینی مدارسو لپاره)




د چاپ کال: ۱۳۹۸ هـ. ش.


سیرت النبي ﷺ — اووم ټولگی (د دیني مدارسو لپاره)




درسي کتابونه د پوهنې په وزارت پورې اړه لري، پیرودل
او پلورل يې منع دي.



curriculum@moe.gov.af

د افغانستان اسلامي جمهوريت

د پوهنې وزارت

د تعليمي نصاب د پراختيا لوی رياست

# سيرت النبي صلى الله عليه وسلم

## اووم ټولګی

## (د ديني مدارسو لپاره)

د چاپ کال: ۱۳۹۸ هـ. ش.

**مؤلف**

دوکتور خلیل الرحمن حناني

**علمي او مسلکي ایډیټ**

- قیام الدین کشاف

- فضل الله نیازی

- رقیب الله ابراهیمی

**د ژبې ایډیټ**

محمد قاسم هیله من

**دیني، سیاسي او کلتوري کمېټه**

- دکتور فضل الهادي وزین

- گل آقا شایق

- محمد نسیم قاضي زاده

**إشراف**

- دکتور شیر علي ظریفي د تعلیمي نصاب د پراختیا د پروژې رئیس.





## ملی سرود

دا وطن افغانستـــان دی — دا عزت د هـــر افــغان دی
کور د سولې کور د تورې — هر بچی یې قهرمـــان دی
دا وطن د ټولو کــور دی — د بــــلوڅـــو د ازبکـــو
د پښتـــون او هزاره وو — د تـــــرکمنـــو د تاجکـــو
ورسره عرب، گوجـر دي — پــامیـریان، نورستانیـــان
براهوي دي، قزلباش دي — هـــم ایمـــاق، هم پشه یان
دا هیـــواد به تل ځلیږي — لـــکـــه لمـــر پر شنه آسمان
په سینــه کې د آسیـــا به — لـــکـــه زړه وي جـــاویدان
نوم د حق مو دی رهبـــر — وایو الله اکبر وایو الله اکبر

بسم الله الرحمن الرحيم

**د پوهنې د وزیر پیغام**

الحمد لله رب العالمین والصلوة والسلام علی رسوله محمد و علی آله و اصحابه اجمعین، اما بعد:

د پوهنې تعلیمي نصاب د ښوونې او روزنې د نظام بنسټ جوړوي او د هیواد د اوسنیو او راتلونکو نسلونو په علمي، فکري او سلوکي ودې او پراختیا کې بنسټیز او ارزښتمن رول لري.

تعلیمي نصاب باید د وخت په تېرېدو او د ژوندانه په بېلابېلو ډګرونو کې له بدلون او پرمختګ او د ټولنې له اړتیاوو سره سم، هم د مضمون او محتوا او هم د معلوماتو د وړکړې د لارو چارو له مخې، بدلون او پراختیا ومومي.

د تعلیمي نصاب په ډګر کې یو هم د اسلامي زده کړو نصاب دی چې بیا کتنې او ودې ته یې جدي اړتیا لیدل کېده؛ ځکه له یوې خوا باید د دیني مدرسو فارغان د ټولنې د معنوي مخکښانو په توګه د معارف د هڅو د پوره پام وړ وګرځي او له بلې خوا د دیني مدرسو په نصاب کې د اسلام د سپېڅلي دین عقاید، احکام او لارښوونې راغلې دي چې د انساني ژوند د ټولو اړخونو بشپړ نظام، قانون او د نړۍ د خالق او پروردګار د وروستني پیغام په توګه د قیامت تر ورځې پورې، د بشریت د لارښوونې دنده سرته رسوي.

د اسلامي امت عالمانو د تاریخ په اوږدو کې د اسلامي معارف او د اسلامي تعلیماتو د سیستم په رامنځته کولو، پراختیا او بډاینې، په تېره بیا د اسلامي نړۍ د علمي مرکزونو او مؤسسو د تعلیمي نصاب په تدریجي وده کې، خپله دنده سرته رسولې ده.

د اسلامي علومو تاریخ ته کره کتنه، دا څرګندوي چې د دیني مدرسو او علمي مرکزونو نصاب تل د اسلام د تلپاتې او ثابتو احکامو پر بنسټ، د ټولنې له اړتیاوو سره سم، هر وخت او هر ځای پراختیا موندلې ده.

زموږ ګران هیواد افغانستان د علمي ځلانده تاریخ په درلودلو سره د علم او پوهې زانګو او د وخت لوی علمي مرکز و چې د اسلامي ستر تمدن په جوړښت کې یې مهم رول درلود. د علم او فرهنګ په مختلفو ډګرونو، په ځانګړې توګه د عقایدو، تفسیر، حدیث، فقهې او د فقهې د اصولو په څېر په شرعي علومو کې د زرګونو پوهانو او عالمانو شتون، زموږ د دې وینا پخلی کوي.

په اوسني عصر کې د اسلامي ویښتابه له پراختیا سره سم زموږ په هېواد کې اسلامي زده کړو د شومره والي او څرنګوالي له مخې زیات بدلون موندلی او د هېواد کوچنیان او ځوانان په ډېره مینه او لیوالتیا د اسلامي زده کړو مرکزونو او مدرسو ته مخه کوي.

د افغانستان د اسلامي جمهوریت د پوهنې وزارت د خپل مسؤولیت او دندې له مخې د هېواد له اساسي قانون سره سم د اسلامي زده کړو د کیفي او کمي پراختیا او په هغې کې د اسلامي زده کړو د نصاب په اړه د پام وړ ګامونه پورته کړي دي.

په دې لړ کې د پوهنې وزارت، د هېواد د ډاډ وړ تجربه لرونکو عالمانو، استاذانو او متخصصانوڅخه په بلنه د دیني مدرسو د تعلیمي نصاب، د لا ښه کولو لپاره، مروج کتابونه، د متنونو د شرحې او توضیح او د فعالیتونو، ارزونو او تمرینونو په ورزیاتولو د درسي کتابونو له نویو معیارونو سره سم چمتو کړل.

هیله من یم، د پوهنې وزارت د عالمانو او متخصصانو د ستاینې وړ دا هڅې، په افغانستان کې د اسلامي زده کړو د لا پراختیا او بډاینې او د لوی خدای جل جلاله د رضا د ترلاسه کولو لامل شي.

وبالله التوفیق

دکتور محمد میرویس بلخي

د پوهنې وزیر

# مقدمه

**ښاغلو ښوونکو او ګرانو زده کوونکو!**

د سیرت علم چې د الله تعالی د پیغمبر حضرت محمدﷺ له ژوند او د ده د زمانې له حالاتو او پېښو څخه بحث کوي، د قرآن او سنتو په پوهه کې ارزښتمن اغېز لري، ځکه چې د آیتونو شان نزول او د احادیثو شان ورود د سیرت له علم څخه زده کېږي، له همدې کبله د سیرت زدکړه د اسلام د دین د لارښوونو د سمې پوهېدنې لپاره مهمه او بنسټیزه چاره ګڼل کېږي.

همدارنګه مورږ د مسلمانانو په توګه د دین د عملي تطبیق لپاره په رسول اللهﷺ پسې اقتداء کولوته اړتیا لرو، ځکه چې د هغه مبارک ژوند، د اسلام د دین ژوندۍ بېلګه او عملي تطبیق دی.

د نبوي سیرت ارزښت ته په کتلو سره، د افغانستان د اسلامي جمهوریت د پوهنې وزارت د ښوونیز نصاب د پراختیا ریاست د نبوي سیرت تدریس، د دیني مدارسو د منځنۍ دورې په دوو ټولګیو (۷ - ۸) کې د مستقل مضمون په توګه مقرر کړ او د دغه مضمون د مفرداتو په برابرولو کې یې د مطلبونو لومړیتوبونه، د موضوعاتو تسلسل او د زده کوونکو عمرونه په پام کې نیولي دي.

دغه درسي کتاب د لیکنې له نویو اصولو سره سم په ګټوره او اغېزمنه توګه تألیف شوی او د مطالبو په راټولولو کې یې په موثوقو او معتبرو روایاتو بسنه شوې ده.

هیله لرو د علماوو او مدرسینو د منلو وړ وګرځي او زده کوونکي یې له مطالبو څخه د علم او عمل په ډګر کې پوره ګټه واخلي.

و الله الموفق

# د موضوعاتو لړلیک


| شمېره | سرلیک | مخ |
|---|---|---|
| ۱ | نبوي سیرت | ۱ |
| ۲ | جزيرة العرب | ۵ |
| ۳ | د عربي ټاپو تمدنونه | ۹ |
| ۴ | تر بعثت وړاندې د عربو حالات | ۱۳ |
| ۵ | له زېږېدو مخکې مهمې پېښې | ۱۷ |
| ۶ | د اصحاب الفیل پېښه | ۲۱ |
| ۷ | د رسول الله ﷺ نسب | ۲۵ |
| ۸ | د رسول الله ﷺ میلاد او نوم اېښودنه | ۲۹ |
| ۹ | د شیدو خوړلو (رضاعت)موده | ۳۳ |
| ۱۰ | د بي بي آمنې وفات | ۳۷ |
| ۱۱ | شام ته د رسول الله ﷺ سفر او د هغه د نبوت نښې | ۴۱ |
| ۱۲ | حرب الفجار او حلف الفضول | ۴۳ |
| ۱۳ | له خدیجې رضي الله عنها سره واده | ۴۵ |
| ۱۴ | د کعبې بیا رغول او د حجرالاسود اېښودل | ۴۷ |
| ۱۵ | د نبوت په اړوند زېرې | ۵۱ |
| ۱۶ | له بعثت وړاندې دحضرت محمد ﷺ اخلاقي فضايل | ۵۵ |
| ۱۷ | ښه خویونه او ګوښه کیناستل | ۵۷ |
| ۱۸ | د پیغمبر ﷺ مرتبه | ۶۱ |
| ۱۹ | د وحې نزول | ۶۳ |
| ۲۰ | د نبوت په پیل کې د خدیجې(رضي الله عنها) دریځ | ۶۹ |
| ۲۱ | د پټې بلنې مرحله | ۷۳ |
| ۲۲ | د اسلام مخکښان | ۷۷ |
| ۲۳ | دار ا لأرقم | ۸۱ |

| | | |
|---|---|---|
| ۲۴ | د ښکاره بلنې مرحله | ۸۵ |
| ۲۵ | د مشرکینو مهمې نیوکې | ۸۹ |
| ۲۶ | د اسلامي دعوت پر وړاندې د قریشو غبرګون | ۹۳ |
| ۲۷ | له اسلام سره د مشرکینو مقابلې | ۹۷ |
| ۲۸ | پیغمبر ﷺ ته د مشرکانو کړاوونه | ۱۰۱ |
| ۲۹ | د مسلمانانو ربړول | ۱۰۵ |
| ۳۰ | ابوطالب ته د قریشو ګواښ | ۱۰۹ |
| ۳۱ | په مکه کې د جګړې نه کولو حکمت | ۱۱۳ |
| ۳۲ | مصالحه او د قریشو پر شا تګ | ۱۱۵ |
| ۳۳ | له قریشو سره د یهودو لاس یو کول | ۱۱۷ |
| ۳۴ | حبشې ته د مسلمانانو هجرت | ۱۱۹ |
| ۳۵ | د دوو اتلانو مسلمانېدل | ۱۲۳ |
| ۳۶ | له حبشې څخه د مهاجرینو د راستنولو لپاره هلې ځلې | ۱۲۷ |
| ۳۷ | هر اړخیز بندیز او متارکه | ۱۳۱ |
| ۳۸ | ابو طالب ته د قریشو وروستی استازی | ۱۳۵ |
| ۳۹ | عام الحزن یا د غم کال | ۱۳۷ |
| ۴۰ | حضرت محمد ﷺ په طایف کې | ۱۳۹ |
| ۴۱ | اسراء او معراج | ۱۴۳ |
| ۴۲ | د لومړي ځل لپاره له انصارو سره د پیغمبر ﷺ اړیکې | ۱۴۵ |
| ۴۳ | په عقبه کې لومړی تړون | ۱۴۷ |
| ۴۴ | په عقبه کې دویم بیعت | ۱۴۹ |
| ۴۵ | د مسلمانانو د صبر او ثبات لاملونه | ۱۵۳ |
| ۴۶ | د هجرت مخکښان | ۱۵۷ |
| ۴۷ | په دارالندوه کې د قریشو تصمیم | ۱۵۹ |

لومړی لوست

# نبوي سيرت

د نبوي سيرت مضمون د لومړي ټـل لپاره د اووم ټولګي زده کوونکو ته د اساسي مضمون په توګه لوستل کېږي، نو له همدې امله اړينه ده، چې تر ټولو وړاندې د دې علم معنا، اهميت او موخې وپېژندل شي.

### د سيرت معنا

سيرت عربي کلمه ده، چې په لغت کې د لارې، طريقې او تګلارې په معنا راغلې او په اصطلاح کې د ژوند حالاتو ته ويل کېږي.

نبوي سيرت د پيغمبر ﷺ د ژوند پېښو، کړو وړو، خويونو، شمائلو او غزاګانو هغې مجموعې ته ويل کېږي چې د حديثو او تاريخ د پوهانو له خوا موږ ته رارسېدلې دي.

### د نبوي سيرت ارزښت

د نبوي سيرت لوستل او څېړل د هر مسلمان لپاره ډېر اهميت لري، ځکه انسان کولای شي د نبوي سيرت په لوستلو او پېژندلو سره د محمد مصطفیٰ ﷺ د کړنو، ويناوو او تګلارو په رڼا کې د هغه د شخصيت اړخونه ډېر ښه وپېژني او په خپل ژوند کې اقتداء وربسې وکړي. ويلی شو چې د نبوي سيرت له څېړنې څخه موخه يوازې له تاريخي پېښو څخه خبرتيا يا د يو لړ کيسو بيانول نه، بلکې د سيرت د مطالعې اصلي موخه دا ده، چې انسان وکولای شي اسلامي ارزښتونه د رسول الله ﷺ په ژوند کې په رښتيني او مجسم ډول وپېژني.

## د نبوي سيرت د لوستلو موخې

مسلمان د نبوي سيرت له څېړنې او لوستلو څخه ډېرې موخې ترلاسه کولای شي، چې خورا مهمې يې په لاندې ډول دي:

۱. د رسول اللهﷺ د ژوندانه او د هغه د زمانې د شرايطو په رڼا کې د هغه د شخصيت پېژندل د دې لپاره چې هغه يوازې د خپل قوم يو ستر شخصيت نه، بلکې په حقه رښتينی پيغمبر و، او د الهي وحې په توفيق يې تائيد کيده.

۲. يو کره لارښوود پيدا کول، تر څو د ژوند په ټولو چارو کې د هغه دکړنلارو پيروي وشي، يقيناً محمد ﷺ ډير د اعلٰی درجې بېلګه، او يو بشپړ او کره انسان و.

۳. د نبوي سيرت مطالعه کولای شي د قرآن کريم دمعنا وو په غوره پېژندلو کې له موږ سره مرسته وکړي.

٤. مسلمان ښوونکي او بلونکي ته لازمه ده، چې د ښوونې او روزنې د تګلارې يوه ژوندۍ بېلګه پيدا کړي، نو په رښتيا چې محمدﷺ داسې يو غوره، خير غوښتونکی ښوونکی او غوره روزونکی و چې د بلنې په ټولو پړاوونو کې يې ښې او ګټورې لارې ښودلې دي..

۵. د نبوي سيرت د مطالعې په ترڅ کې کولای شو د صحيح اسلامي معارف په ډېره برخه پوهه ترلاسه کړو، برابره ده چې د عقيدې په هکله وي يا د احکامو او يا د اخلاقو.

### فعاليت

مسلمان د نبوي سيرت له مطالعې څخه کوم ځيز په غوره او مجسم ډول ترلاسه کولای شي؟

## پیغمبر ﷺ د انسانانو لپاره یو مثالي شخصیت

خورا مهم څیز چې ټولې یادې شوې موخې رانغاړي، دا دی چې د پیغمبر ﷺ سیرت په ټولنه کې د انسان د ژوند مختلف ټولنیز او انساني اړخونه د یو مستقل او مؤثر غړي په توګه احاطه کوي.

د پیغمبر ﷺ په ژوند کې موږ ته ډېرې سترې او عالي بېلګې تر سترګو کېږي، لکه:

- یو رښتینی او سپېڅلی ځوان.
- د قوم او یارانو په منځ کې یو امین شخص.
- یو هوښیار بلونکی چې خلک په حکمت او پوهې سره د الله ﷻ لور ته بولي.
- د یو دولت رئیس چې خپل کارونه په پوره پوهې او حکمت سره ترسره کوي.
- یو مثالي خاوند، چې له خپلو اولادونو او میرمنو سره ښه ژوند لري.
- یو زړه سواند او مهربان پلار.
- د جهاد اتل قوماندان.
- یو رښتینی او تجربه لرونکی سیاست پوه.

او په پای کې داسې یو مسلمان، چې کولای شي په پوره اخلاص د خدای تعالی په عبادت کې د بوختیا او خپلې کورنۍ او یارانو سره د غوره سلوک او چلن ترمنځ موازنه راولي، مشاهده کوو، نو نبوي سیرت په حقیقت کې په خورا عالي بڼه د انساني ژوندانه د ټولو اړخونو څرګندونکی دی.

## ارزونه

۱. د نبوي سيرت مطالعه مسلمان ته څه ګټه او اهميت لري؟

۲. د نبوي سيرت موخې په لنډ ډول تشريح کړئ.

۳. د نبوي سيرت له مطالعې څخه د ښه شخصيت څه ډول بېلګې ترلاسه کولی شو؟

٤. آيا د نبوي سيرت مطالعه د ځانګړو خلکو لپاره مهمه ده او که د ټولو مسلمانانو لپاره؟

## کورنۍ دنده

زده کوونکي دې په خپلو کتابچو کې د محمد رسول اللهﷺ د هغه توازن او انډول په هکله، چې د خدای تعالیﷻ په عبادت کې د بوختيا او د خپلو اولادونو او ماندينو سره يې د غوره چلن کولو ترمنځ ساتلی و، يوه لنډه مقاله وليکي.

دويم لوست

# جزيرة العرب

د عربو جزیره هغه مبارکه ځمکه ده، چې د اسلام ستر او عظیم الشان پیغمبر پکې نړۍ ته سترګې پرانستې. اسلامي بلنه له همدغه ځایه پیل شوه، ملاتړ یې ترلاسه کړ او د نړۍ ګوټ ګوټ ته خپره شوه. د دې ځمکې له تاریخي او جغرافیاوي موقعیت سره بلدتیا له موږ سره مرسته کوي، چې د حضرت محمدﷺ تر ظهور او بعثت وړاندې حالت په ښه ډول وپېژنو.

## جغرافیاوي موقعیت

د عربستان خاوره یوه پراخه ټاپو وزمه ده، چې د آسیا په سوېل لوېدیځ کې پرته ده، د دې خاورې



په ختیځ کې یې د فارس خلیج او د سوېلي عراق لویه برخه ده، لوېدیځ ته یې سره بحیره او د سینا ټاپو وزمه، شمال ته یې د شام ښارونه (سوریه او اردن) او د عراق یوه برخه او سوېل ته یې د عرب بحیره، چې د هندي اوقیانوس امتداد دی، هم سرحدې دي. نو له دې امله دسیناء ټاپو د جزیرة العرب په حدودو کې نه شاملېږي.

د عربي جزیرې اجمالي مساحت (۳۰۷۰۰۰۰) درې میلیونه اویا زره کیلومتره مربع ته رسېږي.

## د عربي جزیرې وېش

**د عربي ټاپو وېش**: جغرافیه پوهان په جزیرة العرب کې مېشت عربان د همدغو سیمو د طبیعت په رڼا کې په لاندې پنځو برخو وېشي:

۱_ تهامه ۲_ حجاز ۳_ نجد ٤_ یمن ٥_ عروض (یمامه او بحرین)

د حضرت محمدﷺ د زېږېدلو ځای حجاز دی، چې د دې ټاپو وزمې په لوېدیځه برخه کې پروت دی.

## فعالیت

د یوې سیمې جغرافیاوي موقعیت او تاریخي لرغونتوب پېژندل د هغو شخصیتونو په پېژندلو کې چې هلته هست شوي دي، څه مرسته کوي؟

## د عربو تاریخي لرغونتیا

تاریخ پوهانو د عربو جرړې په درېو برخو وېشلې دي:

۱. بائده عرب

۲. عاربه عرب

۳. عدنانیه عرب

**بائده عرب**: له هغو قومونو او پرګنو څخه عبارت دي، چې په بشپړ ډول تر اسلام پخوا له منځه تللي دي، لکه د عاد، ثمود او عمالقه قومونه، چې د ځینو د زوا ل د څرنګوالي کیسې په قرآن

کریم کې یادې شوې دي. دوی داسې پاچاهان درلودل، چې پولو یې تر شام او مصر پورې پراختیا درلوده. همدا رنګه هغو قبیلو ته هم بائده عرب ویل کېږي، چې خپل یووالی یې له لاسه ورکړی او پاتې شوني یې له نورو قبیلو سره یو ځای شوي، لکه جُرهُم او د حضرموت اعراب.

## عاربه یا قحطانیه عرب

هماغه اصلي او زاړه عربان دي، چې نسبي لړۍ یې قحطان ته رسېږي. دوی په سوېلي عربو شهرت لري. عاربه عربو د بائده عربو پرخلاف د تاریخ په اوږدو کې خپل شتون او یووالی ساتلی دی، د یمن، سباء او حمیر پاچاهان په همدوی پورې تړاو لري، همدارنګه د قضاعه، اوس، خزرج او خزاعه قبیلو جرړې هم دوی پورې رسېږي.

## مستعربه یا عدنانیه عرب

هغو قومونو ته ویل کېږي، چې نسب یې عدنان د ابراهیمعليه السلام د زوی اسماعیل عليه السلام لمسي ته رسېږي، چې په شمالي عربو هم مشهور دي، دوی په اصل کې عرب نه وو، خو له عربانو سره یې د وینې پېوند اوګډون پیدا کړ او د وخت په تېرېدو سره عرب وګڼل شول، د دې ډلې اصلي ټاټوبی مکه مکرمه ده یعنې هغه ځمکه چې ابراهیمعليه السلام خپل زوی اسماعیلعليه السلام د هغه له مور بي بي هاجرې سره دغه ځای ته راوستل.

اسماعیلعليه السلام په جُرهُم نومې عربي قبیلې کې وروزل شو، او بالآخره د هغوی زوم شو، نو د اسماعیلعليه السلام اولاده په اصل کې عربان نه دي، بلکې په عربي چاپېریا ل کې روزل شوي دي، له همدې امله دوی ته مستعربه یعنې عرب شوي عرب وایي.

د دې ډلې عربانو نامتو قبیلې عبارت دي، له: ایاد، ربیعه، مضر، تمیم، هذیل، کنانه، قریش ... او نورو څخه.

رسول اللهﷺ د مضر له قبیلې څخه دی، چې قریش د هغې یوه څانګه ده او مستعربه عربو پورې تړلې ده.

## فعالیت

ګرانو زده کوونکو! تاسو کې څوک له شام څخه حجاز ته د ابراهیم علیه السلام د راتلو او په مکه کې د اسماعیل علیه السلام د مېشت کېدو کیسه بیانولی شي؟ آیا هغه مهال په مکه کې آبادي وه؟

## ارزونه

**الف:** لاندنی پوښتنې ځواب کړئ.

۱. ولې د عربستان ځمکې ته ټاپو وزمه وايي؟

۲. جزیرة العرب څو کیلومتره مساحت لري او اوس کوم هېوادونه پکې شامل دي؟

۳. د جزیرة العرب عمده برخې څه نومېږي؟

٤. د قریش قبیله د عربو د کومې ډلې ښانګه ده؟

**ب:** لاندې نیمګړې جملې د مناسبو کلمو په لیکلو سره پوره کړئ:

۱ـ د عربو جزیره د سوېل له لوري ................................... ته رسېږي.

۲ـ د مکې او مدینې ښارونو تړاو د .......................... سیمې سره دی.

۳ـ عاد او ثمود د ........................ عربو له ډلې څخه شمېرل کېږي.

٤ـ مستعربه عربو ته د ................................... زامن ویل کېږي.

## کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د حضرت ابراهیم علیه السلام او حضرت اسماعیل علیهما السلام په هکله معلومات ترلاسه کړي او خپلو کتابچو کې دې ولیکي.

دریم لوست

# د عربي ټاپو تمدنونه

له ډېرې پخوا راهیسې په جزیرة العرب کې تاریخي تمدنونه شته، چې خورا مشهور یې په لاندې ډول دي:

## ۱_ د سبأ تمدن

سبأ د یمن یوه سیمه ده. د دې ځای خلکو د باران له اوبو څخه د ګټې اخیستنې او په شګو او سیندونو کې د اوبو د ضایع کېدو د مخنیوي لپاره له پرمختللو هندسي تګلارو څخه په استفادې، ډېر بندونه او د اوبو زېرمې جوړې کړې وې، چې مشهور یې د (مآرب بند) و، چې د نړېدلو کیسه یې په قرآن کریم کې راغلې ده[1]. همدا شان قرآن کریم د حجاز، یمن او شام ښارونو ترمنځ د ښېرمو بانډو او کلیو شتون ته هم نغوته (اشاره) کوي، چې سوداګریزو کاروانونو او مسافرو به د باغونو په منځ کې د ونو تر سیورو لاندې، پرته له دې چې تږي یا وږي شي، مزل کاوه، خو دغه تمدن او آبادي همغه شان لکه چې قرآن کریم ګواهي ورکوي، د ورانوونکو سیلابونو له امله، چې د هغې سیمې په اوسېدونکو باندې د الله تعالی د غوسې او له الله تعالی څخه د هغو د سرغړاوي او د هغه تعالی د نعمت د ناشکرۍ پایلې وه، بېخي له منځه ولاړه.

### فعالیت

یمن د جزیرة العرب په کوم ځای کې پروت دی؟ آیا اوس هم د یمن، حجاز او د شام ښارونو ترمنځ ترلې او نښتې ښارونه او کلي شته؟

---

۱- سوره سبا - آیت ۱۴

## ۲_ د عاد تمدن

دغه تمدن د عمان او حضر موت (یمن) او یمامه ترمنځ په یوه سیمه کې چې احقاف نومېږي پیدا شو او الله جلت عظمته د دې ځای د هستوګنو د لارښوونې لپاره هود عليه السلام ولېږه، دا خلک چې خورا ځواکمن او قوي وو، د ځان لپاره یې محکم کورونه او ګڼې کارخانې جوړې کړې وې.

د احقاف سیمه له بڼونو، فصلونو او چینو ډکه وه، خو اوسېدونکو یې د الله جل جلاله د نعمتونو قدر ونه پېژاند او بت پرستي یې غوره کړه. د هود عليه السلام سرغړاوی یې وکړ او د هغه په ځورونه یې پیل وکړ، چې په پایله کې الله جل جلاله پرې غوسه شو. لومړی یې پر دې ځمکې وچکالي راوسته او بیا پرې وربځ راښکاره شوه. دوی داسې انګیرله چې کېدای شي باران پرې وشي. د دوی ښاروي او ځمکې به خړو بې کړي، خو دا هغه وربځ نه وه، چې د رحمت باران له ځان سره ولري، بلکې چټک باد او ورانوونکی طوفان ورسره و، چې د الله په فرمان یې هر څه وران کړل، کورونه یې له شګو ډک شول، له خپل ټول ځواک سره، له منځه ولاړل او ټول نعمتونه یې زوال شول.

## ۳_ د ثمود تمدن

دغه تمدن د حجاز او شام ښارونو تر منځ د الحجر او وادي القری په سیمه کې رامنځ ته شو.
ثمودیانو چې په غرونو کې محکم کورونه جوړ کړي وو، همدا شان ډېر باغونه، فصلونه او له اوبو ډکې چینې یې درلودې. د دوی د لارښوونې لپاره د الله تعالی رالېږل شوی استازی، صالح عليه السلام نومېد، چې کیسه یې په قرآن کریم کې راغلې ده.

صالح عليه السلام خپل قوم د یو خدای عبادت ته را وباله، خو هغوی سرغړاوی وکړ او بت پرستي یې غوره کړه.له صالح عليه السلام څخه یې معجزه وغوښته، ترڅو د هغه پیغمبري ومني. الله جل جلاله یوه ناقه

(اوښه) د صالح عليه السلام د نبوت د رښتينولي لپاره ولېږله او دا يې ورته وويل، چې له اوښې سره غرض مه لرئ، تر څو د الله تعالی په ځمکه کې وګرځي، خو ثموديانو اوښه ووژله، هماغه و چې د زلزلې په بڼه د الله جل جلاله عذاب دوی ته راغی او په پايله کې ټول ثموديان د عاديانو په څېر هلاک شول.

## فعاليت

پر عاديانو او ثموديانو د الله جل جلاله د قهر او عذاب راتللو لاملونه څه وو؟

څه فکر کوئ، ايا زموږ په زمانه کې هم ګناه او د الله جل جلاله د نعمت کفران د بربادی او د نعمت د زوال باعث ګرځي او که نه؟

## ارزونه

**الف:** لاندنی پوښتنې ځواب کړئ.

۱. مأرب بند چېرته جوړ شوی او خلکو ترې څه ګټه اخيستله؟

۲. د احقاف سيمه چېرته پرته وه؟

۳. عاديانو ته استول شوی استازی څه نومېده؟

٤. ثموديان څرنګه هلاک کړای شول؟

**ب:** په لاندې څلورو جملو کې له دوو غلطو جملو څخه کرښه تاو کړئ.

۱- د ثمود تمدن په احقاف نومي ځای کې رامنځ ته شو.

۲- ثموديانو له صالح عليه السلام څخه معجزه وغوښته او الله جل جلاله يوه ناقه د معجزې په ډول ورته راولېږله.

۳- سبأ د حجاز او شام ښارونو ترمنځ داسې ځای و چې خلکو يې د خپلو کښتونو د خړوبولو

لپاره د سیند له اوبو څخه ګټه اخیستله.

٤- ثمودیان قوي او ځواکمن خلک وو او د غرونو په منځ کې یې ماڼۍ جوړې کړې وې.

### کورنۍ دنده

زده کوونکي دې په خپلو کتابچو کې د هغو قومونو، چې د نعمت ناشکري او د الله ﷻ نافرماني یې کړې وه او هلاک شوي وو، یوه مقاله ولیکي.

ځلورم لوست

# تر بعثت وړاندې د عربو حالات

عربان د حضرت محمدﷺ تر بعثت مخکې له سختې بې دينۍ، ناپوهۍ، بت لمانځنې، اخلاقي او اجتماعي بې لارېو، سياسي او قانوني انارشيزم سره لاس او ګرېوان وو او له سياسي پلوه د فارس او روم د حکومتونو تابعداران ګڼل کېدل.

## ۱ـ ديني حالت

عربان په اصل کې د ابراهيمعليه السلام د دين منونکي وو، خو د وخت په تېرېدو يې د ابراهيمي شريعت اصول هېر کړل او بت لمانځنې ته يې مخه کړه، د بت لمانځنې ډېره په مکه مکرمه کې د عمرو بن لحی خزاعي نومي سړي لخوا کېښودل شوه او ډېر ژر د حجاز ګوټ ګوټ ته بت لمانځنه خپره شوه او هرې قبيلې ځانګړی بت درلود، آن تر دې چې په کعبې شريفې کې (۳۶۰) بتان اېښودل شوي وو.هغوی په دې باور د بتانو عبادت کاوه، چې بتان خدایﷻ ته زموږ سپارښتنه کوي، نو ځکه يې پناه وروړه، غوښتنه يې ترې کوله، په کړاوونو کې يې ور ځخه مرسته غوښتله، طواف يې ترې کاوه، سجده يې ورته کوله، اللهﷻ ته د نږدې کېدو لپاره يې د هغوی په نامه قرباني کوله ... او داسې نور.

له دې سره سره داسې کسان هم په کې وو، چې په ابراهيمي دين ټينګ ولاړ وو، لکه قس بن ساعده الايادي، چې خلک يې توحيد، د اللهﷻ عبادت او د بت لمانځنې پرېښودو ته رابلل او له مرګ وروسته ژوند باندې يې عقيده لرله او د حضرت محمدﷺ د بعثت او ځرګندېدو زېری يې ورکاوه.

## ۲_ سیاسي حالت

د عربو د ټاپو سیاسي حالت ګډ وډ و او د پاچاهانو، امیرانو او قبیلوي مشرانو ترمنځ وېشل شوی و او سیاسي استقلال يې نه درلود. قبیلوي نظام پرې واکمن و، چې د فرد او ټولنې ترمنځ يې اړیکې تنظیمولې. د هغوی حقوق او مسؤولیتونه يې د قبیلوي پیوستون پر بنسټ ټاکل.

خلکو په قبیلوي شخړو، توکمیزو اختلافاتو او مذهبي تعصباتو کې شپې سبا کولې، خو په حجاز کې یو بل ډول وضعیت واکمن و، عربانو د حجاز حکومت ته په درنه سترګه کتل، ځکه چې دیني چارې يې په واک کې وې. د حرم ساتونکي او د ابراهیمي شریعت پلي کوونکي وو، خو دغه حکومت چې شورايي نظام يې درلود ، بې وسې و او خپلې دندې او مسؤولیتونه يې په ښه شان نشو پرمخ بېولی.

### فعالیت

په داسې حال کې چې بتان بې ساه څیزونه دي، تردې چې له ځان څخه دفاع هم نشي کولای، نو څه لامل ده چې انسان بت لمانځنې ته مخه کوي.

## ۳_ ټولنیز حالت

په عربي ټولنه کې بېلا بېلې ټولنیزې طبقې وې، یو اشرافي سړي له خپلې ماندینې سره خورا پرمختللې اړیکې درلودلې او د ارادې آزادي يې درلوده. د عزت ژوند يې کاوه او له ښځې څخه د دفاع لپاره به تورې له تیکو څخه رابهر کېدې، له دې ټولو سره سره نارینه د کورنی مشر و، خو د غیر اشرافي طبقو په منځ کې بیا ښځې د هر ډول تیري او تجاوز ښکار وې. یوه سړي له ډېرو ښځو سره نکاح کولای شوه، بدلمني په کې دود وه. د عربو ځینو قبیلو خپلې لوڼې د شرم، ننګ او یا د نفقې له وېرې ژوندۍ خښولې.

لنډه دا چې له بعثت وړاندې د عربانو ټولنیزحالت ډېر خراب و، له زغم څخه وتلې بد اخلاقي په کې دود وې. خلکو د څارویو په څېر ژوند کاوه. کله ناکله به يې ښځې پلورلې او پېرودلې او د مال او متاع په څېر به ورسره چلن کېده.

### ۴_ اقتصادي حالت

په جزیرة العرب کې په دې خاطر چې ډېرې برخې یې وچې او پراخې دښتې وې، زراعت نه و، همدا رنګه سوداګري، چې د عربو د ژوند د اړتیاوو د ترلاسه کولو ستره وسیله وه، د امینت د نشتوالي له کبله چې د سوداګرۍ د ودې لپاره ډېر اړین و، یوازې د حرام په میاشتو (رجب، شوال، ذی العقده، ذی الحجة) کې تر سره کیده. عربانو یوازې په همدې میاشتو کې له شوکو او غلا څخه ډډه کوله، خو د صنعت په ډګر کې عربان تر نورو ملتونو خورا وروسته پاتې وو. یوازې د پوستکو جوړونې د صنعت ترڅنګ ځینو عربي ښځو ټوکران هم اوبدل.

په دښتو کې د اوښانو او پسونو څرول ډېر دود و، له همدې کبله عربي قبیلې د واښو او څړ ځایونو په لټه کې تل ګرځندې وې.

### ۵_ اخلاقي حالت

د اخلاقو له مخې ګڼ شمېر عربانو خورا پرېوتلی حالت درلود. د شرابو څښل، قمار وهل، لوټ مار، غلا، لارنیونه، تعصب، ظلم، وژنه، غچ اخیستنه، د مالونو غصبول، سود خوړل، زنا ... او نور اخلاقي مفاسد پکې په لویه پیمانه موجود وو. باید ووایو، چې ځینې سپېڅلي خویونه او صفات چې محمدي رسالت ته د غاړې ایښودلو وړتیا یې لرله هم په کې وو، لکه هوښیاري، سخاوت، زړورتیا، نارینتوب، آزادي خوښول، وفا، سپینا وی، صداقت، صبر، قناعت، شرافت، عفو او تېرېدنه او د ګاونډیتوب ساتنه.

### فعالیت

کر کیله د انسان د ژوند لپاره ډېره اړینه ده، نو عربانو ولې په دې ډګر کې هلې ځلې ونه کړې او د کرنې له پلوه وروسته پاتې وو؟ کومو شیانو ته کرنیز وسایل ویل کېږي؟

## ارزونه

**الف:** لاندنی پوښتنې ځواب کړئ.

۱- بت لمانځنه چا په عربو کې دود کړه؟

۲- د حضرت محمدﷺ تر بعثت مخکې پر عربانو څه ډول نظام واکمن و؟

۳- په عربو کې ښځو څه مقام درلود؟

٤- ولې ځینو عربي قبیلو خپلې لوڼې ژوندۍ خښولې؟

**ب:** د سمو جملو مخې ته (✓) نښه او د ناسمو جملو پر وړاندې (✗) نښه کېږدئ:

۱- مشرکینو په دې باور د بتانو عبادت کاوه، چې بتان د دوی پیدا کوونکي دي. (      )

۲- جزیرة العرب یوه ښېرازه ځمکه ده. ( )

۳- عربانو د اخلاقي انحطاط ترڅنګ ښه خوبونه هم درلودل. ( )

٤- عربانو په (اشهرالحرام) کې له جګړې، شوکې او غلا څخه ډډه کوله. ( )

## کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د ابراهیم ﷷ د بتانو د ماتولو کیسه د خپل ملا امام څخه وپوښتي او خپلو کتابچو کې دې ولیکي.

پنځم لوست

# له زیږېدو مخکې مهمې پېښې

مخکې له دې چې د حضرت محمدﷺ بختور میلاد بیان کړو، اړینه بریښي، چې د هغو سترو پېښو یادونه وشي، چې د هغه له نېکمرغه ولادت وړاندې رامنځته شوې او بشریت ته یې د روڼ او له برکت څخه د ډک سهار راختلو زېرى ورکاوه.

(د زمزم د څاه یو انځور)



## ۱_ د زمزم څاه کیندل

د زمزم اوبو د څرګندېدلو تاریخ د حضرت محمدﷺ له ولادت څخه څو پېړۍ وړاندې ښودل شوی دی. هغه مهال چې حضرت ابراهیم‌علیه‌السلام د الله ﷻ په امر حضرت اسماعیل‌علیه‌السلام او مور یې هاجره بي بي له فلسطین څخه مکې ته راوستل او دواړه یې له لږو اوبو او کجورو سره د الله ﷻ د کور په څنګ مکه کې پرېښودل او خپله بېرته ستون شو، مکه یوه وچه او بې ګیاه ځمکه وه. له هاجرې او زوی سره یې شته اوبه خلاصې شوې او دواړه تږي شول. هاجره د صفا غونډۍ ته لاړه او هلته په دې طمعه ودرېده چې که څوک ووینې، خو ویې نه لیدل، بیا د مروه غونډۍ په لوري وځغاسته، تر څو وکولای شي چې څوک ووینې، خو بیا یې هم ونه لیدل. په همدې ترتیب او وه ځله د صفا او مروه ترمنځ لاړه او راغله، ترڅو چې په اووم ځل یې غږ تر غوږو شو. ګوري چې یوه پرښته په خپلو وزرونو ځمکه وهي، ناڅاپه اوبه ښکاره شوې،بي بي هاجرې او زوی یې له دغو اوبو څخه وڅښلې.

په همدغو ورځو کې د (جُرهُم) قبیلې په نوم قبیله له یمن څخه مکې ته راغله او ډېر کلونه هلته مېشت شول، خو یو وخت د بنو جرهم او خزاعة قبیلو تر منځ جګړه وشوه او د جګړې په ترڅ کی بنو جرهم له مکې مکرمې څخه وتلو ته اړ شول، نو د حسد له مخې یې څاه ډکه کړه، تورې، د هوسیو مجسمې او جنګي زغرې او نور شیان یې هم په کې ښخ کړل. په دې ترتیب د زمزم د څاه اوبه وچې او ځای یې ورک شو، هېچا ته معلوم نه و، تر څو چې عبد المطلب ته په خوب کې وښودل شو.

## فعالیت

ګرانو زده کوونکو د صفا او مروه ترمنځ د بي بي هاجرې تګ راتګ، د امهال په اسلام کې څه حکم لري؟ دغه مطلب د حج په مناسکو کې ولټوئ.

## د عبدالمطلب خوب

د حضرت محمدﷺ د نیکه عبدالمطلب په واسطه د زمزم د څاه کیندلو کیسه داسې ده:

عبدالمطلب وایي: زه په حجر اسماعیل (حطیم شریف)کې ویده وم. ناڅاپه یو څوک راغی او راته یې وویل: طیبه وکینه!

ما وویل: طیبه څه شی دی؟ رانه لرې شو، عبدالمطلب پرله پسې درې شپې دغه خوب په حجر کې ولید، چې هماغه سړي ورته په بېلا بېلو الفاظو ویل : وکینه!

او عبدالمطلب به هر ځل ورڅخه پوښتل، چې هغه څه شی دی؟ نوموړی سړی به له ځواب ویلو پرته ورڅخه ستون شو ، تر دې چې په څلورم ځل یې وویل: زمزم وکینه! عبدالمطلب وپوښت: زمزم څه شی دی؟ وې ویل: هاغه کوهی دی چې اوبه یې نه کمېږي او نه وچېږي.

بیا هماغه سړي په دقیقه توګه د زمزم د څا ځای عبدالمطلب ته وښود او وې ویل: د کعبې په زیارت کوونکو یې څښه، کله چې عبدالمطلب د زمزم د اوبو د مرتبې او ځای په هکله د هغه سړي څرګندونې واورېدې، نو باوري شو، چې خوب یې رښتینی دی. سهار یې د څا په کیندلو کې له خلکو څخه مرسته وغوښته، خو چا ورسره مرسته ونه کړه، نو د خپل زوی حارث په ملګرتیا د هغه ځای کیندل پیل کړل. له څاه څخه یې تورې، زغرې او دوه له سرو زرو جوړې شوې هوسۍ ، چې جرهمیانو د مکې د پرېښودلو پر مهال خښې کړې وې، راووېستلې.

عبدالمطلب تورې سره ونښلولې او د بیت الله لپاره یې ترې ور جوړ کړ. همدارنګه د سرو زرو له

هوسی‌ګانو څخه یې طلایي پاڼې جوړې کړې او د بیت الله په لویه دروازه یې ټک وهلې. حاجیانو ته یې د زمزم اوبو ورکولو دنده پر خپله غاړه واخیسته، کله چې د زمزم څا ښکاره شوه، عبدالمطلب په لوړ آواز ((الله اکبر)) وویل. قریش ورته راغلل او ویې ویل: دا زموږ د پلار اسماعیل عليه السلام څا ده او موږ پکې حق لرو. عبدالمطلب وویل: دا نشم منلی. زه د دې کار لپاره ټاکل شوی یم. په دغه وخت کې عبدالمطلب نذر ومانه چې که الله تعالی هغه ته لس زامن ورکړل او هغوی داسې عمر ته ورسېږي چې له ده څخه ملاتړ وکړای شي، نو یو تن به د کعبې په نامه قربانوي.

## فعالیت

د زمزم د څاه په هکله د عبدالمطلب څلور څله خوب لیدل څه معنا لري؟

قریشو ولې له عبدالمطلب سره دعوه کوله، سره له دې چې کوهی یې یوازې کیندلی و او دوی ورسره مرسته هم نه وه کړې؟

## ارزونه

**الف**: لاندنی پوښتنې ځواب کړئ:

۱- هاجر او اسماعیل عليه السلام له کوم ځایه مکې ته راغلل؟

۲- ولې د زمزم اوبه وچې او څاه یې ډکه شوه او کوم شیان پکې ښخ وو؟

**ب**: تش ځایونه په مناسبو کلمو ډک کړئ

۱- هاجرې د ........................ ترمنځ او وه ځلې تګ راتګ وکړ.

۲- په اووم ځل یې غږ واورېده، ګورې چې ................ په خپلو وزرونو ځمکه وهي.

۳- په همدې ورځو کې یوه قبیله د ............... په نوم له ................... مکې ته راغله.

# د اصحاب الفیل پېښه

کله چې په یمن کې د نجاشي (د حبشي د امپراتور) والي ابرهه دا ولیدل، چې عربان د حج په موخه د کعبې زیارت ته ځي، نو په صنعا کې یې یو لوی معبد جوړ کړ، ترڅو له کعبې څخه دخلکو پاملرنه دې معبد ته راواړوي. د کنانه قبیلې یو سړی د ده له هوډ څخه خبر شو. په شپه کې معبد ته ورغی او دغه ودانۍ یې په پلیتۍ ولړله. ابرهه په دې کار غوسه شو او له (٦٠٠٠٠) سرتېرو سره د کعبې د ورانولو په موخه د حجاز په لور وخوځېده. لس یا څوارلس فیلان هم ورسره وو او د ځان لپاره یې تر ټولو غټ فیل غوره کړ. ابرهه یو سړی مکې ته واستاوه او ورته و یې ویل: لاړ شه د مکې مشر پیدا او ډاډ ورکړه، چې جګړې ته نه یو راغلي ، بلکې غواړو دغه کور وران کړو او بېرته ولاړ شو.

د ابرهه استازي دا پیغام عبدالمطلب ته ورساوه. عبدالمطلب وویل: مونږ د جګړې وس نه لرو او د خدای جَلَّ جَلَالُهُ کور ته یې د راتللو مخه نه شو نیولای. مکه خپل خدای لري، هغه به یې وساتي. موږ بل کوم څواک نه لرو، د ابرهه استازي عبدالمطلب هم له ځان سره ابرهه ته ورووست.



**فعالیت**

په دې دوو څېزونو (حسد او معبد پلیتولو) کې کوم یو د دې لامل شو، چې ابرهه د کعبې د ورانولو اراده وکړه؟

### له ابرهه سره د عبدالمطلب خبرې

عبدالمطلب یو غښتلی او ښایسته سړی و. په لیدو یې ابرهه د هغه درناوی وکړ. عبدالمطلب ابرهه ته وویل: ای پاچا! تا زما دوه سوه اوښان اخیستي او هغه راکړه، ابرهه وویل: په لیدو دې ډېر خوښ

شوم، خو پردې خبره مې په سترګو ښه نه لګېږي، عبدالمطلب وویل: ولې؟ ویې ویل: زه د هغې کوټې د ورانولو په موخه راغلی یم، چې ستا او ستا د پلرونو دین ورپورې تړلی او ته د هغې په هکله څه نه وایې او د خپلو دوه سوو اوښانو د بېولو خبرې کوې!

عبدالمطلب وویل: زه د خپلو اوښانو څښتن یم او دا کوټه څانته څښتن لري، چې ساتنه به یې کوي. ابرهه وویل: هغه ما نشي منع کولی. عبدالمطلب وویل: ته پوهېږې او هغه!

ابرهه امر وکړ چې اوښان یې ورکړئ. عبدالمطلب له خپلواوښانو سره مکې ته په ستنېدلو قریش له موضوع څخه خبر کړل او ورڅخه یې وغوښتل چې لرې درو او غرونو ته پناه یوسي.

ابرهه خپل ځواکونه منظم کړل او کعبې ته د ورتګ لپاره تیار شول. کله چې ابرهه له خپل لښکر سره د ((مُحسر)) خوړ ته چې د مزدلفې او منٰی په منځ کې پروت دی، ورسېدل، غټ فیل په ګونډو شو او د کعبې په لور له وړاندې تګ څخه یې انکار وکړ،کله به چې یې مخه بل لور ته واړول شوه ګړندی به ځغاست، خو کله به یې چې مخ کعبې ته واړول شو، په ګونډو به شو.

## د ابرهه پر عسکرو د عذاب نازلېدل

الله جَلَّ جَلَالُهُ ډلې ډلې الوتونکي مرغان واستول، ترڅو د ابرهه لښکر د سجیل تر کاڼو لاندې راولي او ویې ټکوي چې حکایت یې د فیل په سورت کې راغلی دی.

دا الوتونکي د توتکۍ په څېر وو، چې هر یو یې د نخود په اندازه درې کاڼي له ځان سره وړل، یو کاڼی یې په مښوکه او دوه یې په پنجو کې نیولی و، هر چا ته به چې دغه کاڼی ورسېد، اندامونه به یې ټوټه ټوټه شول او هلاک به شو، خو الله جَلَّ جَلَالُهُ ابرهه په داسې ناروغۍ اخته کړ، چې ګوتې یې توی شوې. صنعا ته په رسېدلو د چرګوړي په څېر شوی و، په پای کې یې زړه له سینې راووت او مړ شو.



## فعالیت

گرانو زده کوونکو د ورو الوتونکو په واسطه د دومره لوی او ځواکمن لښکر په ماتولو او له منځه وړلو کې د الله جل جلاله څه حکمت پروت دی؟ او ولې یې ستر مخلوقات د دوی د هلاکت لپاره راونه لېږل؟

دا پېښه د محرم په میاشت کې د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم له ولادت څخه پنځوس یا پنځه پنځوس ورځې وړاندې، چې د ۵۷۰ میلادي کال د فبروري یا مارچ د میاشتو له وروستیو سره سمون خوري، رامنځ ته شوې ده. د فیل حادثه یوه کرامت و، چې الله جل جلاله حضرت محمد صلی الله علیه وسلم او د هغه کورنی ته ډالۍ کړې وه.

د فیل د پېښې خبر لرې پرتو سیموته ورسېد. په همدې ترتیب د فیل پېښې د نړیوالو پام کعبې ته راواړاوه، هغوی یې د الله جل جلاله د کور عظمت او مرتبې ته ځیر کړل او ثابته یې کړه، چې الله جل جلاله دغه کور د خپل عبادت لپاره ټاکلی او د وروستي پیغمبر صلی الله علیه وسلم د امت لپاره به تر قیامته قبله وي.

## له دې پېښې څخه زده کړې

- د اصحاب فیل پېښه له مکې او عربو سره د نصاراوو کینه او حسد څرګندوي.
- له ابرهه سره د عبدالمطلب خبرې د خدایﷻ او د هغه د کور د دښمنانو تر منځ د جګړې دحقیقت څرګندوی دی.
- دغه کیسه کعبې شریفې ته د خلکو د احترام او تعظیم څرګندونه کوی.
- د فیل د خاوندانو حکایت د حضرت محمدﷺ د نبوت له دلایلو او نښو څخه شمېرل کېږي.
- اللهﷻ د خپلې کوټې (بیت الله )حافظ او ساتندوی دی.

## ارزونه

۱- ابرهه څوک و؟ او ولې یې پر مکې یرغل وکړ؟

۲- د ابرهه فیل په کوم ځای کې په ګونډو شو؟

۳- د فیل واقعه کله پېښه شوه؟

٤- ابرهه او لښکر یې مکې ته نږدې له څه ډول برخلیک سره مخ شول؟

## کورنۍ دنده

زده کوونکي دې په لنډه توګه د اصحاب الفیل د هلاکت څرنګوالی په خپلو کتابچو کې ولیکي.

## اووم لوست

# د رسول اللهﷺ نسب

د نسب له مخې حضرت محمدﷺ په خلکو کې خورا شریف او د اخلاقو له پلوه تر ټولو سپېڅلی و، د نسب لړۍ یې داسې ده:

محمد بن عبدالله بن عبدالمطلب بن هاشم بن عبدمناف په یوویشتم پلار کې عدنان ته رسېږي او عدنان د اسماعیل علیه السلام اولاد و. په همدې ډول د حضرت محمدﷺ د نسب لړۍ حضرت اسماعیل او له هغه نه حضرت ابراهیم علیهما السلام ته رسېږي.

رسول اللهﷺ د خپل نسب په اړه فرمایي:

الله جل جلاله د اسماعیل علیه السلام له اولادې کنانه او له کنانه وو څخه قریش او له قریشو څخه بني هاشم او له بني هاشمو څخه زه غوره کړم، نو حضرت محمدﷺ د غوره شوو غوره دی.

د نسب شرف او عزت طبعاً پر زړونو اغېز لري او خلک عادتاً هغه لارښوود غوره کوي چې عالي نسب ولري، د پیغمبرۍ په بنه وي او که د پاچاهۍ او هغه څوک نه مني او نه یې تر بیرغ لاندې درېږي چې ټیټ نسب لري، دا چې الله جل جلاله غوښتل تر څو حضرت محمدﷺ د نبوت او پیغمبرۍ د درانده مسؤولیت پر غاړه اخیستلو ته وروزي، نو عالي نسب یې ورکړ، ترڅو تر څنګ یې د خلکو په راټولېدلو کې ورسره مرسته شوې وي.

### فعالیت

ګرانو زده کوونکو! د حضرت محمدﷺ نسب ته په کتلو ووایئ، چې محمدﷺ د عربو له کومې ډلې (بایده، عاربه، مستعربه) څخه شمېرل کېږي؟

## د حضرت محمدﷺ مور او پلار

دعبدالمطلب په زمانو کې عبدالله پر خپل پلار ډیرگران و. کله چې قریشو له عبدالمطلب سره د زمزم د اوبو پر سر دعوه وکړه، عبدالمطلب پر ځان نذر کېښود، چې که الله ﷻ ورته لس زامن ورکړل،نو یو به یې د الله ﷻ په نامه قرباني کوي. کله چې عبدالمطلب د لسو یا له لسو زیاتو زامنو پلار شو، په خپلو زامنو کې یې پچه واچوله چې د عبدالله په نامه وختله. عبدالمطلب بیا د عبدالله او لسو اوښانو تر منځ پچه واچوله چې د عبدالله په نامه وختله، بیا یې د عبدالله او شلو اوښانو تر منځ پچه واچوله، دا ځل هم پچه د عبدالله په نامه وختله. په همدې ترتیب یې لس لس اوښان زیاتول، تر دې چې خبره سلو اوښانو ته ورسېده، کله چې یې د سلو اوښانو او عبدالله تر منځ پچه واچوله، دا ځل د سلو اوښانو په نامه پچه راووتله، نو عبدالمطلب سل اوښان د خپل خوږ زوی عبدالله په بدل کې حلال کړل او بیا یې د مکې له ښځو څخه د نسب او اخلاقو له مخې غوره ښځه هغه ته په نکاح کړه، چې آمنه بنت وهب نومېده او په څلورم پلار کې د عبدالله د نسب لړۍ ته رسېدله، څه وخت لا تېر شوی نه و، چې عبدالله د شام له سفر څخه د راستنېدلو پر مهال په یثرب (مدینه منوره) کې د پنځه ویشتو کلونو په عمر مړ او هماغلته خاورو ته وسپارل شو.

## حضرت محمدﷺ یتیم نړۍ ته راغی

کله چې عبدالله مړ شو، آمنه حامله وه او د دواړو جهانو سردار یې په گېډه و، د مرگ له خبر اورېدلو سره سم آمنې د ده په ماتم کې ډېره اغیزمنه مرثیه ولوستله.

له مړینې وروسته د عبدالله ټوله شتمني پنځه اوښان، یوه رمه مېږې او د (بَرَکه) په نوم یوه حبشي وینزه وه چې په ((ام ایمن)) سره هم یادېدله، پیغمبر ؑ به ورته د مور خطاب کاوه، ځکه چې د هغه ؑ په پالنه کې یې له پیل څخه لوی لاس درلود.

## فعالیت

ګرانو زده کوونکو! د عبدالله د حلالولو او یا د سلو اوښانو قرباني کولو تر منځ پچه اچول څه معنا افاده کوي؟ په دې اړه خپل نظر بیان کړئ.

له آمنې سره د عبدالله نکاح د حضرت محمدﷺ د میلاد او پیغمبرۍ پیل نه و، ځکه له رسول اللهﷺ څخه وپوښتل شول: ((ستاسې د پیغمبرۍ کار له کوم ځایه پیل شو؟ ویې فرمایل(زما د پلار ابراهیم علیه السلام له دعا، د عیسٰی علیه السلام له زیري او زما د مور له خوبه چې لیدلی یې و،هغه داچې له بدن څخه یې داسې رڼایي ځلیدلې وه، چې د شام ماڼۍ ور څخه روښانه شوې وې)

ډېر پوهان په دې اند دي، چې آمنې دغه نور د خپل حمل د زېږون پر مهال لیدلی و. د آمنې له وجود څخه د نور ځلېدل دې خبرې ته څرګنده اشاره ده، چې دغه نوی مبارک ماشوم به له ځان سره داسې ځلاند نور راوړي، چې د ځمکې پر مخ به ټولو خلکو ته د هدایت او د اسلام رڼا وړاندې شي.

## له لوست څخه زده کړې

- د پلار او مور د نسب له مخې آنحضرتﷺ تر ټولو خلکو خورا شریف و.
- محمد رسول اللهﷺ د عدناني یعني مستعربه عربو له نسل څخه و.
- د قریشو د شرافت ثابتېدل او دا چې حضرت محمدﷺ د آدم په اولاده کې غوره دی.
- اوچت نسب د لاربښود د کارونو پرمختګ آسانه کوي او ټولو ته یې د منلو وړ ګرځوي.
- د حضرت محمدﷺ میلاد په حقیقت کې هغه ځلاند نور و، چې نړۍ یې په وړانګو رڼا شوه، دا هماغه د آمنې خوب و، چې په رښتیا یې تحقق وموند.

## ارزونه

**الف**: لاندنۍ پوښتنې ځواب کړئ:

۱- د حضرت محمدﷺ او عدنان ترمنځ څو پلاره وو؟

۲- عبدالمطلب ولې د یو زوی د قربانولو نذر پر ځان ومانه او څنګه یې پرې وفا وکړه؟

۳- د رسول اللهﷺ پلار چېرته مړ او د مړینې پرمهال څو کلن و؟

٤- برکه یا ام ایمن څوک وه؟

**ب**: لاندې نیمګړې جملې په مناسبو کلمو بشپړې کړئ:

۱- عبدالمطلب منلې وه چې که الله تعالی ورته ........ ورکړي، یو به یې د الله په نوم قربانوي.

۲- برکه د پیغمبر په پالنه کې له پیل څخه ............ لاس درلود.

۳- له مړینې وروسته د عبدالله ټوله شتمنې پنځه اوښان یوه .......... یوه حبشې ......... وه.

٤- کله چې د عبدالله د مړینې خبر مکې ته راغی، آمنې د هغه په ماتم کې اغېزمنه ............ زمزمه کړه.

## کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د حضرت محمدﷺ د نسب د شرافت په اړه یو مخ مقاله په خپلو کتابچو کې ولیکي.

## اتم لوست

# د رسول اللهﷺ میلاد او نوم اېښودنه

له دې ورانديې مو د حضرت محمدﷺ د نسبي لړۍ په اړه اړين معلومات ترلاسه کړل. همدارنګه د دې نېکمرغه میلاد پېلامو ته اشاره وشوه، لکه د ابراهیمؑ دعا او د عیسٰیؑ زېری، د آمنې بي بي خوب، د زمزم څاکېندل، د اصحاب فیل پېښه، په دې لوست کې به پوه شو، چې د آنحضرتﷺ مبارک میلاد څنګه ترسره شو؟

## د میلاد نېټه

سیدالمرسلین، حضرت محمدﷺ د عام الفیل (هغه کال چې له یمن څخه د نجاشي پاچا والي ابرهه د فیلانو او پرېمانه لښکر سره د کعبې شریفې د ورانولو تکل وکړ) د ربیع الاول په دولسمه نېټه د دوشنبې پر سهار چې د (۵۷۰) میلادي کال د اپریل له(۲۰) سره یې سمون درلود. د عبدالمطلب په کور کې نړۍ ته سترګې پرانستې. دغه ورځ د نړۍ او بشریت په تاریخ کې یوه خورا بختوره ورځ وه، د پیغمبرﷺ مور بي بي أمنه دهغه د ولادت څرنګوالی داسې بیانوي: د زېږون پرمهال زما له بدن څخه داسې نور وځلېد، چې په وړانګو سره یې د شام ماڼۍ روښانه شوې.




د نبي کریمﷺ د کور ځای چې اوس مهال کتابتون په کې جوړ شوی دی

طبري او بيهقي په خپلو تاريخونو کې ليکلي چې د حضرت محمد د ميلاد پر مهال په نړۍ کې خارق العاده پېښې رامنځته شوې، چې په حقيقت کې يو ستر بدلون ته اشاره وه، لکه د ايران د (خسرو نوشيروان) د ماڼۍ د څوارلسو برجونو نړېدل، د زردشتيانو د اور د بتې سړېدل او د ساوه د سيند د وچېدو له امله د شاوخوا معبدونو ورانېدل.

### فعاليت

د آنحضرتﷺ د ولادت پرمهال په نړۍ کې د خارق العاده واقعو پېښېدل، په څه دلالت کوي؟ په دې هکله دې زده کوونکي نظر ورکړي.

## نوم اېښودنه

کله چې حضرت محمدﷺ وزېږېد، آمنې عبدالمطلب ته د نوي زېږېدلي لمسي زېرى ورکړ. عبدالمطلب راغى او په ليدلو يې خورا خوشحاله شو. له ځان سره يې کعبې ته يووړ. د اللهﷻ شکر يې پرځاى او دعا يې وکړه او د محمد ﷺ په نوم يې چې په عربانو کې خورا نا آشنا و، ونوماوه، ځکه عربانو په خپلو زامنو داسې نومونه اېښودل، چې معنا به يې سختي، کرکه او قهر و، لکه حرب، صخر، مُرّه، اسد او داسې نور. که څه هم دغه نوم (محمد) ﷺ په عربو کې ناپېژندل شوى او نادر و، خو اللهﷻ دا ډېر ښه نوم عبدالمطلب ته الهام کړ، چې معنا يې ده، ستايل شوى. يقيناً يوازې اللهﷻ پوهېږي، چې خپل د رسالت درووند پېټى د چا په اوږو کېږدي. عبدالمطلب د عربو له دود سره سم حضرت محمدﷺ د ولادت په اوومه ورځ سنت کړ.

## فعالیت

ګرانو زده کوونکو! د بي بي آمنې له دې وینا څخه چې ((د زېږون پر مهال زما له بدن څخه داسې نور وځلېد، چې په ورانګو سره یې د شام ماڼۍ روښانه شوې)) څه اخیستنه کوئ؟ ولې عبدالمطب د (معمول پرخلاف) خپل لمسي ته نا آشنا نوم غوره کړ؟

## له لوست څخه زده کړې

• د آنحضرتﷺ د نبوت او د شان د لوړوالي نښې د هغهﷺ د ولادت له لومړنیو شیبو څخه ښکاره شوې وې.

• په (محمد) سره د محمد ﷺ نومول ستر کار او د یو فوق العاده ولادت نښه ده.

• د ماشومانو سنتول د ابراهیمعليه السلام له سنتو څخه دی، چې له اسلام وړاندې هم په عربو کې مراعات کېده.

## ارزونه

**الف**: لاندنۍ پوښتنې ځواب کړئ:

۱. د حضرت محمدﷺ پیدایښت له کومې قمري میاشتې او کوم میلادي کال سره سمون لري؟

۲. رسول اللهﷺ چېرته دنیا ته راغی؟

۳. ولې عبدالمطلب خپل لمسی په نا آشنا نوم ونوماوه؟

۴. د رسول الله ﷺ مور (بی بی آمنې) د هغه د ولادت پرمهال څه ولیدل؟

**ب**: لاندې نيمګړې جملې په مناسبو کلمو سره بشپړې کړئ:

۱_ د هغو له جملې څخه د ................. څوارلس کنګرې ونړېدې.

۲_ د .............. د شاوخوا معبدونه وران شول.

۳_ الله ﷻ عبدالمطلب ته خورا ښه نوم.......................کړ.

٤_ حضرت محمدﷺ يې په اوومه ورځ ..................کړ.

## کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د آنحضرت ﷺ د ولادت د نېټې تر څنګ ټولې هغه خارق العاده پېښې وليکي چې په نړۍ کې د دغه مبارك ولادت پرمهال پېښې شوې وې.

## نهم لوست

# د شیدو خوړلو (رضاعت) موده

په تېر لوست کې مو د آنحضرتﷺ د ولادت نېټه وپېژندله، همداشان وپوهېدئ، چې له دغه مبارك ميلاد سره سم په نړۍ كې ځينې خارق العاده پېښې منځته راغلې، چې پر يو ستر بدلون يې دلالت كاوه، په دې لوست كې به د دې بختور مولود د ژوند له بهير سره آشنا شو.

**د رسول اللهﷺ رضاعي ميندې**

لومړنۍ ښځه چې رسول اللهﷺ ته يې دخپلې اصلي مور له شيدو وركولو څخه يوه اوونۍ وروسته تې وركړې، د ابولهب وينزه (ثوبيه) وه، چې له دې ورانديې يې د آنحضرتﷺ تره، حمزهؓ او ابوسلمه د عبدالاسد المخزومي زوى ته هم شېدې وركړې وې.

د عربو دا دود و، چې په ښارونو كې له شته ناروغيو څخه د اولادونو د سلامتۍ او د كوچنيانو د روحي او جسمي ودې او ښيرازۍ او د فصيحې عربي ژبې د زده كړې په موخه يې خپل ماشومان په كليو او بانډو كې ميشتو ښځو ته د رضاعت (تي وركولو) لپاره سپارل. د بني سعد ښځو په فصاحت او د ماشومانو په ښه پالنه كې نوم درلود. عبدالمطلب له دود سره سم د آنحضرتﷺ لپاره د همداسې يوې دايې په لټه كې و، چې دا سعادت د ابي ذؤيب د لور، حليمې په نصيب شو، چې د هوازن د سترې قبيلې بني سعد پورې يې اړه درلوده.

### فعاليت

زده كوونكي دې د ماشومانو په روزنه كې د دښتې او صحرا د اغېز په هكله خپل نظرونه څرګند كړي.

### حضرت محمد صلى الله عليه وسلم د بني سعد په قبيله كې

حليمې د حضرت محمدﷺ د رضاعت له پر غاړه اخيستلو وروسته ډېر خير او بركت ترلاسه كړ،

چې دا په خپله ډېره حیرانه وه، د دې مطلب تفصیل د حلیمې له ژبې څخه بیانوو.

هغه وایي: د خپل خاوند (حارث بن عبدالعزی) په ملتیا د بني سعد قبیلې له یو شمېر ښځو سره د کوم نوي زېږېدلي ماشوم په لټه کې ووتلم. دا هغه کال و، چې وچکالی او قحطی هېڅ هم نه وو راپرېښې. یوه زړه اوښه مو لرله. په خدای ﷻ قسم چې یو څاڅکی شېدې یې نه کولې.، د خپل ماشوم له لاسه چې له لوږې به یې ټوله شپه ژړل، نه شوای ویده کېدلای. په تیو کې مې شېدې نه وې، په خپلې سپینې خرې چې تېپي هم وه، سپره شوم، د ډنګروالي اوکمزورۍ له کبله دومره ورو تلله چې ملګري مې ستومانه شول. مکې ته ورسېدو او د ماشومانو په پوښتنه سر شوو.

محمد (د خدای ﷻ رسول) یې ټولو ښځو ته وړاندې کړ، خو د یتیموالي له امله یوې هم ورته زړه ښه نه کړ، ځکه هرې ښځې د ماشوم له پلار څخه د احسان طمعه لرله، له ځان سره به مو وویل: چې یتیم دی مور او نیکه به یې له موږ سره څه مرسته وکړي؟ له ما پرته ټولو ملګرو مې تي رودونکي ماشومان ترلاسه کړل. کله مو چې د بېرته تللو اراده وکړه، خاوند ته مې وویل: نه مې خوښېږي چې بې له ماشومه د ملګرو په ډله کې ستنه شم. والله چې هماغه یتیم را اخلم، ویې ویل: ښه ده، کېدای شي الله جلت عظمته د هغه په وسیله څه برکت راکړي.

حلیمه وایي: کله مې چې هغه راواخیست او خپل هستوګنځي ته راغلم. تیونه مې له شیدو ډک شول، هغه وڅښلې او موړ شو. خپل زوی مې هم موړ شو او همدا شان زموږ د اوښې تیونه چې یو څاڅکی شیدې یې نه لرلې، له شیدو ډک شول. له خاوند سره مې د هغې شیدې وڅښلې. خاوند مې وویل: حلیمې آیا پوهېږې؟ خورا برکتي هلک مو په نصیب شوی دی. په دې شپه آرام او ماړه ویده شوو. له دې وړاندې مو د خپل ماشوم له ژړا خوب نه درلود. سهار له نوي ماشوم سره پر خپلې خرې سپره شوم په خدای ﷻ قسم داسې له خپلو ملګرو څخه مخکې شوم، چې هېڅ خرې ورسره سیالي نشوای کولای. د بني سعد دښتې ته ورسېدو، چې سختې وچ کالی او قحطی ځپلې وه. پسونه به مې له څرځایه ماړه او له شېدو ډک راتلل. په داسې حال چې د بل هېڅ حیوان په تیو کې به شیدې نه وې، شپانه به رټل کېدل او ورته ویل کېدل، تاسې هم هغه ځای ته مېږې بوځئ، چې د حلیمې شپون یې بیایي، خو بیا یې هم مېږو یو څاڅکی شیدې نه لرلې، په همدې ترتیب د الله ﷻ له لوري ورځ په ورځ خیر او برکت پر موږ زیاتېده، تر دې چې آنحضرت

دوه کلن شو او هغه مې له تې څخه بېل کړ، په همدې مودې کې آنحضرتﷺ هم فوق العاده وده کړې وه.

لنډه دا چې هغهﷺ مو خپلې مور ته ور وست، خو ډېر لېواله وو چې له مور سره پاتې شي، ځکه مور یې په پرلپسې ډول برکتونه لیدل. څو ځله مو غوښتنه وکړه، چې مور یې خپل زوی تر یوې مودې پورې له مور سره پرېږدي. په پای کې یې ومنله او ماشوم مو له ځان سره یو ځای بېرته خپلې بانډې ته راوست.

## د شق الصدر پېښه

بني سعد بانډې ته د آنحضرت له بېرته را تللو وروسته د راجح قول پر بنسټ د هغه د میلاد په څلورم کال د شق الصدر (دسینې څیرولو) واقعه پېښه شوه، حلیمه وایي: آنحضرتﷺ او (رضاعي) ورور یې د کورونو شا ته په لوبو بوخت وو، چې ورور یې په منډه راغی او راته یې وویل: دوه کسان چې سپینې جامې یې په تن وې زما قریشي ورور محمدﷺ ته راغلل، ویې نیوه، پر ځمکه یې څملاوه او سینه یې ورته څیرې کړه. زه او پلار یې په ځغاسته ورغلو، ومو لیده چې د آنحضرتﷺ رنګ الوتی ولاړ دی. زموږ په لیدلو یې ژړا او فریاد پیل کړ، په غېږ کې مو ونیوه او ومو ویل: مور او پلار مو درنه ځار شه پر تا څه شوي دي؟ ویې ویل: دوه کسان راغلل څېملولم، سینه یې راته څیرې کړه او دلته حضرت انس رضی الله عنه ورڅخه کیسه کوي چې زړه مې یې بیرون ته را وایست او له هغه څخه یې یوه ټوټه توره وینه را وایستله او ویې ویل دا د شیطان حصه ده بیا یې راته زړه د زمزم په اوبو ومینځه او بیرته یې هغه پخواني حالت ته را واړاوه.

حضرت انسرضي الله عنه، د رسول اللهﷺ خادم وايي: ما د رسول اللهﷺ په سینه کې د ګنډلو نښې لیدلې دي.

### فعالیت

ګرانو زده کوونکو! د رسول اللهﷺ د سینې څیرل او د زړه وینځل په کوم څیز دلالت کوي؟ په دې اړه نظر څرګند کړئ.

## د مور غېږې ته ستنېدل

حليمه وروسته د شق الصدر له پېښې څخه وډاره شوه، حضرت محمدﷺ يې خپلې مور ته وروست. حضرت محمدﷺ تر شپږ كلنۍ پورې له خپلې مور سره پاتې شو. لا زيات وخت نه و تېر شوی، چې يوې بلې غميزې پېښې د آنحضرتﷺ ژوند ولړزاوه، چې هغه يې د ګرانې مور مړينه وه.

## له لوست څخه زده کړې

• د حضرت حليمې د كورنۍ پرغړو او څارويو باندې د پېغمبر ﷺ د بركاتو څرګنديدل.

• كوم څيز چې الله ﷻ بنده ته غوره كوي، ډېرځله هغه له بركته ډك وي. په دې كيسې كې الله ﷻ د حليمې لپاره يو بې پلاره كوچنی غوره كوي چې هغه خير او بركت ورڅخه ويني.

• د نبوت له سترو نښو څخه يوه هم د شق الصدر پېښه ده، چې پكې د محمد ﷺ له ګناه څخه عصمت او د وحې نزول ته اشاره ده.

• د جسم پر روغتيا، د نفس پر سپېڅلتيا، د ماشوم پر پوهې او ذكاوت او د لهجې په فصاحت باندې د صحرايي ژوند اغېز.

### ارزونه

١. پيغمبرﷺ ته لومړنی شيدې وركوونكې دايه څه نومېده؟

٢. ولې حليمه په لومړي ځل د حضرت محمدﷺ غوره كولو ته چمتو نه وه؟

٣. كله چې حليمې، حضرت محمدﷺ يوور، په خپل ځان او خپلو څارويو كې يې څه ډول بدلون وليد؟

٤. شق الصدر څه معنا او دغه پېښه د حضرت محمدﷺ د عمر په څو كلنۍ كې رامنځته شوه؟

### كورنۍ دنده

زده كوونكي دې د شق الصدر پېښه په خپلو كتابچو كې وليكي.

## لسم لوست

# د بی بی آمنې وفات

په تېر لوست کې مو ولوستل چې د شق الصدر له پېښې وروسته حليمې سعديې، حضرت محمدﷺ بېرته مکې ته را وست، دخپلې مهربانې مور د عطوفت ترسيورې لاندې له څه مودې وروسته د عمر په شپږ کلنۍ کې زړه بوږنوونکی مصيبت ورته پېښ شو، يعنی مور يې مړه او يو ځل بيا يتيم شو.

بي بي آمنې ته خپل خاوند عبدالله ور ياد شو، هوډ يې وکړ چې مدينې ته لاړه شي او د عبدالله د قبر زيارت وکړي، نو د خپل يتيم زوی حضرت محمدﷺ او خادمې برکه (ام ايمن) او دکور د مشر عبدالمطلب په ملتيا له مکې څخه د يثرب (مدينې) په تکل وخوځېدل. هلته له يوې مياشتې تېرولو وروسته يې بېرته مکې ته د تللو قصد وکړ. د بېرته راتللو پر مهال سخته ناروغه شوه او د (ابواء) په سيمه کې يې، چې د مدينې او مکې ترمنځ پرته ده، وفات او خاورو ته وسپارله، حضرت محمدﷺ په دې مهال شپږ کلن و.

## د زړه سواندي نيکه تر سيوري لاندې

په ابواء کې د آمنې له مړينې وروسته عبدالمطلب حضرت محمدﷺ له ځان سره مکې ته راوست. د عبدالمطلب شفقت او مهرباني پر خپل يتيم لمسي، چې له نوي مصيبت سره مخ شوی و، کرار کرار زياتېدله او د خپلو زامنو په پرتله يې حضرت محمد ﷺ ته خورا زياته پاملرنه او مينه ورکوله. يوازې يې نه پرېښود او په خپلو زامنو يې وړاندې ګاڼه. عبدالمطلب عزتمند او هيبت لرونکی شخصيت و. زامن يې د ده پر فرش نه کيناستل، خو رسول اللهﷺ به ورباندې کېناسته.

د ابن هشام په روايت: چې د عبدالمطلب د ناستې لپاره به د کعبې سيوري ته يو فرش غوړول کېده. د پلار د احترام له امله يې يو زوی هم پر فرش نه کيناسته يوازې حضرت محمدﷺ يې چې له

وقاره ډېك تنكى زلمى و، له ځان سره يو ځاى كښيناوه. كله به يې چې كاكاګانو د هغه دلرې كولو هڅه كوله، نو عبدالمطلب به ورته ويل: بچى مې په خپل حال پرېږدئ. په خداىﷻ قسم د لوړ شان خاوند دى، بيا به عبدالمطلب د آنحضرتﷺ تر څنګ كښېناست او پر سر به يې د مهربانى لاس راښكود، په كړو او وړو يې خوشحاله كېده، خو څه وخت لا نه و تېر شوى، چې حضرت محمدﷺ يو ځل بيا د خپل مهربان نيكه عبدالمطلب د مړينې تريخ والى وڅكه.

## فعاليت

عبدالمطلب چې حضرت محمدﷺ په خپلو زامنو وړاندې ګاڼه، دليل يې څه و؟

## له زړه سواندي او مهربان تره سره

حضرت محمدﷺ اته كاله، دوه مياشتې او لس ورځې عمر درلود، چې مهربان نيكه يې مړ شو، عبدالمطلب له خپلې مړينې وړاندې لازمه وګڼله چې د هغه ﷺ سرپرستي ابوطالب ته چې د عبدالله سكه ورور و، وسپاري.

ابو طالب په خورا ښه شان د خپل وراره پالنه وكړه او د خپلو اولادونو په شان يې باله، بلكې له هغوى څخه يې هم مخكې ګاڼه او ځانګړې پاملرنه يې ورته كوله. ابوطالب تر ځلوېښتو كلونو ډېر دحضرت محمدﷺ بې دريغه ملاتړ وكړ او د هغه پر سر يې له خلكو سره دوستي يا دښمني كوله، چې وروسته به يې ځينو برخو ته اشاره وكړو.

## د حضرت محمدﷺ شپني

ابوطالب يو مسكين او بې وزلى سړى و. حضرت محمدﷺ له هغه سره د مرستې په نيت د

ځوانۍ په عمر کې شپني پیل کړه. حضرت محمدﷺ په دې هکله له ځان او نورو پیغمبرانو څخه خبر ورکوي، چې ټولو شپني کړې ده. په صحیح حدیث کې راغلي دي: ((الله جل جلاله هېڅ داسې پیغمبر نه دی را استولی، خو دا چې شپني یې کړې ده. اصحابو وپوښتل: یا رسول الله! تا هم شپني کړې ده؟ ویې فرمایل: هو! د لږو پیسو په بدل کې مې د مکې د خلکو رمه پېوله)) د رمې پېول پیغمبر علیه السلام ته هغه آرام ورکاوه، چې د ده مبارك نفس یې غوښتنه کوله. همدارنګه حضرت محمدﷺ په شپنۍ کې د دښتو له ښکلا څخه خوند اخیست او په طبیعت کې د الله د جلال او عظمت د مظاهرو په لټه کې و، څکه د طبیعت هره پدیده، چې په صحراء کې ترسترګو کېږي. لکه د شپې آرامتیا، د سپوږمۍ سیوری، د سهار نسیم، انسان ته یو ډول نفساني روزنه او رواني ارامتیا لکه صبر، زغم، حوصله او پر ضعیفانو زړه سوی او مهرباني وربښي. له بلې خوا د رمې پېول آنحضرتﷺ ته د ملتونو د لارښوود جوړېدنې او قیادت یو ډول تمرین و.

## فعالیت

حضرت محمدﷺ په شپنۍ کې څه شی تمرین کړل او له کوم شي یې خوند اخیست؟

## له لوست څخه زده کړې

- حضرت محمدﷺ په کوچنیوالي کې بې شمېره کړاوونه ولیدل. یتیم وزېږېد، په شېږ کلنۍ کې یې مهربانه مور او دوه کاله وروسته یې زړه سواندی نیکه له لاسه ورکړل، یعني درې ځلې یتیم شو.
- شپني پتمنه او شریفه دنده ده. حضرت محمدﷺ او نورو ټولو پېغمبرانو علیهم السلام شپني کړېده، چې په حقیقت کې دغه کار د ملتونو د رهبرۍ لپاره یو تمرین و.
- باید انسان د کورنۍ او ټولنې ګټور او فعال غړی وي او له ارو خلکو سره مرسته وکړي.

## ارزونه

**الف**: لاندنۍ پوښتنې ځواب کړئ:

۱. بي بي آمنه په کوم ځای کې وفات او چېرته خاورو ته وسپارل شوه؟

۲. کله چې د پیغمبرﷺ مور او نیکه مړه شول، هغه څو کلن و؟

۳. د عبدالمطلب له مړینې وروسته د حضرت محمدﷺ پالنه چا پر غاړه واخیسته؟

**ب**: د سمو جملو مخې ته (✓) نښه او د ناسمو جملو مخې ته (✗) نښه کېږدئ:

۱. آنحضرتﷺ شپږ کلن و، چې مهربان نیکه یې مړ شو.

۲. آمنه په یثرب (مدینې منورې) کې ناروغه شوه او هما غلته مړه او خاورو ته وسپارل شوه.

۳. د عبدالمطلب له مړینې وروسته د حضرت محمدﷺ پالنه ابوطالب ته پاتې شوه.

٤. حضرت محمدﷺ د دې لپاره شپني پیل کړه، تر څو له ابوطالب سره مرسته وکړي.

## کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د حضرت محمدﷺ د کوچنیوالي د کړاوونو په اړه یوه مقاله په خپلو کتابچو کې ولیکي.

## یوولسم لوست

# شام ته د رسول اللهﷺ سفر او د هغه د نبوت نښې

حضرت محمدﷺ د عبدالمطلب له مړینې وروسته د خپل تره، ابوطالب تر څارنې او پالنې لاندې و او هغه ورځخه کلکه څارنه کوله.

## شام ته تګ او له بحیرا سره مخ کېدل

کله چې حضرت محمدﷺ دولس کلن شو، ابوطالب په یو تجارتي کاروان کې له ځان سره د شام پر سفر بوته. بصرې ته چې په شام پورې تړلې سیمه وه، په رسېدلو یې د بحیرا په نوم مسیحی راهب چې دغلته استوګن و، د کاروان تم ځای ته راغی، د حضرت محمدﷺ او ورسره ملګرو یې تود هرکلی وکړ.

## د حضرت محمدﷺ د نبوت نښې

بحیرا حضرت محمدﷺ د نبوت له هغو نښو څخه چې په ځان کې یې لرلې، وپېژاند او له لاسه یې ونیو، ویې ویل: دا هلك د نړیوالو سردار دی او اللهﷻ دغه هلك نړیوالو ته د رحمت په توګه را استوي.

د قریشو مشرانو ترې وپوښتل: څه پوه شوې؟ بحیرا وویل: کله چې تاسې دغه کرېڼچې ته نږدې شوئ، ټولو ډبرو او ونو ده ته درناوی وکړ، حال دا چې دوی له پیغمبر پرته بل چاته درناوی نه کوي او زیاته یې کړه چې د نبوت له مهر څخه یې پېژنم، چې د منې په څېر د ده د اوږو په منځ کې دی او دا خبرې زموږ په کتابونو کې راغلې دي.

### فعالیت

درنو زده کوونکو! تېرو سبقونو ته وګورئ او ووایئ چې آیا د حضرت محمدﷺ د نبوت نورې نښې مو په زړه دي؟

### د شام سفر نیمگړی پاتې کېدل او بېرته مکې ته راستنېدل

بحیرا له ابوطالب نه غوښتنه وکړه، چې حضرت محمدﷺ شام ته د بېولو پر ځای مکې ته ستون کړي، هسې نه چې یهودیان ورته زیان ورسوي. هماغه و چې ابو طالب هغه له یو شمېر خادمانو سره مکې ته را واستاوه.

### فعالیت

که چېرې یهودو، حضرت محمدﷺ پېژندلی وای، نو ولې یې واژه؟

### له لوست څخه زده کړې

- د نصاراوو ربښتیني راهبان د حضرت محمدﷺ له نښو او صفاتو څخه چې د دوی په کتابونو کې راغلي دي، پوهېږي چې حضرت محمدﷺ د بشریت لپاره د الله پېغمبر دی.
- د دې خبرې ثبوت چې ډبرو او ونو حضرت محمدﷺ ته سجده کړې او دا چې دغه شیان یوازې پیغمبرانو ته سجده کوي.
- په دې سفر کې محمد رسول اللهﷺ د ژوند په چارو کې د قریشو د مشرانو له تجربو څخه زده کړه وکړه.

### ارزونه

۱. حضرت محمدﷺ له چا سره او په څو کلنۍ کې شام ته ولاړ؟
۲. بحیرا څوک و او څرنګه یې د حضرت محمدﷺ صفتونه وپېژندل؟
۳. بحیرا چېرته اوسېده او ولې شام ته د حضرت محمدﷺ د تللو مانع شو؟

### کورنۍ دنده

د حضرت محمدﷺ د نبوت هغه نښې، چې بحیرا بیان کړې، په خپلو کتابچو کې ولیکئ.

## دولسم لوست

# حرب الفجار او حلف الفضول

حضرت محمدﷺ له کوچنيوالي څخه د مظلومانو د ژغورنې او مرستې لپاره هلې ځلې کولې، چې دوه ځايونه يې خورا مشهوردي.

### ۱_ حرب الفجار

حضرت محمدﷺ څوارلس کلن و چې د حرب الفجار پر نوم يوه جګړه چې يو طرف يې قريش او کنانه قبيله او بل لورى يې د هوازن قبيله وه، پيښه شوه او په پاى کې د کنانه وو او قريشو قبيلو په برلاسى پاى ته ورسېده.

په دغه جګړه کې پيغمبرﷺ له خپلو ترونو سره چې د مکې د دفاع لپاره جنګېدل ګډون درلود. دغه جګړه په دې خاطر په حرب الفجار (د بدکارانو جګړه) ونومول شوه، چې په هغې کې د حرم او د حرام د مياشتو عزت، چې په عربي نړۍ کې خورا مقدس و، تر پښو لاندې شو.

### ۲_ حلف الفضول (د همت دخاوندانو تړون)

د حرب الفجار له جګړې وروسته د همدغه کال د ذوالقعدې په مياشت کې د حلف الفضول په نوم تاريخي تړون لاسليک شو. د قريشو مشرانو (بني هاشم، زهره او بني تيم بن مرة )چې د عبدالله بن جدعان په انګړ کې را ټول شوي وو، داسې پرېکړه وکړه، چې که په مکه کې کوم مظلوم ومونډل شو، که هغه د مکې له خلکو او يا د کوم بل ځاى څخه وي، ملاتړ به يې کوو او تر هغې به کرار نه کښېنو تر څو يې له ظالم څخه حق وانخلو او ورته يې ونه سپارو. حضرت محمدعليه السلام د دغه تړون په لاسليک کولو کې چې د کمزورو له حقونو څخه دفاع او د عربو وياړ ګڼل کېده، ګډون درلود. د تړون محتوى د جاهليت توکم پالنې له عقيدې سره پوره توپير درلود.

#### فعاليت

ګرانو زده کوونکو! د حلف الفضول تړون محتوى څرنګه ارزوئ؟

### د تړون د ليکلو لامل

د حلف الفضول د تړون لامل دا و چې د زبيد قبيلې له يوه سړي څخه چې د يمن اوسېدونکى و، د قريشو يو مشر عاص بن وائل سهمي جامې واخيستې، خو د هغه سړي حق يې ورنکړ. زبيدي د قريشو لويانو ته شکايت وکړ او مرسته يې ترې وغوښته، خو چا يې خبرو ته غوږ کښېنښود، دغه سړي کعبې ته نږدې ودرېده او د شعرونو په ويلو کې يې خپل مظلوميت ښکاره کاوه او د لوړ همت له خاوندانو څخه يې د مرستې غوښتنه کوله.

## د مظلوم د حق په بېرته ورکولو کې د قریشي لویانو اقدام

د عبدالمطلب زوی زبیر، د قریشو مشرانو ته په منډه ورغی او د دغه مظلوم سړي د حق غوښتنې بلنه یې ورکړه چې په پای کې د قریشو د قبیلو مشران یو ځای شول او حلف الفضول لوزنامه تر سره شوه، عاص بن وائل ته ورغلل، د مظلوم حق یې ترې واخیست او مظلوم ته یې و سپاره.

حضرت محمدﷺ وروسته له بعثت په حلف الفضول کې پر خپل ګډون وياړېده، ویې فرمایل: ((د عبدالله بن جدعان په کور کې مې په یو داسې تړون کې ګډون درلود، چې هغه راته له سرو او ښانو ښخه غوره دی او که په اسلام کې هم دغه ډول تړونونو ته وبلل شم، هرو مرو به پکې برخه اخلم.))

### فعالیت

درنو زده کوونکو! ولې پیغمبرﷺ د حلف الفضول په تړون کې په خپل ګډون ویاړ درلود؟

### له لوست څخه زده کړې

- پیغمبرﷺ د عدالت د اصولو په ټینګښت اوپلي کولو کې په خپل ګډون ویاړي، مثبت ارزښتونه که د کفارو په وسیله هم ترلاسه شي، د قدر وړ دي.
- حلف الفضول د هغه وخت په جاهلي ټولنه کې یو مثبت ټکی و، په یوه ټولنه کې د فساد عام والي او خپراوی دا معنا نه لري، چې کوم فضیلت به هلته نه وي.
- ظلم او تېری چې په هره بڼه وي، مردود دی. اسلام تېری نه مني، بلکې پرته د رنګ، دین او ملیت له توپیره د مظلوم تر څنګ درېږي.

### ارزونه

۱. دې جګړې ته ولې حرب الفجار وایي؟
۲. د حلف الفضول د تړون لامل څه و؟
۳. حلف الفضول څرنګه پلې شو؟

### کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د حلف الفضول لامل او پایلې په خپلو کتابچو کې ولیکي.

## دیارلسم لوست

# له خدیجې رضي الله عنها سره واده

پیغمبرﷺ د ماشومتوب له وخته د شپنۍ دنده پر غاړه لرله، خوچې کله زلمی شو، د سوداګرۍ کار او بار ته یې مخه کړه. تر دې چې د حضرت خدیجې رضي الله عنها له مالونو سره شام ته ولاړ.

## د خدیجې رضي الله عنها د تجارت مشري

خدیجه رضي الله عنها د خویلد لور یوه کونډه، شریفه، نجیبه سوداګره او شتمنه ښځه وه. هر کال یې د خپل تجارت د پرمخ بېولو لپاره څه کسان ګمارل او د ګټې یوه برخه به یې د مضاربت په نامه ورکوله. څرنګه چې حضرت محمدﷺ په صداقت، امانتدارۍ او نیکو اخلاقو شهرت درلود او خدیجه رضي الله عنها ترې خبره وه، نو له حضرت محمدﷺ څخه یې هیله وکړه، چې د دې له تجارتي مال سره شام ته ولاړ شي او د دې مریی (میسره) به هم ورسره وي. حضرت محمدﷺ یې غوښتنه ومنله او شام ته ولاړ.

### فعالیت

خدیجې رضي الله عنها ولې حضرت محمدﷺ د خپلو تجارتي مالونو د سرپرستۍ لپاره وټاکه؟

## له خدیجې رضی الله عنها سره واده

کله چې حضرت محمدﷺ له ډېرې ګټې سره راستون شو، نوحضرت خدیجې رضي الله عنها له یوې خوا په خپل مال کې د دومره امانت او برکت په لیدلو، چې له دې وړاندې یې نه ولیدلی او له بل پلوه د میسره له خولې د حضرت محمدﷺ د ښو خویونو، صداقت او امانتدارۍ د کیسو په اورېدلو یې د حضرت محمدﷺ پر شخصیت او سپېڅلو اخلاقو زړه بایلود په داسې حال کې چې د قریشو ډېرو لویانو له هغې سره د نکاح کولو غوښتنه کوله، خو هغې نه منله. هماغه و چې حضرت خدیجې رضي الله عنها له حضرت محمدﷺ سره د زړه مینه خپلې راز دارې ملګرې ته چې نفیسه نومېده ښکاره کړه او هغې بیا په دې اړه له حضرت محمدﷺ سره خبرې وکړې او د هغه صلی الله علیه وسلم له لورې یې هم په ډېره مینه او خوښۍ سره هرکلی وشو او خبره یې له خپلو ترونو سره شریکه کړه، دحضرت محمد ﷺ تره حمزه بن عبدالمطلب د خدیجې رضي الله عنها تره ته ورغی او د هغې ریباري یې وکړه، په دې ترتیب د شام له سفر څخه دوه میاشتې وروسته یې د واده مراسم ترسره شول. دغه مهال خدیجه رضي الله عنها څلوېښت کلنه او رسول الله ﷺ پنځه ویشت کلن وه،

دا لومړنی ښځه وه، چې آنحضرتﷺ ورسره واده وکړ او ترڅو چې خدیجه رضي الله عنها ژوندۍ وه، بله ښځه یې په نکاح نه کړه.

## فعالیت

هغه لاملونه ولیکئ، چې خدیجه رضي الله عنها یې له محمد رسول الله ﷺ سره واده کولو ته لېواله کړه؟

## د واده ثمره

د دغه واده ثمره د قاسم او عبدالله په نومونو دوه زامن وو، چې په کوچنیوالي کې مړه شول او د زینب، رقیه، ام کلثوم او فاطمه په نومونو یې څلور لوڼې وې، چې ټولو ایمان راووړ او هجرت یې وکړ.
زینب، رقیه او کلثوم د نبي کریم ﷺ په ژوند کې او فاطمه رضي الله عنها د هغه له رحلت څخه شپږ میاشتې وروسته وفات شوه او د رسول الله ﷺ د یو زوی ابراهیم نه پرته( چې هغه د ماریه قبطیه څخه وه) نور ټول اولاد ونه یې له خدیجې رضي الله عنها څخه وو.

## له لوست څخه زده کړې

- د بریالي او برلاسي سوداګر له صفتونو څخه امانت او صداقت دی.
- له خدیجې رضي الله عنها سره واده د الله جل جلاله پرېکړه وه، ترڅو له پیغمبر ﷺ سره د رنځ او غم په کمولو کې مرسته وکړي.
- له خدیجې رضي الله عنها سره واده چې له دوو مېړونو پاتې خلوېښت کلنه کونډه وه، د دنیوي خوندونو سره د پیغمبر ﷺ د مینې د نشتوالي څرګندوی دی.

## ارزونه

۱_ د حضرت محمد ﷺ او خدیجې رضي الله عنها د واده پر مهال دواړه څو کلن وو؟ او حضرت خدیجې رضي الله عنها له واده کولو سره خپله موافقه څرنګه ښکاره کړه؟
۲_ د حضرت محمد ﷺ له خدیجې رضي الله عنها څخه څو اولادونه وو؟

## کورنۍ دنده

هغه لاملونه وو چې حضرت محمد ﷺ له خدیجې رضي الله عنها سره واده وکړ، هیله ده چې مهم ټکي یې په خپلو کتابچو کې ولیکئ.

خوارلسم لوست

# د کعبې بیا رغول او د حجر الاسود ایښودل





حضرت محمدﷺ (۳۵) کلن و، چې قریشو د کعبې د بیا رغولو هوډ ونیو. کعبې تر دغه مهاله بې له چته یوازې دیوالونه لرل چې له کوچنیو ډبرو څخه جوړ شوي وو. د کعبې ودانې چې د زمانې د پېښو له امله ورو ورود له منځه تللو په درشل کې وه او په وروستیو کې اور لګېدنې او سیلاب له حتمي ړنګیدلو سره مخامخ کړې وه، قریش د کعبې مقام او ارزښت ته په پام سره اړ شول، چې په خپل حلال ما ل سره هغه بیا ودانه کړي.



## د کعبې په جوړولو کې د قبایلو ګډون

وروسته له اوږدې مشورې او ویرې څخه د قریشو یو مشر ولید بن مغیره مخزومي لومړنی سړی و، چې د زړې کعبې په ورانولو یې پیل وکړ. له هغه وروسته نورو خلکو ورسره ګډون وکړ. هرې قبیلې د کوټې د یوې برخې د جوړولو ژمنه وکړه او د (باقُوم) په نوم د یو رومي معمار تر لارښوونې لاندې یې دیوالونه پورته کړل.

### فعالیت

د کعبې بنسټ چا او څه وخت د لومړي ځل لپاره کېښود؟زده کوونکې دې د ښوونکي په لارښوونه خپل نظرونه څرګند کړي.

## د رسول الله ﷺ حکمیت

کله چې د کعبې دېوالونه څه اندازه اوچت شول او د حجر اسود د اېښودلو ځای ته ورسېدل،

د قریشو د قبیلو تر منځ پر خپل ځای د حجر اسود د ډبرې د ایښودلو د ویاړ ترلاسه کولو پر سر سخته شخړه پیدا شوه. نږدې وه چې په لویه خونړۍ جګړه بدله شي. په همدې حساسو شېبو کې ابو امیه بن مغیره مخزومي د قبیلو مشرانو ته وړاندیز وکړ او ټولو په یوه خوله ومانه، چې هر څوک لومړی حرم ته راغلی، زموږ ترمنځ به پرېکړه کوي.

د الله جل جلاله غوښتنه وه، چې دغه شرف رسول الله ﷺ ته ور په برخه شي. کله چې د قبیلو مشرانو رسول الله ﷺ ولید، په یو غږ یې وویل: هغه امین دی، هغه منو.

## د رسول الله ﷺ هوښیاري

رسول الله ﷺ د ستونزې د حل لپاره یو ټادر راوغوښت او د حجر اسود ډبره یې په کې کېښوده او په شخړه کې ښکېل مشران یې راوغوښتل، تر څو د ټادر د څنډو په نیولو ډبره اوچته کړي او ځای ته یې ورسوي، چې بیا آنحضرت ﷺ د حجر اسود ډبره په خپلو مبارکو لاسونو پورته کړه او پر ځای یې کېښوده.

په دغه ترتیب د پیغمبر علیه السلام د حکیمانه او مناسبې حل لارې په غوره کولو سره هغه لویه شخړه، چې نږدې وه د ډېرو وینو بهېدلو لامل شي، پای ته ورسېده.

### فعالیت

درنو زده کوونکو! ولې د شخړې په پرېکړه کې خلک د حضرت محمد ﷺ په منځګړیتوب راضي شول؟

## له لوست څخه زده کړې

- د پیغمبرﷺ امانتداري هغه صفت و، چې قریش یې له وینو تویولو څخه وژغورل.
- د پیغمبر علیه السلام په حکمیت باندې د قریشو راضي کېدل د قریشو په منځ کې د آنحضرتﷺ د مقام او منزلت څرګندوی دی.
- منځګړې ډله لرې چې په قضیې کې د ښکېلو ټولو خواوو ګټې په پام کې ونیسي.

## ارزونه

۱. قریشو ولې د کعبې په بیا رغونې اقدام وکړ؟

۲. د قریشو ترمنځ د شخړې د مخنیوي لپاره حضرت محمدﷺ کومه مناسبه لاره غوره کړه؟

۳. د کعبې شریفې په جوړولو کې ګډون کوونکو قبیلو ولې په خپل ځای کې د حجر اسود په اېښودلو کې اختلاف وکړ؟

## کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د کعبې شریفې په بیا رغونه کې د قبایلو د ګډون او د شخړې په ختمولو کې د حضرت محمدﷺ د حکمیت کیسه په خپلو کتابچو کې ولیکي.

## پنځلسم لوست

# د نبوت په اړوند زېري

بت پرستی او فساد په جاهلي عربي ټولنه او ټوله نړی کې داسې ناتار جوړ کړی و، چې د پیغمبر لاربښوونو ته خورا اړتیا لیدل کېده، تر څو دوی او نړیوا ل ملتونه له هلاکت او بد مرغی څخه وژغوري او یوه داسې نیکمرغه او عادله نوې بشري ټولنه جوړه کړي، چې په لوړو انساني اخلاقو سمبال او ښایسته وي.

### د الله تعالی حکمت او د پیغمبرﷺ د ظهور زېري

الهي حکمت په دې کې و، چې خلک د محمد ﷺ د رسالت منلو ته تیار کړي، نو د تېرو زمانو هرامت ته یې د هغه صلی الله علیه وسلم د را ښکاره کېدلو زېري ورکړي، قرآنکریم هم په بېلا بېلو ځایونو کې هغو زېرو ته اشاره کوي: ابراهیمعليه السلام اللهﷻ ته سوال وکړ، چې په عربو کې له هغوی څخه یو پیغمبر وټاکي. اللهﷻ یې دعا قبوله کړه او حضرت محمدﷺ یې غوره کړ.

﴿رَبَّنَا وَابْعَثْ فِيهِمْ رَسُولًا مِنْهُمْ يَتْلُو عَلَيْهِمْ آيَاتِكَ وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ وَيُزَكِّيهِمْ إِنَّكَ أَنْتَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ﴾[البقرة : ١٢٩]

**ژباړه**: ای زموږ ربه! د دوی په منځ کې له دوی څخه یو پیغمبر راواستوه، ترڅو ستا آیتونه پر دوی ولولي او کتاب او حکمت ورزده کړي او پاك یې کړي، یقیناً ته یې ډېر برلاسی او خورا حکمت والا.

اللهﷻ په هغو آسماني کتابونو کې، چې په تېرو شویو پیغمبرانو یې نازل کړي، د پیغمبرعليه السلام د رسالت زېري ورکړي او په قرآن کریم کې ورڅخه داسې حکایت کوي: ﴿الَّذِينَ يَتَّبِعُونَ الرَّسُولَ النَّبِيَّ الْأُمِّيَّ الَّذِي يَجِدُونَهُ مَكْتُوبًا عِنْدَهُمْ فِي التَّوْرَاةِ وَالْإِنْجِيلِ يَأْمُرُهُمْ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَاهُمْ عَنِ الْمُنْكَرِ﴾ (د اعراف سورت، ۱۵۷ ایت.)

**ژباړه**: هغه کسان چې د هغه ا مي نبي پیروي کوي، چې ستاینه یې په تورات او انجیل کې لیکل شوې، مومي، او هغه دوی ته په نېکیو امر کوي او له بدیو یې منعه کوي.

## فعالیت

درنو زده کوونکو! حضرت ابراهیم عليه السلام نومړي دعا څه وخت وکړه؟

عیسٰی عليه السلام هم د حضرت محمد ﷺ د رسالت زېرى ورکړى دى، الله جل جلاله فرمايي: ﴿وَإِذْ قَالَ عِيسَى ابْنُ مَرْيَمَ يَا بَنِي إِسْرَائِيلَ إِنِّي رَسُولُ اللَّهِ إِلَيْكُم مُّصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيَّ مِنَ التَّوْرَاةِ وَمُبَشِّرًا بِرَسُولٍ يَأْتِي مِن بَعْدِي اسْمُهُ أَحْمَدُ.﴾(د الصف سورت، ٦ آيت)

**ژباړه**: او كله چې عيسٰی د مريم زوى بني اسرائيلو ته وويل: يقيناً زه تاسو ته د الله جل جلاله له خوا د هغه استازى يم، د تورات تصديق كوونكى يم، چې له ما مخكې نازل شوى او د راتلونكي پېغمبر زېرى دركوونكى يم، چې وروسته راځي او نوم يې احمد دى.

الله جل جلاله ټولو پيغمبرانو ته د حضرت محمد ﷺ د رسالت خبر وركړى او ورته يې ويلي دي، چې خپلو منونكو ته ووايئ، چې كه د آخرالزمان پيغمبر زمانه مو پيداكړه، نو ايمان پرې راوړئ او د هغه پيروي وكړئ. الله جل جلاله فرمايي: ﴿وَإِذْ أَخَذَ اللَّهُ مِيثَاقَ النَّبِيِّينَ لَمَا آتَيْتُكُم مِّن كِتَابٍ وَحِكْمَةٍ ثُمَّ جَاءَكُمْ رَسُولٌ مُّصَدِّقٌ لِّمَا مَعَكُمْ لَتُؤْمِنُنَّ بِهِ وَلَتَنصُرُنَّهُ قَالَ أَأَقْرَرْتُمْ وَأَخَذْتُمْ عَلَى ذَلِكُمْ إِصْرِي قَالُوا أَقْرَرْنَا قَالَ فَاشْهَدُوا وَأَنَا مَعَكُم مِّنَ الشَّاهِدِينَ﴾ (آل عمران، ٨١ آيت).

ژباړه: يادكړه هغه وخت چې الله جل جلاله له پيغمبرانو څخه ژمنه واخيسته، چې په كتاب او حكمت مې سر لوړي كړې يئ، نوكه تاسو ته بل پيغمبر درغى چې دهماغو لاربښوونو تصديق كوونكى وي چې له تاسو سره شته، نو هرو مرو به پر هغه ايمان راوړئ او مرسته به ورسره كوئ، ويې فرمايل:: آيا اقرار مو وكړ او په خپل دغه كار باندې مو زما ژمنه واخيسته هغوى وويل: اقرار مو وكړ، هغه (الله تعالى) وفرمايل: نو گواه اوسئ او زه هم د تاسو سره له گواهانو يم.

خو د تورات او انجيل په اوسنيو نسخوكې تحريف شوى او د محمد ﷺ نوم چې صراحتاً په كې ليكل شوى و، حذف شوى دى.

## فعالیت

ګرانو زده کوونکو! ولې اهل کتابو (یهودو او نصاراوو) پخواني آسماني کتابونه تحریف کړي او د محمد ﷺ نوم او د هغه د بعثت زیرې یې ترې حذف کړې دي؟

# د اهل کتابو د پوهانو زیري

د سلمان فارسي رضي الله عنه د مسلمانېدو په کیسه کې داسې راغلي دي: هغه له عموریه راهب څخه، چې مرګ ته نږدې وخت کې یې لیدلی و، واورېدل چې: د عربو پر ځمکه به د ابراهیم علیه السلام په دین یو پیغمبر مبعوث شي، د خرماؤو بڼ ته به مهاجر شي، ځینې نښې لري، چې هدیه خوري، صدقه نه خوري، د دواړو اوږو په منځ کې یې د نبوت مهر دی. که دغې ځمکې ته تللی شې، نو لاړ شه! بیا سلمان رضي الله عنه مدینې ته راغی، له هجرت وروسته، حضرت محمد ﷺ سره په مدینه کې مخامخ شو کله چې یې هماغه نښې د حضرت محمد ﷺ په وجود کې ولیدلې، نو اسلام یې راوړ.

همدارنګه د یهودو علماوو د پیغمبر ﷺ د بعثت د زمانې د رانږدې کېدو خبر ورکړی. لکه ابو تیهان چې کله له شام څخه راووت او په بني قریظه کې مېشت شو او د پیغمبر ﷺ له بعثت څخه دوه کاله وړاندې مړ شو، د خپلې مړینې پر مهال یې د قریظه خلکو ته وویل: اې یهودو! پوهېږئ چې ولې دغه ځای ته راغلی یم؟ هغوی وویل: ته خپله ښه پوهېږې، ویې ویل: زه دې ښار ته راغلی یم، د هغه پیغمبر د ظهور انتظار کوم، چې د بعثت وخت یې رانږدې شوی دی. هیله من یم چې هغه مبعوث شي او پیروي یې وکړم، په همدې اساس به یهودو د مدینې خلکو ته ویل: د آخرالزمان پیغمبر د بعثت زمانه نږدې شوې ده مونږ به هغه سره یو ځای کیږو او تاسي به وژنو.

همدا رنګه کله چې د روم پاچا، هرقل د رسول الله ﷺ لیک ترلاسه کړ، ویې ویل: زه پوهېدم چې هغه (پیغمبر) ﷺ ظهور کوي، خو ګومان مې نه کاوه چې له ستاسو (اعرابو) څخه به وي.

## فعالیت

درنو زده کوونکو! په دې لوست کې د حضرت محمدﷺ د بعثت په هکله څو زېري یاد شوي دي نومونه يې واخلئ؟

## له لوست څخه زده کړې

- د پیغمبرﷺ د بعثت اهمیت او فضیلت او په پخوانیو آسماني کتابونو کې د هغهﷺ یادونه.
- د اهل کتابو (یهودو او نصارا وو) د علما وو لېوالتیا او د پیغمبرﷺ پر رسالت باندې يې د ځینو ایمان.

## ارزونه

۱. سلمان فارسي د پیغمبرﷺ د ظهور په هکله څه زېرى اورېدلى و؟

۲. ولې ابراهیمعليه السلام د یوه پیغمبر د استولو دعا وکړه؟

۳. عیسٰیعليه السلام د پیغمبر د ظهور په اړه کوم زېرى ورکړى و؟

## کورنۍ دنده

د پیغمبرﷺ د بعثت په هکله پنځه زېري چې لوستلي مو دي، په خپلو کتابچو کې وليکئ.

## شپاړسم لوست

# له بعثت وړاندې د حضرت محمدﷺ اخلاقي فضایل

حضرت محمدﷺ په خپل ژور فکر او ځیرکتیا سره عالي اهداف څارل. له دې امله یې په مبارک وجود کې عالي ځانګړتیاوې څرګندې وې. حضرت محمدﷺ د خپل سلیم فطرت د وجهې له خرافاتو څخه لرېوالی غوره کاوه او له کوچنیوالي څخه یې له باطلو معبودانو څخه کرکه درلوده.

## پیغمبرﷺ د الله تعالی په څارنه کې

الله جل جلاله خپل پیغمبرﷺ د جاهلي دودونو او ناسمو کارونو څخه، چې ځوانان یې طبیعتاً سرته رسوي، ساتلی وو. د الله جل جلاله ځانګړې پاملرنه د حضرت محمدﷺ او باطلو دودونو ترمنځ پرده وه.

روایت دی چې آنحضرتﷺ وفرمایل: هېڅکله مې د هغو کارونو اراده نه ده کړې چې د جاهلیت د دورې خلکو ترسره کول، مګر دوه ځله، چې هر ځل الله جل جلاله له هغه کار څخه ساتلی یم، تردې چې زه یې په پیغمبرۍ مشرف کړم. یوه شپه مې یو ځوان ته چې د مکې په غرونو کې یې را سره یو ځای شپني کوله، وویل: زما رمې ته ګوره، زه مکې ته ځم او د نورو ځوانانو په څېر خپله شپه په کیسو تېروم، هغه وویل: ښه ده، زه به دا کار وکړم، زه هم پاڅېدم او روان شوم کله چې د مکې لومړي کور ته ورسېدم، د ټنګ ټکور غږ مې تر غوږ شو، ومې پوښتل: دلته څه خبره ده؟ هغوی وویل: د فلاني سړي او فلانۍ ښځې واده دی، کېناستم چې واورم، خو الله تعالی جل جلاله زما غوږونه له اورېدو څخه وژغورل او په درانه خوب ویده شوم. تر هغې چې د لمر ګرمۍ راویښ کړم، دا پېښه دوه ځله تکرار شوې او دواړه ځله الله ساتلی یم.

## د امهات المؤمنین له قوله د آنحضرتﷺ اخلاقي فضایل

کله چې محمد رسول اللهﷺ مبعوث شو د پرښتې دهیبت څخه، ترهېدلی خدیجې رضی الله عنها ته راغی او د خپل ځان په هکله یې اندېښنه څرګنده کړه، نو خدیجې رضی الله عنها د هغه د ډاډینې لپاره د هغه په ستاینه کې تلپاتې کلمې او جملې وویلې، ویې فرمایل: هېڅکله به الله جل جلاله تا رسوا نه کړي، ځکه چې ته له بېوسه او لوېدلو خلکو سره مرسته کوې، مېلمه پالنه کوې، د حق په کارونو کې ملتیا کوې پیغمبر ﷺ په خپل قوم کې له ښو او لوړو اخلاقو څخه برخمن و، په حلم، رښتیا ویلو، د طبیعت په نرمۍ، پاک لمنۍ، نیکۍ او امانت کې ترېل هر چا ډېر و. هېڅکله یې

شراب نه دي څښلي، د بتانو په نامه مذبوحه او قرباني يې نه ده خوړلې او د بتانو په نامه جوړوشويو مراسمو کې يې ګډون نه دی کړی. له عايشې رضی الله عنها څخه د حضرت محمدﷺ د اخلاقو په اړه وپوښتل شول،و يې فرمايل: د هغوی اخلاق قرآن و، يعني څه چې قرآن کريم کې راغلي دي، پيغمبرﷺ پرې عمل کاوه.

## فعاليت

ګرانو زده کوونکو! د پيغمبر عليه السلام د اخلاقي فضايلو عملي بېلګې، چې خديجې او عايشې رضي الله عنهما ورته اشارې کړې، ووایاست؟

## له لوست څخه زده کړې

- مخکې له بعثته له خرافاتو او ناسمو کارونو څخه د پيغمبرﷺ عصمت.
- پيغمبرﷺ تل د الله جل جلاله تر څانګړې پاملرنې لاندې و او په ټولو کارونو کې يې حضرت محمدﷺ له ناروا څخه ساته.

## ارزونه

۱. خديجې رضي الله عنها څه وخت د حضرت محمدﷺ د اخلاقي فضايلو يادونه وکړه.

۲. عايشې رضي الله عنها د پيغمبر ﷺ د ښو او غوره اخلاقو په هکله څه ويلي دي؟ بيان يې کړئ.

## کورنۍ دنده

عايشې رضي الله عنها فرمايلي دي: د پيغمبر ﷺ اخلاق قرآن و، دغه مطلب په خپلو کتابچو کې تشريح کړئ.

## اوولسم لوست

# ښه خوبونه او ګوښه کیناستل

په تېرو لوستونو کې مو ولوستل، چې الله جل جلاله خپل استازی په کوچنیوالي او ځوانۍ کې دخپلې ځانګړې پاملرنې ورګرځولی او هغه یې د انسانانو د لارښوونې د لوی مسؤولیت د ترسره کولو لپاره تربیه کړ، له همدې امله یې په نېکو کارونو او اخلاقو شهرت درلود او له ګناهونو او پلیتیو څخه په امان کې پاتې شو.

## د پیغمبرۍ پیلامې

کله چې پیغمبر ﷺ څلوېښت کلنۍ ته نږدې شو، نو د اوږدې زمانې فکرونو او تأملاتو یې د ده او د ده د قوم تر منځ واټن لا زیات کړ، له خلوت او ګوښه کینا ستلو سره یې مینه پیدا شوه. څه توښه به یې له ځان سره اخیستله او د حرا غار ته به تللو.



د حراء غار د ((جبل النور)) غره په څوکه کې یوه تشه ده، ور یې د شمال په لور، اوږدوالی یې درې متره، پلنوالی یې نږدې ۱/۳۰یو متر او (۳۰) سانتې او اوچتوالی یې دوه متره دی، دوه تنه یو پر بل پسې په هغه کې لمونځ کولای شي، دغه غر له مسجد الحرام څخه شمال ختیځ ته په نږدې څلورو کیلو مترو واټن کې پروت دی.




پیغمبرﷺ د حراء په غار کې په عبادت او د نړۍ او د هغې د رب په فکر کې بوخت وو. د هستۍ د بې پایه روح سره په خلوت او د کائناتو تر شا د الله تعالی دلویې هستۍ په لټه کې وو. درې پرلپسې کاله یې د (رمضان) میاشت د حراء په غار کې تېرولە. څوورځې به یې هلته خلوت او عبادت کاوه. چې توښه به یې خلاصه شوه، کورته به راغی او د څو نورو ورځو لپاره به یې توښه واخیسته. په حقیقت کې دغه گوښه کېدل هغهﷺ ته د اللهﷻ د تدبیر او الهامونو یوه برخه وه، تر څو هغهﷺ د ځمکنیو بوختیاوو او د ژوند له شور اوځوږه او د خلکو له کړاونو څخه، چې ژوند یې ورته پوښلی ؤ، لرې وساتي او د هغه لوی مسؤولیت پر غاړه اخیستلو ته یې چې ده ته ورسپارل کیده، چمتو کړي.

له همدې امله مخکې تر دې، چې الله تعالی ورته رسالت وسپاري، درې کاله خلوت او ځانته ناسته یې ورته لیکلې وه، چې بالاخره د رمضان د مبارکې میاشتې په اوولسمه د دوشنبې په شپه چې د (٦١٠م.) کال د آگست میاشتې له شپږمې سره سمون لري، ناڅاپه جبرائیلعليه السلام په حراء غار کې پیغمبرﷺ ته راغی او د قرآن کریم لومړنې آیتونه یې ورته ولوستل.

### فعالیت

ولې پیغمبرﷺ له خپل قوم څخه لرې شوی و او له کور او ښار نه لرې یې په یو غار کې گوښه توب غوره کړ؟ په دې اړه دې زده کوونکي خپل نظر څرگند کړي.

## ښه خوبونه

مخکې له دې چې جبرئیل‌علیه السلام د حرا په غارکې پیغمبرﷺ ته وحې راوړي، هغهﷺ به ښه ښه خوبونه لیدل، کله به چې راویښ شو، خوښ او خوشحاله به و او په همغه سهار به یې په خوب کې لیدلي شیان په غرېدلو سترگو لیدل، چې دا ډول خوبونو ته نېک یا رښتیني خوبونه ویل کېږي.

ام المؤمنین، عایشه‌رضي الله عنها روایت کوي: د وحې لومړی پړاو نېک خوبونه لیدل و. کوم څه به چې رسول اللهﷺ په خوب کې ولیدل، هغه به په عالم واقع کې د روڼ سهار په شان پلی کیدل.

## په غوره خوبونو کې د الله حکمت

کېدای شي، چې رسول اللهﷺ ته د پرښتې له راتلو څخه وړاندې په خوب کې له وحې کولو څخه د الله جل جلاله حکمت دا وي، چې که ناڅاپه پرښته راشي وبه ډار شي او له پرښتې څخه به څه زده نه کړي، نو د الله تعالی د حکمت غوښتنه دا وه چې لومړی دې په خوب کې ورته وحې وشي،ترڅو پیغمبر ﷺ ورسره آشنا شي، لکه څرنگه چې په حدیث کې راغلي دي: نېک خوبونه د پیغمبرۍ شپږ څلوېښتمه برخه ده. نېکو خوبونو شپږ میاشتې دوام موند.

خو باید وپوهېږو چې د قرآن کریم یو آیت هم پر پیغمبرﷺ باندې په خوب کې نه دی نازل شوی، بلکې ټول قرآن کریم حضرت جبرئیل‌علیه السلام په ویښه حضرت رسول اکرمﷺ ته راوړی دی.

### فعالیت

زده کوونکي دې د وحې او ښو خوبونو تر منځ توپیر بیان کړي او هم دې واضحه کړي، چې قرآن کریم په کوم ډول پر پیغمبرﷺ نازل شوی دی؟

## د ګوښه کیناستلو ګټې

د پیغمبرﷺ له لارښوونې سره سم د الله ﷻ د ذکر او عبادت لپاره ګوښه نیونه د نفس د تزکیې او عرفان یو پړاو دی، چې د زړه ځلانده کولو او غفلت لرې کولو او له شهوتونو او هوس پالنې د ژغورلو لپاره ترسره کیږي.

د پیغمبرﷺ له سنتو څخه یو هم د روژې د میاشتې اعتکاف دی، چې د هر مسلمان لپاره که هغه پاچا وي او که عالم، لارښوود وي او که سوداګر، ستر اهمیت لري، ترڅو له دې لارې د انسان نفس او زړه له هغو شیانو څخه چې پرې ککړ دی، پاک شي او د یوازیتوب په حالت کې له نفس سره حساب وکړي.

## له لوست څخه زده کړې

- خلوت کې ناسته په زړونو کې د الله ﷻ د محبت د پالنې تمرین دی او له الله ﷻ سره مینه د سربښندنې او جهاد سرچینه او د هرې سمې بلنې بنسټ دی.

### ارزونه

١. رسول اللهﷺ په څو کلنۍ کې پر پیغمبرۍ مبعوث شو؟
٢. د حراء غار چیرته دی؟ له مسجد الحرام سره یې واټن معلوم کړئ؟
٣. قرآن کریم په کومه نیټه پر حضرت محمد ﷺ نازل شو؟
٤. له بعثت څخه وړاندې پیغمبرﷺ د حراء په غار کې څه کول؟

### کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د پیغمبرﷺ د خلوت په لاملونو او په مجموع کې د انسان لپاره د خلوت د ګټو په اړه یو مطلب ولیکي.

## اتلسم لوست

# د پیغمبرﷺ مرتبه

پیغمبرﷺ په هیبت، وقار او عظمت کې سیال نه درلود. دوست او دښمن لوی ګاڼه. د احترام او تعظیم په سترګه یې ورته کتل. له جاهلانو او احمقانو پرته هیچا له هغهﷺ سره د ناوړه چلن جرأت نه درلود. د دې لپاره چې د حق او نېغې(سمې) لارې پر لور لارښودونکی واوسي، الله ﷻ ورته داسې لوړ اخلاق ورکړي وو چې زړونه یې سره تړل او نفسونه یې سره یو ځای کول.

لکه چې الله ﷻ یې په هکله فرمايي: ﴿وَإِنَّكَ لَعَلَى خُلُقٍ عَظِيمٍ﴾ [القلم : ٤] (یعني: یقیناً ته د لوړو اخلاقو خاوند یې) او همداشان حضرت عایشه رضی الله عنها د ده په هکله وايي: ﴿كَانَ خُلُقُهُ الْقُرْآنَ﴾ یعني: د نبي کریمﷺ اخلاق قرآن کریم و.

مسلمان پوهان د پیغمبرﷺ اخلاق د هغهﷺ سترې معجزې ګڼي او ټینګار کوي، چې په انسانانو کې د داسې اخلاقو شتون په خپل ذات کې یو فوق العاده کار دی. په لنډه توګه د پیغمبرﷺ څو صفتونو ته د بېلګې په ډول اشاره کوو:

### فعالیت

زده کوونکي دې د پیغمبرﷺ د نورو معجزو نومونه واخلي.

## ۱ـ د ژبې ساتنه

پیغمبرﷺ له خیر پرته په نورو خبرو خپله ژبه نه خوځوله. داسې خبرې یې نه کولې چې د اورېدونکي ګټه او ښېګڼه به په کې نه وه. د حق ثبنتن ته به یې د حق په ورکولو امر کاوه. ناوړه وینا او شخړه یې نه کوله، په خپلې ژبې یې پوره واک درلود.

## ۲ـ له ملګرو سره مینه

پیغمبرﷺ له خپلو ملګرو سره داسې رویه کوله، چې هر یوه یې فکر کاوه، چې پیغمبرﷺ پرېخاصه لورینه لري.

## ۳_ تواضع

په پیغمبرعلیه السلام کې تواضع وه، خو تواضع او خاکساري يې د ببوسۍ او د ذلت د احساس له امله نه وه. مجلس ته په راتللو يې خپل ياران له خپل ځای څخه پاڅېدلو او تعظيم کولو څخه منع کول او په مجلس کې به يې په تش ځای کې کښيناستل غوره ګڼل.

## ۴_ تاوتريخوالی يې نه کاوه

پيغمبرﷺ بد ژبی، سخته وينا کوونکی، عيب لټوونکی او فحش ويونکی نه و.

## ۵_ غوسه يې نه کوله

پيغمبرﷺ په خپل ځان پورې اړوندو کارونو کې هيڅکله غوسه نه کوله، خو کله به چې د الله تعالی محرمات تر پښو لاندې کېدل، نو تر څو چې به حد نه وو پلي شوی او مجرم به په جزا نه وو رسيدلی آرام به نه کښېناست.

## ۶_ د پيغمبرﷺ هيبت

پيغمبرﷺ د زياتې تواضع او خاکسارۍ تر څنګ د ځانګړي وقار، شان او شوکت خاوند و، چې هر څوک يې تر اغېزې لاندې راتلو او د هغه پر وړاندې يې د بې ادبۍ جرئت نشو کولای.

د مشرکينو تر ټولو بې ادبو مشرانو به هم د هغهﷺ پر وړاندې خپل جرأت له لاسه ورکاوه او ماتې يې خوړله، لکه چې پيغمبرﷺ فرمايي: ﴿ نُصِرتُ بِالرُّعبِ مَسيرَةَ شَهرٍ﴾ يعنې، د يوې مياشتې په واټن کې پر دښمن نصرت را په برخه شوی، په دې معنی چې وېره او هيبت ورباندې لوېږي.

## د پيغمبرﷺ د هيبت څو بېلګې

۱. عمرو بن العاص روايت کوي، چې يوه ورځ رسول اللهﷺ له بيت الله څخه طواف کاوه او د مشرکينو څو مشران بيت الله شريف ته نږدې ناست وو. هر ځل به چې رسول اللهﷺ ورته رانږدې کيده، ملنډې به يې پرې وهلې. د طواف له پای ته رسېدلو وروسته حضرت محمدﷺ د هغو وړاندې ودرېد او د ايمان په قوت او پرېکنده ارادې سره يې مشرکين ورټل او ويې فرمايل:

﴿تَسمَعُونَ يَا مَعشَرَ قُرَيشٍ آمَا وَالَّذِي نَفسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهِ لَقَدْ جِئْتُكُم بِالذَّبحِ﴾.[1]

---

۱-داسې الفاظ هم راغلي دي:

يا معشر قريش: شاهت الوجوه و أرغم الله هذه المعاطس، لقد جئتكم بالذبح.

يعنی ای د قريشو ډلې! ستاسو مخونه مسخه شوي، الله دې دا پزې سپکې کړي زه ستاسو وژنې ته راغلی يم.

ژباړه: (( اورئ ای د قریشو ډلې، په هغه ذات قسم چې زما نفس يې په واک کې دی ستاسو وژلو ته راغلی یم.))

د مشرکینو لویان وارخطا شول، د عذر او ننواتو په کولو سره يې غوښتل د پیغمبرﷺ غوسه کمه کړي.

۲. د اسلام تر ټولو سخت دښمن ابوجهل، چې يو ظالم او فاجر سړی و، تل به یې د پیغمبرﷺ سره حسد او کینه کوله، یوه ورځ چې یو اراشي سړي خپل اوښ وربانديې پلورلی و او ابوجهل یې حق نه ورکاوه، نوموړی د قریشو يو مجلس ته راغی او ویې ویل: مسافر یم، له تاسو څخه داسې څوک شته چې له ابوجهل څخه زما پور واخلي؟ د مجلس خلکو د ملنډو په موخه حضرت محمدﷺ چې د مسجد شریف په یوه گوښه کې يې تشریف درلود، ور په گوته کړ، چې هغه سړی له ابوجهل څخه ستا پور اخیستی شي!

هغه سړی د اللهﷻ استازي ته ورغی او خپله ستونزه يې ورته بیان کړه. پیغمبرﷺ سمدستي ورسره د ابوجهل کور ته ولاړ او دروازه یې وټکوله. ابوجهل غږ کړ څوک یې؟ پیغمبرﷺ ځواب ورکړ، محمد یم، دلته راشه! ابوجهل په ځغاسته له کوره راووت. په داسې حال کې چې روحیه یې بایللې وه، زیړ رنگ د بې ساکالبوت په څېر د پیغمبرﷺ پر وړاندې ودرید. پیغمبرﷺ ورته وفرمایل: د دې سړي حق ورکړه! ابوجهل د پیغمبرﷺ له وېرې په چپه خوله بې له ځنډه د هغه سړي حق راووړ او ورته ویې سپاره. د مجلس خلکو په کیسې باندې د پوهېدلو لپاره یو سړی په هغوی پسې استولی و. هغه ټوله کیسه د مجلس خلکو ته بیان کړه. کله چې په خپله ابوجهل مجلس ته راغی او د مجلس خلکو په دې هکله ترې پوښتنه وکړه، هغه وویل: کله چې زما ور وډبول شو او د محمدﷺ غږ مې تر غوږ شو، په زړه مې ویره ننوته او بېواکه يې مخې ته ودرېدم!

۳. حضرت عمرؓ له خپل ټول سخت زړه ورتوب او بدني قوت سره سره چې درلود یې، کله چې د حضرت محمدﷺ د وژنې په قصد توره په لاس په غوسه دار ارقم ته راغی او تر دغه دمه یې ایمان نه و راوړی، پیغمبر ﷺ یې له دواړو متو نیسي او په قهرجنه لهجه ورته وایي: عمره! آیا نه په سد کېږې؟ یا دا چې اللهﷻ دې د وحې په ژبه د ولید بن مغیره په څېر خوار او سپک کړي.

حضرت عمر ؓتوره په لاس پرته له دې چې کومه خبره وکړي، د شهادت کلمه وايي او مسلمان کېږي.

## فعالیت

زده کوونکي دې د ښوونکي په مرسته د پیغمبر علیه السلام د هیبت یو بل مثا ل بیان کړي.

## ۷_ د پیغمبر ﷺ زړورتیا او غیرت

حضرت انس رضي الله عنه وایي: ﴿کَانَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ اَحْسَنَ النَّاسِ وَکَانَ اَجْوَدَ النَّاسِ وَکَانَ اَشْجَعَ النَّاسِ﴾.

ژباړه: رسول الله ﷺ تر ټولو خلکو ډېر ښه، ډېر سخي او ډېر زړور و.

حضرت انس وایي: یوه شپه د مدینې اوسېدونکي د یوه بد غږ په اورېدلو سخت ووېرېدل، خلکو د غږ په لوري منډې کړې، ګوري، چې پیغمبر ﷺ پر آس سپور، توره پر غاړه د دوی مخې ته را روان دی او فرمایي: مه وېرېږئ، مه وېرېږئ، هېڅ نشته.

داسې کارونه یوازې د هغه چا له خوا ترسره کېږي، چې زړورتیا یې په زړه کې ځپې وهي، خورا اتل او د لوی زړه خاوند وي. پیغمبر ﷺ صحابه و ته د هجرت امر کاوه، خو په خپله یې په یوازې سر د مکې په بازارونو کې تګ راتګ کاوه او په ډېره زړورتیا او بې پروایۍ یې مشرکین اسلام ته رابلل او خیله دنده یې پرمخ بیوله.

## له لوست څخه زده کړې

- د پیغمبر ﷺ اخلاق قرآن دی.
- پیغمبر ﷺ لوړ شخصیت درلود.
- بې زړه توب د انسان په شخصیت کې کمی او نقصان دی.

## ارزونه

۱. له خپلو یارانو سره د پیغمبر ﷺ چلند بیان کړئ.
۲. کله به پیغمبر ﷺ غوسه کېده؟ تشریح یې کړئ.
۳. د پیغمبر ﷺ د هیبت په اړه د عمرو بن العاص کیسه بیان کړئ.
٤. له ابوجهل څخه د مسافر سړي حق چا واخیست؟ په لنډه توګه یې بیان کړئ.

## کورنۍ دنده

په پنځلسو کرښو کې د پیغمبر ﷺ د شخصیت په هکله خپل معلومات ولیکئ.

## نولسم لوست

# د وحي نزول

مخکې مو ولوستل، چې کله حضرت محمدﷺ خلوېښت کلنۍ ته نږدې شو، له قوم او ښار څخه د لرېوالي او ګوښه ناستي سره يې مينه پيدا شوه او د دې لپاره يې د حرا غار غوره کړ، هملته و چې جبرئيلعليه السلام راغی او د الله جل جلاله پيغام يې ورته راوړ، په دې لوست کې به د وحې په هکله بحث وکړو.

## د وحې پيل

د دوشنبې شپه د رمضان د مبارکې مياشتې په اوولسمه په داسې حال کې چې حضرت محمدﷺ د حراء په غار کې په عبادت او تفکر بوخت و، ناڅاپه جبرئيلعليه السلام راغی او ورته يې وويل: ولوله! پيغمبرﷺ وويل: زه لوستونکی نه يم. پيغمبرﷺ فرمائي: پرښتې په غېږ کې داسې ټينګ ونيولم، چې ټول واک مې له لاسه ورکړ. بيا يې پرېښودم او راته يې وويل: ولوله! ما وويل: لوستونکی نه يم، بيا يې په غېږ کې کښېکاږلم او بې وسه يې کړم. بيا يې پرېښودم او راته يې وويل: ولوله! ومې ويل: لوستونکی نه يم. په دريم ځل يې بيا ټينګ ونيولم او پرې يې ښودم او وېې ويل: ﴿اقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِي خَلَقَ (١) خَلَقَ الْإِنسَانَ مِنْ عَلَقٍ (٢) اقْرَأْ وَرَبُّكَ الْأَكْرَمُ (٣) الَّذِي عَلَّمَ بِالْقَلَمِ (٤) عَلَّمَ الْإِنسَانَ مَا لَمْ يَعْلَمْ (٥)﴾ (د علق سورت ١ ـ ٥ آيتونه.)

**ژباړه**: د خپل رب په نامه ولوله. هغه ذات چې (هر څه يې) پيدا کړي. انسان يې له ترلي وينې څخه پيدا کړی. ولوله! ستا رب ډېر ستر او ډېر ورکوونکی (سخي) دی، هغه ذات چې انسان ته يې د قلم په واسطه ښوونه وکړه. هغه څه يې انسان ته وروښودل، چې پرې نه پوهېده.

د دې آيتونو له نازليدلو وروسته پيغمبرعليه السلام ترهېدلی خپل کورته راغی او خديجېرضي الله عنها ته يې وويل: ما ونغاړئ، ما ونغاړئ. هغهﷺ يې ونغښته، تر دې چې وېره يې لرې شوه. خديجېرضي الله عنها ته يې وويل پر ماڅه شوي دي؟ بيايي خديجهرضي الله عنها له پېښې خبره کړه او وېې فرمايل: پر ځان ډارېږم. خديجېرضي الله عنها وويل: داسې نه ده پر خدایجل جلاله قسم چې ستا رب به هېڅکله تا رسوا نه کړي،

ځکه چې ته د خپلولۍ د پیوند خیال ساتې، د بې وسو بار اوچتوې او له مسکینانو سره مرسته کوې او تش لاسو ته خپل مال ورکوې، مېلمه پالنه کوې او د حق په لار کې د خلکو مرستندوی یې.

### فعالیت

درنو زده کوونکو حضرت خدیجه رضی الله عنها څنګه وپوهېده، چې الله ﷻ حضرت محمد ﷺ نه رسوا کوي؟ او د پیغمبر د وېرې لامل څه و؟ د دغو دواړو موضوعګانو په هکله د نظر څرګندونه وکړئ.

## د پیغمبرۍ لومړنی زېری

حضرت خدیجې رضي الله عنها پیغمبر ﷺ له ځان سره خپل د تره زوی (ورقه بن نوفل) ته چې یو زوړ سړی و او د عمر په وروستیو کې ړوند شوی هم و، ورووست. هغه له شرک څخه نصرانیت ته اوښتی و او عبراني لیک یې زده و او د انجیل ځینې برخې یې په عبراني ژبې لیکلې.

حضرت خدیجې رضي الله عنها ورقه ته وویل: د تره زویه! له خپل وراره (محمد ﷺ) څخه دې واوره!

ورقه وویل: وراره! څه دې لیدلي دي؟

پیغمبر ﷺ چې څه د حراء په غار کې لیدلي وو، بیان یې کړل. ورقه وویل: دا هماغه په الٰهي رازونو پوه دی، چې الله ﷻ موسیٰ ته را استولی و. کاشکې زه غښتلی ځوان وای، کاشکې تر هغه وخته ژوندی وای، چې کله ستا قوم تا له مکې څخه وباسي او ما دې ملاتړ کړی وای.

پیغمبر ﷺ په حېرانتیا سره وویل: آیا هغوی ما وباسي؟ ورقه وویل: هو! هر چا چې ستا په شان پیغام راوړی دی، قوم یې ورسره د دښمنۍ لار نیولې ده، که هغه ورځ راغله او زه ژوندی وم کلکه مرسته به دې وکړم، خو ډېر وخت نه و تېر شوی چې ورقه مړ شو او د وحې نزول هم د څه وخت لپاره پرې شو.

## د وحې بندېدل

د وحې د بندېدلو په هکله صحیح قول دا دی، چې شو ورځې وحی بنده شوه. پیغمبر علیه السلام د

وحي د بندېدو په ورځو کې ډېر غمجن او په غم او وېره کې و، تر دې چې د وحې بهير بيا پيل شو او زړه يې په کرار شو.

پېغمبر عليه السلام د وحې د بيا پيل کېدو په هکله فرمايي: مزل مې کاوه چې ناڅاپه مې د آسمان له خوا يو آواز واورېده، سر مې د آسمان پر لور اوچت کړ. هماغه پرښته مې وليدله، چې د حراء په غار کې راته راغلې وه. د آسمان او ځمکې ترمنځ په يوې کرسۍ ناسته وه. ترې و وېرېدم او په ځمکه پرېوتم. بيا خپل کور ته راغلم او ومې ويل: ما ونغاړئ! ما ونغاړئ! هغوی ونغاړلم همغه و، چې الله جل جلاله دغه آيتونه راواستول: ﴿يَا أَيُّهَا الْمُدَّثِّرُ (١) قُمْ فأنذِرْ (٢) وَرَبَّكَ فَكَبِّرْ (٣) وَثِيَابَكَ فَطَهِّرْ (٤) وَالرُّجْزَ فَاهْجُرْ (٥)﴾ المدثر سورت، ١_ ٥ آيتونه))

**ژباړ**: ای په جامو کې نغښتيه! پاڅېږه! (خلک د خدای له عذابه) ووېروه او يوازې خپل رب په کبريايۍ او لويۍ سره وستايه! او خپل لباس پاک ساته! او له ناوليو او پليتو شيانو څخه لرې اوسه.

### فعاليت

ورقه څنګه پوه شو چې دغه پرښته جبرئيل عليه السلام و او قريش به حضرت محمد صلی الله عليه وسلم د رسالت له اعلان وروسته د مکې له ښار څخه باسي؟ په دې اړه دې زده کوونکي د نظر څرګندونه وکړي.

## د وحې ډولونه

### پيغمبر صلی الله عليه وسلم ته به په څو ډوله وحې راتله

١. رښتيني خوبونه: چې کله به يې خوب وليده، سهاربه د لمر په شان ښکاره پلې کېده.

٢. الهام: پرته له دې چې پرښته وليدل شي، د پيغمبر صلی الله عليه وسلم په زړه کې به يې الهام، يعنې پوهه واچوله.

٣. وحې به د زنګ د اواز په څېر د پيغمبر صلی الله عليه وسلم په بدن کې انګازې کولې، خو خپله پرښته ورته نه څرګندېدله، دا ډول وحې به د پيغمبر صلی الله عليه وسلم لپاره ډېره سخته وه.

٤. پرښته به د يو سړي په بڼه څرګندېده او خبرې به يې ورسره کولې، ترڅو د پرښتې خبرې ذهن ته وسپارې، کله کله به په دې ډول وحې کې صحابه کرامو هم پرښته ليدله.

٥. پرښته به په خپله اصلي بڼه او څېره څرګندېدله. جبرئيل عليه السلام دوه ځلې په دې بڼه پيغمبر صلی الله عليه وسلم

ته څرګند شوی دی.

٦. هغه څه چې الله جَلَّ جَلَالُهُ د معراج په شپه د اوو آسمانونو له پاسه پیغمبر صلی الله علیه وسلم ته وحې کړله.

٧. د پرښتې له وساطت پرته د الله جَلَّ جَلَالُهُ مستقیمې خبرې، چې له موسٰی عَلَيْهِ السَّلَام سره په قطعي ډول او زموږ له پیغمبر سره د اسراء د حدیث له مخې شوې دي، دا ډول وحې ثابته ده.

## له لوست څخه زده کړې

- پیغمبر صلی الله علیه وسلم بشر و او بشري طبیعت یې درلود له همدې امله و چې د جبرئیل عَلَيْهِ السَّلَام له لیدلو څخه پرې ویره، غم، اندېښنه او خفګان راغی.
- پیغمبر صلی الله علیه وسلم امي (نالوستی) و او له وړاندې څخه د پیغمبرۍ په فکر کې نه و.
- خدیجه رضي الله عنها یوه هوښیاره او باعزمه مېرمن وه او په دې سترې أزموینې سره یې په ډېر استقامت چلند وکړ.
- د الله تعالی له لورې پیغمبر صلی الله علیه وسلم باندې اووه ډوله وحې نازله شوې ده.

## ارزونه

١. ورقه بن نوفل حضرت محمد صلی الله علیه وسلم ته څه وویل؟

٢. د وحې بندېدل څو ورځې و؟ په دې موده کې پیغمبر صلی الله علیه وسلم څه حالت درلود؟

٣. پر پیغمبر صلی الله علیه وسلم څو ډوله وحې راغلې ده؟ له دې جملې څخه الهام تعریف کړئ؟

٤. د مدثر سورت څه وخت پر حضرت محمد صلی الله علیه وسلم نازل شوی دی؟

## کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د وحې ډولونه په تفصیل سره په خپلو کتابچو کې ولیکي.

شلم لوست

# د نبوت په پیل کې د خدیجې رضي الله عنها درېځ

په تېرو لوستونو کې مو ولوستل، چې کله جبرئیل علیه السلام د حراء په غار کې پېغمبر ﷺ ته راغی او د علق سورت څو لومړني آیتونه یې ورته تلقین کړل. پیغمبر ﷺ له ویرې لړزېده، خدیجې رضي الله عنها ته راغی او کیسه یې ورته بیان کړه، خدیجې رضي الله عنها په ډېرې هوښیارۍ او سړې سینې سره تسلي ورکړه او د لا زیات اطمینان لپاره یې ورقه بن نوفل ته ورووست.

## د بلنې په پرمخ بېولو کې د ښې ماندینې اغېز

پیغمبر علیه السلام د حراء له غار څخه په مات زړه خپل کور ته راستون شو او خدیجې رضي الله عنها ته یې وویل: ما ونغاړئ! ما ونغاړئ! هغه یې ونغښت، بیا یې وویل: د ځان په اړه وېرېږم، خدیجې رضي الله عنها وویل: داسې نه ده، قسم په الله جل جلاله چې ستا رب به هېڅکله تا رسوا نه کړي، ځکه ته له دوستانو سره خپلولي پالې، د بېوزلو بار پر خپلو اوږو اخلې، له ناچارو سره مرسته کوې خپل مال تش لاسو ته ورکوې، مېلمه په ډېر عزت او درناوي پالې او له خلکو سره د حق په لار کې مرستندوی یې.

د وحې په هکله د خدیجې رضي الله عنها دغه درېځ د هغې په ژورې پوهې دلالت کوي، ځکه هغې د پیغمبر ﷺ د ژوند واقعیت او هغه څه په منځ کې چې اورېدلي یې وو په چټکتیا سره مقایسه وکړه او دې پایلې ته ورسېده، چې هر هغه څوک چې په کریمه اخلاقو سمبال وي، الله تعالی یې هېڅکله نه خواروي.

په دې ترتیب خدیجې رضي الله عنها ته ډېر ژر د فطري ایمان پرلور هدایت وشو او په نړۍ کې د الله جل جلاله په سنتو او قوانینو پوه شوه او په دې باوري شوه، چې د محمدرسول الله ﷺ حمیده اخلاق او فضایل د هېڅ بشر په طبعي ژوند کې نشته.

د خدیجې رضي الله عنها پوخ یقین و، چې په خاوند کې یې فطري کمالي خصلتونه او پریمانه اخلاقي محاسن شتون لري، چې د هغه بریا وې، تضمینوي، خدیجې رضي الله عنها د خپلې دغې عقیدې د اثبات

لپاره د پیغمبرﷺ په ځینو صفتونو استدلال وکړ، چې هېڅکله به په خپل ژوند کې له خوارۍ او ذلت سره مخامخ نه شي، ځکه د بشري ټولنو په تاریخ کې داسې نه دي تېر شوي، چې یو څوک دې اللهﷻ په حمیده اخلاقو او نېکو خصلتونو ښکلی کړی وي او بیا یې په ژوند کې له خوارۍ سره مخامخ کړی وي. په څرګند ډول حضرت محمدﷺ د اوچتو اخلاقو خاوند و او فطرتاً اللهﷻ همداسې پیدا کړی و.

## فعالیت

خدیجه رضی الله عنها له کومه ځایه پوهه شوه چې پیغمبرﷺ ته یې ډاډ ورکړ، چې اللهﷻ به هېڅکله تا نه خواروي؟ زده کوونکي دې د پیغمبرﷺ د نېکو خویونو او د خدیجې رضي الله عنها د سالمې پوهې په اړه خبرې وکړي.

## ورقه بن نوفل

خدیجې رضي الله عنها یوازې د حضرت محمدﷺ په اخلاقی مکارمو بسنه ونه کړه، بلکې هغه یې خپل د تره زوی، ورقه بن نوفل ته ، چې یو ستر عالم و او د آخرالزمان پیغمبر د ظهور انتظار یې کاوه، ورووست. د ورقه خبرو د حضرت محمدﷺ په ثبات او قلبي اطمینان ښه اغېز وکړ، ځکه پیغمبرﷺ ته یې ډاډ ورکړ، هغه څوک چې تا ته راغلی، هغه ستر راز پوه دی، چې د الله ﷻ او پیغمبرانو علیهم السلام ترمنځ د وحي راوړونکي دنده ترسره کوي.

## د پیغمبرﷺ پر ژوند باندې د خدیجې رضي الله عنها تاثیر

خدیجې رضي الله عنها د حضرت محمدﷺ په ژوند کې له واده نه تر بعثته او بیا د دعوت د کارونو په پرمخ بېولو کې، ډېر مهم رول لوبولی دی، ځکه هغه په خپل قوم کې دغوره شخصیت لرونکې وه. مهربانه، د زغم خاونده، هوښیاره، مدبره او د عالي اخلاقو مېرمن وه. اللهﷻ دغه مثالي او عظیمه مېرمن له دې امله د حضرت محمدﷺ په برخه کړه، ترڅو د ګردو نړیوالو لپاره او په ځانګړي ډول اسلامي بلونکو ته یوه بېلګه وي. بې له شکه خدیجه رضي الله عنها د اسلامي داعیاتو لپاره یوه غوره او

ستره بېلګه ده. څکه داعي يوې داسې ميرمنې ته اړتيا لري، چې د دعوت د وجيبې اهميت او هغه رنځونه او کړاوونه چې په دې لار کې ګالل کېږي وپېژني او د دعوت د دندې د آسانتيا په موخه د خپل خاوند ترڅنګ ولاړه وي، نه دا چې د هغه په وړاندې خنډ جوړ شي.

ښه مانديڼه د يوه داعي په بریاوو کې ځانګړی اغېز لري او دا د خديجېؓ له دريځ څخه معلومولای شو، چې په څه ډول د حضرت محمدﷺ ترڅنګ ودرېده، په داسې حال کې چې د وحې نزول يې لومړی ځل تجربه کاوه.

د اللهﷻ په لور بلنه خورا ستر کار دی، چې انسان يې ترسره کوي. که يو داعي د نيکې او باکفايته مانديني په لرلو بر لاسی شي، نو دا به ورته ستره کاميابي وي، رسول اللهﷺ فرمايلي دي: ﴿ الدُّنْيَا مَتَاعٌ وَخَيْرُ مَتَاعِ الدُّنْيَا الْمَرْأَةُ الصَّالِحَةُ ﴾.

**ژباړه** : دنيا ټوله متاع ده او د دنيا خورا ښه متاع، صالحه ښځه ده.

له بل پلوه رسول اللهﷺ هم د يو وفادار خاوند په توګه ډېر ستر مثا ل و. له خپلې دې اخلاصمندې مانديني سره، لا ښه وفادار پاتې شو. په ژوند او له مرګ وروسته په دواړو حالتونو کې يې ښه و پالله.

په دې هکله ام المؤمنين عايشه رضي الله عنها وايي: د پيغمبرﷺ په ښځو کې مې په هيچا رخه نه وه، خومره مې چې له خديجې رضي الله عنها سره رخه وه، سره له دې چې ليدلې مې هم نه وه، خو پيغمبرﷺ به ډېره يادوله او کله به يې چې کوم پسه حلال کړ اوغوښه به يې ټوټه ټوټه کړه، د خديجې رضی الله عنها خپلوانو ته به يې هرو مرو استوله. کله کله به مې ويل: ګواکې په دنيا کې له خديجې رضی الله عنها نه پرته، بله کومه ښځه نشته؟ پيغمبرﷺ به فرمايل: هغه داسې او هغسې وه .

خدای پاک تر خدیجې غوره ښځه ماته نه ده راکړې. هغې پر ما ایمان راوړ، کله چې خلك له ما کافر شول، هغې زه ومنلم، کله چې خلکو زه تکذیب کړم. په خپل مال یې له ما ملاتړ وکړه. کله چې خلکو محروم کړم. له هغې څخه یې اولادونه را پر برخه کړل چې له نورو مېرمنو څخه یې نه لرم.

### فعالیت

د پیغمبرﷺ پر روحیه باندې د ورقه بن نوفل د خبرو څه اغیز و؟

### له لوست څخه زده کړې:

- له خپل خاوند، حضرت محمدﷺ سره د خدیجې رضي الله عنها مینه.
- د یو داعي په بریا یا ناکامۍ کې د ښځې ټاکونکی رول.
- د حضرت محمدﷺ وفا له خدیجې رضي الله عنها سره چې کله ژوندۍ وه او هم یې له مرګ وروسته.

### ارزونه

۱. ورقه بن نوفل څه ډول شخص و؟

۲. له خدیجة الکبرٰی رضي الله عنها سره د حضرت محمدﷺ د وفا یوه بېلګه ووایاست.

۳. هغه حدیث شریف بیان کړئ چې د نیکې ښځې اهمیت په کې بیان شوی دی.

٤. ورقه بن نوفل ته د حضرت محمدﷺ له بېولو څخه د خدیجې رضي الله عنها موخه څه وه؟

### کورنۍ دنده

عزتمنو زده کوونکو، د رسول اکرمﷺ د دعوت په کار کې د حضرت خدیجې رضي الله عنها د فعال او جوړوونکي نقش په هکله په خپلو کتابچو کې یوه مقاله ولیکئ.

## یوویشتم لوست

# د پټې بلنې مرحله

په تېرو لوستونو کې مو ولوستل، چې کله د یوې مودې لپاره وحې بنده شوه، پیغمبرﷺ په اندېښنه او خپگان کې واقع شو، تر دې چې د مدثر سورت د لومړنیو آیتونو په نازلېدو سره د وحې نازلېدل له سره پیل شول، چې د پیغمبرﷺ د ډاډینې سبب شو.

## د سترې دندې د پیلېدلو اعلان

اوس حضرت محمدﷺ باوري دی، چې د الله جل جلاله پیغمبر دی، جبرئیل علیه السلام دویم ځل ورته راغی او د مدثر سورت لومړني آیتونه یې له ځان سره راوړل: ﴿يَا أَيُّهَا الْمُدَّثِّرُ (١) قُمْ فَأَنذِرْ (٢) وَرَبَّكَ فَكَبِّرْ (٣) وَثِيَابَكَ فَطَهِّرْ (٤) وَالرُّجْزَ فَاهْجُرْ (٥)﴾ (المدثر سورت ۱ _ ۵ آیتونه).

ژباړه: ای جامو کې نغښتیه! پاڅېږه (خلک دخدای له عذابه ) ووېروه او یوازې خپل رب په لوئي سره وستایه! او خپلې جامې پاکې ساته او له چټلو او ناپاکو څیزونو لرې اوسه.

د دې آیتونو نازلېدل، په حقیقت کې د دې خبرې اعلان و، چې نور د استراحت پړاو تېر شوی او له داسې ستر مسؤولیت سره مخامخ دی، چې وېښتیا او متې رانغاړل ایجابوي، باید خلکو ته لاربښوونه وشي چې د توحید او ښو عملونو خوا ته مخه کړي او د مخالفت په صورت کې د خدای له عذابه ووېرېږي.

الله جل جلاله د مدثر سورت په لومړنیو آیتونو کې پیغمبرﷺ پر دې گوماري چې خلکو ته خپل رسالت ورسوي، چې د پورتنیو مبارکو آیتونو د حکم په رڼا کې په لاندې څو ټکو کې رالنډېږي:

توحید او د یوه خدای پالل، د آخرت په ورځ ایمان، د نفس تزکیه، د نېکو اخلاقو او صالحه اعمالو ترسره کول، له ټولنې څخه د فساد لرې کول او پر ځای یې د نېکیو اقامه کول، البته دغه ټول د حضرت محمدﷺ پر رسالت له ایمان وروسته او د هغهﷺ له تدبیر او حکمت نه ډکې لاربښوونې د پیروۍ په صورت کې ترسره کېدای شي.

**فعالیت**

عزتمنو زده کوونکو د ﴿قُمْ فَأَنذِرْ (٢) وَرَبَّكَ فَكَبِّرْ (٣)﴾ له مبارکو آیتونو څخه څه مطلب اخلئ؟

## د پټې بلنې پیل

کله چې د مدثر سورت لومړني آیتونه نازل شول، پیغمبرﷺ په پټه اسلام ته بلنه پیل کړه، دا ځکه چې مکه د عربانو دیني مرکز و او د کعبې متولیان پکې اوسېدل او د عربو د نورو قبیلو د بتانو ښارنه هم له مکې څخه کېدله.له دې امله د نورو سیمو په نسبت په مکه کې اصلاحي هدف ته لاس رسی ډېر گران و، البته دغه کار کلك او راسخ هوډ ته اړتیا درلوده، ترڅو د مصیبتونو او کړاوونو پر وړاندې تزلزل نه منونکی اوسي، الٰهی حکمت ایجابوله، چې بلنه دې پټه وي، ترڅو د مکې د اوسېدونکو لپاره چې په خپله بت لمانځه کې یې تعصب درلود، یو ناڅاپي کار نه وي.

د دې پړاو نازکتیا ته په پاملرنه پیغمبرﷺ په ټولو غونډو کې اسلام ته د قریشو بلنه نه کوله او نه یې هغه کسان رابلل چې خپلولي یې ورسره نه وه او یا یې له مخکې ورسره پېژندگلوی نه لرله.

## د اسلامي بلنې پړاوونه

کولای شو د محمدي بلنې تاریخ په دوو عمده برخوو ووېشو:

١. مکي دور، چې نږدې ١٣ کاله و.

٢. مدني دور، چې پوره لس کاله و او د پیغمبرﷺ تر رحلت پورې یې دوام درلود.

دغه دواړه دورې (مکي او مدني) چې یوله بل څخه توپیرلري، د مختلفو پړاوونو لرونکي دي او د دواړو دورو ترمنځ توپیر، هغو شرایطو ته په کتلو سره چه اسلامي دعوت پرې تېرېږي، ښه څرگندېږي.

## مکي عصر په دريو پړاوونو وېشل کېږي

۱. د پټې بلنې پړاو: چې د بعثت له پیله یې درې کاله دوام درلود.

۲. د مکې خلکو په منځ کې د بلنې د اعلان پړاو: دغه پړاو، د بعثت د څلورم کال له پیله د لسم کال تر پایه پورې و.

۳. د مکې څخه بهر د اسلام د خپراوي او بلنې پړاو: دغه پړاو د بعثت د لسم کال له پایه، مدینې منورې ته د حضرت محمدﷺ تر هجرت پورې دوام درلود.

### فعالیت

عزتمندو زده کوونکو! په لومړیو وختونو کې ولې اسلامي بلنه ډېره د مکې اوسېدونکو ته متوجه شوې وه؟ سره له دې، چې پیغمبرﷺ ټولو انسانانو ته استول شوی و؟ نظر ورکړئ.

### له لوست څخه زده کړې

د بعثت په لومړنیو کلونو کې حضرت محمدﷺ د بلنې کار پټ ساته او یوازې هغه کسان یې رابلل چې باوري به شو چې ایمان راوړي. دغه کار د نورو بلونکو لپاره د احتیاط او ظاهري اسبابو د کارولو په مشروعیت کې یو لارښوود دی، البته له لازم احتیاط څخه کار اخیستل تر هغې مشروعیت لري چې پر الله تعالی باندې د توکل له اصل سره ټکر ونه لري. په دې اساس هر مسلمان بلونکی کولی شي د خپلې زمانې له شرایطو سره سم د دعوت د څرنګوالي په هکله چې په پټه وشي که ښکاره، تشدد پکې وشي که نرمښت، لازم هوډ ونیسي.

## ارزونه

۱. د بعثت په لومړنيو کلونو کې د پيغمبرﷺ د بلنې اصلي موخې څه وې؟

۲. د پيغمبرﷺ بلنه په څو دورو وېشل شوې وه او بيا هره دوره یې څو پړاوونه لري؟

۳. ولې پيغمبرﷺ خپله بلنه پټه ساتله، په داسې حال کې چې وظيفه يې نړيوالو ته د خپل رسالت رسول و؟

٤. د دعوت په هکله له احتياط څخه کار اخيستل ترکومه حده روا او مشروع دي؟

## کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د دعوت په لومړنيو پړاوونو کې د بلنې د پټوالي د ګټې او اهميت په اړه په خپلو کتابچو کې يوه لنډه مقاله وليکي.

## دوه ویشتم لوست

# د اسلام مخکښان

د مدثر سورت د لومړنیو آیتونو له نازلېدلو وروسته پیغمبرﷺ د اسلام سپېڅلي دین ته دخلکو په را بللو پیل وکړ. طبیعي خبره ده چې بلنه یې د خپلې کورنۍ له غړو او نږدې خپلوانو څخه پیل کړې وای. لومړني کسان چې په اسلام مشرف شول: خدیجهرضي الله عنها ، علي بن ابي طالب، زید بن حارثه، ابوبکر، عثمان بن عفان، زبیر بن عوام، عبدالرحمٰن بن عوف او سعد بن ابي وقاص وو.

### ۱- خدیجه بنت خویلد

لومړنۍ ښځه، بلکې لومړنی انسان دی، چې پرحضرت محمدﷺ یې ایمان راوړ. خدیجهرضي الله عنها د هغهﷺ وفاداره ماندینه وه، خدیجهرضي الله عنها لومړنۍ نیک بخته ښځه وه، چې قرآن کریم او الٰهي وحې یې د حضرت محمدﷺ له مبارکې خولې څخه واورېده.

همدارنګه لومړنۍ مېرمن وه، چې د رسول اللهﷺ څخه وروسته یې قرآن کریم تلاوت کړ او لومړنی انسان و چې لمونځ یې له رسول اللهﷺ څخه زده کړ. د خدیجېرضي الله عنها کور لومړنی کور و چې الٰهي وحې وروسته له هغې، چې د حراء په غار کې د آنحضرت په زړه نازله شوه، په کې ولوستل شوه.

### ۲- ابوبکر بن ابي قحافه

د مشرانو په ډله کې لومړنی سړی ابوبکر صدیقرضي الله عنه و چې په پیغمبرﷺ یې ایمان راووړ. ابوبکر صدیقرضي الله عنه تر بعثت وړاندې د پیغمبر په ځانګړو یارانو او دوستانو کې و. پیغمبرعليه السلام د ابوبکر صدیق رضي الله عنه د ایمان په اړه فرمایي:(( ما چې څوک اسلام ته رابللي، شکمن او ټکني شوي دي. پرته له ابوبکر صدیقرضي الله عنه څخه، چې له دعوت کولو سره سم یې پرته له ځنډه ایمان راووړ))، د ابوبکر صدیقرضي الله عنه اسلام د یو تن اسلام نه و، بلکې د یو امت اسلام و، ځکه ابوبکر صدیقرضي الله عنه په قریشو کې ځانګړی مقام درلود، د نیک سیرت خاوند و او په ډېرو کارونو کې به خلکو ورته مراجعه کوله.

## ۳- علي بن ابي طالب

د خدیجې (رض) له ایمان راوړلو وروسته د هلکانو په ډله کې حضرت علي﷠ لومړنی شخص و چې د اسلام مبارك دین يې ومانه او هغه په دغه مهال د لسو کالو و.

پر حضرت علي﷠ باندې د الله تعالی يو نعمت دا و چې تر ایمان رالوړلو وړاندې د پیغمبرﷺ په غیږ کې وروزل شو او ستر شو، ځکه پیغمبرﷺ هغه له خپلې کورنۍ سره يو ځای کړی و. په دې ډول حضرت علي﷠ له حضرت محمدﷺ او حضرت خدیجې﷦ وروسته دريم سړی و، چې لمونځ يې وکړ.

روايت دی، چې پر حضرت محمدﷺ هغه مهال يوازې دوه لمونځونه فرض وو، غرمه او ماښام. حضرت علي﷠ به يې د هغه له پلار او ترونو څخه پټ له ځان سره ملګری کاوه او د مکې ناوونو ته به يې تشریف ووړ، دواړو به لمونځ کاوه او ماښام به بېرته راتلل.



### فعالیت

درنو زده کوونکو! د اسلام د پیغمبر منونکي له کومې طبقې څخه وو او آيا د اسلام مخاطبان يوه ځانګړې طبقه وه او که نه؟ په دې اړه نظر ورکړئ.

## ۴- زيد بن حارثه

د مريانو په ډله کې زيد بن حارثه لومړنی شخص و چې مسلمان شو. زيد د پیغمبرﷺ دوست او د هغهﷺ آزاد شوی مريي و او په زوی ولی سره يې هم نيولی و. کله چې د زيد پلار او تره مکې ته راغلل، ترڅو هغه له رسول اللهﷺ څخه د پيسو په بدل کې آزاد کړي پیغمبرﷺ د دې کار واک خپله زيد ته وسپارلو، چې خوښه دې، خپل پلار او قوم سره اوسېږې او که له ما سره؟ زيد ورته وويل: پر تا باندې هېڅوك نشم غوره کولی، ته ما ته د پلار او تره حيثيت لرې.

د زيد پلار او تره وويل: افسوس پر تا، مريیتوب ته پر آزادۍ، پلار، تره او کورنۍ باندې ترجيح

ورکوې؟ زید وویل: هو! له دې سړي څخه مې داسې څه لیدلي، چې هېڅکله نشم کولای بل چا ته پرې ترجیح ورکړم. بیا نبي کریم ﷺ د هغه د آزادولو او په زوی ولی نیولو اعلان وکړ.

## د اسلامي بلنې په خپراوي کې د ابوبکر رضي الله عنه رول

ابوبکر رضي الله عنه له خپل ټولنیز او اخلاقي منزلت څخه په استفادې د اسلام دین ته د نورو په رابللو پیل وکړ. څه وخت لا نه و تېر شوی چې د مکې غوره او تکړه ځوانانو د هغه دعوت ته لبیک وواېه او ایمان یې راووړ، چې نومونه یې دا دي: ۲٤ کلن عثمان بن عفان، ۳۰ کلن عبدالرحمٰن بن عوف، ۱۷ کلن سعد بن ابي وقاص، ۱۳ کلن طلحه بن عبیدالله او ۱۲ کلن زبیر بن العوام رضي الله عنهم.

دغه پنځه اتلان د ابوبکر صدیق رضي الله عنه د اسلام لومړنۍ پایله وه، چې د هغه بلنه یې ومنله او د محمد رسول الله ﷺ په حضور کې په ایمان مشرف شول . دا د مسلمانانو لومړنۍ ډله وه او د مسلمانانو دویمه ډله دغه لاندې حضرات دي:

ابوعبیده بن جراح، ابوسلمه، ارقم بن ابي ارقم، خباب بن ارت، عثمان، قدامه او عبدالله د مظعون زامن، عبیده بن حارث، سعید بن زید رضی الله عنهم او فاطمه بنت خطاب (د حضرت عمر خور)، د ابوبکر لوڼې اسماء او عایشه رضی الله عنهن.

د درېیمې ډلې مسلمانانو شمېر خورا زیات و چې نامتو یې دا دي: عبدالله بن مسعود، عبدالله بن جحش، جعفر بن ابي طالب او ښځه یې اسماء بنت عمیس، خالد بن سعید بن عاص، صهیب بن سنان رومي، ابوذر غفاري، حبشي بلال رضي الله عنهم.

یو شمېر ځوانې ښځې چې نومونه یې دلته ذکر نه شول او له خپلو خاوندانو سره یې یو ځای ایمان راوړ، په همدې درېیمې ډلې کې دي، رضوان الله تعالی علیهم اجمعین.

## ۵. د حضرت محمد ﷺ لوڼې

د لومړنیو مؤمنانو په ډله کې د پیغمبر ﷺ لوڼې: زینب، رقیه، ام کلثوم او فاطمه وې. دوی د رسول اکرم ﷺ تر بعثت وړاندې هم د خپل عزتمند پلار د نېکو اخلاقو، ښه سلوك او سپېڅلتیا تر اغېزې لاندې وې، نبوي کورنۍ د ټولو مسلمانو کورنیو لپاره یوه بېلګه کورنۍ وه.

## فعالیت

درنو زده کوونکو! د بعثت په پیل کې له خپلو خاوندانو سره د ځوانو ښځو ایمان راوړل څه را ښيي؟ آیا ښځه کولای شي له نارینه سره اوږه په اوږه د دعوت په ډګر کې فعالیت وکړي؟

## له لوست څخه زده کړې

- هغه داعي بریالی دی، چې نږدې خپلوان او د کورنۍ غړي يې تر نورو وړاندې د ده پر موخو او هیلو باوري شي.
- ابوبکر صدیق رضي الله عنه دویم شخص و چې له پیغمبر ﷺ وروسته يې د مکې په خلکو کې د اسلام په خپراوي کې فعال رول درلود.
- د اسلام مخکښان هغه کسان وو، چې د ټولنې له مختلفو طبقو څخه يې استازيتوب کاوه، له اشرافو او بډایو څخه نیولې تر مریانو او مسکینانو پورې.

## ارزونه

١. لومړی تنکی ځوان، چې مسلمان شو، څوک و؟

٢. کوم کسان د ابوبکرصدیق رضي الله عنه په دعوت د اسلام پر سپېڅلي دین مشرف شول؟

٣. زید بن حارثه له پیغمبر ﷺ سره څه تړاو درلود؟

## کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د اسلام د پنځلسو تنو سالارانو نومونه په خپلو کتابچو کې ولیکي.

## درویشتم لوست

# دار الارقم

پیغمبرﷺ هغې ډلې مسلمانانو ته چې ایمان یې د قریشو له مشرکینو څخه پټ ساته، دیو مرکز په فکر کې شو، ترڅو په پټه ورته ښوونه او روزنه وکړي. دغه مرکز د صفا غونډۍ ترشا د اسلام د یو سالار حضرت ارقمؓ کور و.

## د دار ارقم پټه مدرسه

د اسلامي بلنې په لومړنیو کلونو کې د ارقمؓ کور داسې یو مرکز شو، چې مسلمانان به په پټه په کې راټولېدل او له رسول اللهﷺ څخه به یې تازه وحې زده کوله، په دار ارقم کې پیغمبرﷺ هغوی ته وعظ او نصیحت کاوه او قرآن کریم یې ورته لوستلو. د پیغمبرﷺ یارانو هم، چې څه په زړونو کې درلودل، په اخلاص یې د رسول اللهﷺ په وړاندې مطرح کول. دغې ډلې مسلمانانو ته په خپله پیغمبرﷺ مستقیماً روزنه ورکوله او په خپله پیغمبرﷺ د رب العلمین تر څارنې لاندې روزنه موندله، دار ارقم یوازنۍستره ښوونیزه او روزنیزه مدرسه وه، چې بشریت یې تر اوسه په نوم ویاړي، ځکه د دې مدرسې ښوونکی او روزونکی رسول اللهﷺ و، چې د ټول بشریت ښوونکی او روزونکی دی. په دې ترتیب د ارقم کور د نړۍ یوه ډېره ستره مدرسه او پوهنځی و، هلته به پیغمبرﷺ د اسلام د شمعې له پتنګانو سره لیده کاته او د نظر تبادله کوله، چې په حقیقت کې دا د سپاهي توب، اطاعت، او لارښوونې پر اصولو او آدابو د پابندۍ لپاره یو عملي تمرین و.

الله ﷻ په دار ارقم کې خپل پیغمبرﷺ ته د دې توفیق ورکړ چې د مسلمانانو لومړنۍ ډله جوړه او تنظیم کړي. د بلنې په دې پړاو کې حضرت محمدﷺ وکولای شول داسې کسان وروزي، چې د جهاد، توحید او بلنې بیرغ اوچت او جزیرة العرب تر خپل کنټرول لاندې راولي او د نیمې پېړۍ په موده کې لویې بریاوې تر لاسه کړي.

## فعالیت

پتمنو زده کوونکو! په دار ارقم کې د رسول الله ﷺ او یارانو ترمنځ څه رنګه تړاو موجود و؟

رسول الله ﷺ لومړنی شخصیت و چې د اسلام شرخ یې په خوځښت راوست. د خلکو د جذب او اغېز لاندې را وستلو ځواک یې درلود، چې په ټولیزه توګه د ځمکې د کرې په تاریخ کې د بشر تر ټولو بشپړه ځېره ګڼل کېږي. کوم مضمون چې د رسول الله ﷺ له خوا د دار ارقم په مدرسه کې لوستل کېده، قرآن کریم و او زیار یې وېسته، چې قرآن کریم یوازنی تعلیمي نصاب او د دغې مدرسې مرکزي فکر وي، ترڅو یې په رڼا کې وګړي، کورنی او اسلامي ټولنه وروزل شي. د دې مدرسې زده کوونکي پوهېدل، چې قرآن کریم او د رسول الله ﷺ لارښوونې د ژوند، سیاست، پرمختګ او دعوت د اساسي قانون دوه اصله او مهم مراجع دي.

د اسلام لومړني نسل، قرآن کریم د حضرت محمد ﷺ له مبارکې خولې څخه په ځانګړې شوق او مینه زده کړ، ترڅو د هغه په تعلیماتو او لارښوونو پوه شي. په حقیقت کې دغه نسل د الٰهي توجیهاتو عملي او تطبیقي تمثیلوونکي دي، نو دار ارقم یوه الٰهي مدرسه وه، داسې خدای پالونکي، بلونکي او لارښوونکي ترې فارغ شوي، چې بشري تاریخ یې مثال نه دی لیدلی.

## د دعوت د مرکز په توګه د دار ارقم د غوراوي لاملونه

پیغمبر علیه السلام د څو لاملونو له مخې دار ارقم د دعوت د مرکز په توګه غوره کړ:

۱ـ د ارقم رضي الله عنه په مسلمانېدلو خلک خبر نه وو، هیچا ګومان نه کاوه، چې حضرت محمد ﷺ به له خپلو یارانو سره د ارقم رضي الله عنه په کور کې راټولېږي.

۲_ ارقم بن ابي ارقم رضي الله عنه له بني مخزوم قبیلې څخه و او بني مخزوم له بني هاشمو سره په جګړه او مخالفت کې په لومړي کتار کې ولاړ وو، نو چا نه منله چې پیغمبر علیه السلام دې خپل مرکز د خپلې قبیلې د دښمنانو د افرادو په یوه کور کې جوړ کړي.

۳_ د مسلمانېدلو پر مهال ارقم رضي الله عنه شپاړس کلن و. کله چې قریش د مسلمانانو د ټولېدلو د مرکز په لټه کې شول، د هېچا په زړه کې نه تېرېده، چې هغه دې د لږ عمره ځوانانو صحابه وو په کورونو کې ولټوي، بلکې په ذهنونو کې یې غالباً دغه فکر ګرځېده، چې د هغوی د راټولیدلو ځای دې د بني هاشم  د قبیلې د یو غړي ابوبکرصدیق رضي الله عنه او یا داسې بل چا کور وي، نو د دغه کور غوراوی د امنیت له مخې خورا حکیمانه و.

## فعالیت

عزتمنو زده کوونکو! د ارقم په کور کې له یارانو سره په یو ځای کېدلو کې پیغمبر صلی الله علیه وسلم څه موخه درلوده؟

## له لوست څخه زده کړې

- هره بلنه او فکر یو ډاډمن مرکز ته اړتیا لري، ترڅو خپل لارویان له خپلو روزنیزو اصولو سم وروزي او رغنده پالنه یې وکړي.
- پیغمبر صلی الله علیه وسلم سره له دې چې په الٰهي وحې یې تایید کېده. مادي امنیتي وسایل او اسباب یې هم په پام کې ساتل.
- هر د رسالت څښتن باید هدف ته تر رسېدو وړاندې د یوه نسل روزنې ته اقدام وکړي، ترڅو د خپل رسالت پر مخ بېولو کې ژمن و اوسي.

## ارزونه

۱. دار ارقم د مکې په کوم ځای کې و؟

۲. پیغمبرﷺ په دار ارقم کې کوم کتابونه مسلمانانو ته تدریسول؟

۳. په دار ارقم کې په پټېدو د حضرت محمدﷺ هدف څه و؟

٤. د اسلام د پټ مرکز په توګه د دار ارقم د کورد ټاکلو اسباب څه وو؟

## کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د هغه پړاو د دار ارقم د نقش او اهمیت په هکله چې د اسلام پټ دعوت پکې کېده، یو مطلب په خپلو کتابچو کې ولیکي.

## څلېرویشتم لوست

# د ښکاره بلنې مرحله




لکه چې په پخواني لوست کې مو ولوستل، د بعثت په لومړیو کې مسلمانان بې وسه وو، نو پیغمبرﷺ په پټه خلک اسلام ته رابلل او په پټه به مسلمانان په دار ارقم کې راټولېدل، لمونځ به یې کاوه او د رسول اکرمﷺ تعلیماتو ته به یې غوږ نیوه. په دې لوست کې به ولولو چې پیغمبرﷺ ته د علني او ښکاره بلنې امر کله او څه وخت وشو.

### په مکه کې د اسلامي بلنې اعلان

د حضرت محمدﷺد بعثت او پټې بلنې درې کاله تېر شوي وو، چې دغه مبارک آیت نازل شو.
﴿وَأَنذِرْ عَشِيرَتَكَ الْأَقْرَبِينَ﴾ (د الشعرا ۲۱٤ أیت.)

ژباړه: خپل نږدې خپلوان (له شرک او د پروردګار له مخالفت څخه) ووېروه.

او وروسته دغه مبارک آیت نازل شو: ﴿فَاصْدَعْ بِمَا تُؤْمَرُ وَأَعْرِضْ عَنِ الْمُشْرِكِينَ﴾ (د الحجر ۹٤ أیت.)

**ژباړه**: نو هغه څه چې امر یې درته شوی، ښکاره بیان کړه او د مشرکانو پروا مه کوه.

پیغمبرﷺ په لومړي قدم کې خپل نږدې خپلوان راوبلل او هغوی یې د کفر او له خدایﷻ سره

د شرک کولو له سختو پایلو وویرول. ابو لهب د رسول اللهﷺ تره پردې کار د نیوکې په ترځ کې پیغمبرﷺ ته گواښ وکړ، خو بل تره یې، ابوطالب په کلکه د هغهﷺ ملاتړ وکړ.

## فعالیت

درنو زده کوونکو! د پیغمبرﷺ د دندې په سختوالي کې فکر او خبرې وکړئ.

## په صفا غره کې

یوه ورځ پیغمبرﷺ کعبې شریفې ته نږدې د صفا غره ته وخوت او په لوړ غږ یې د قریشو د هرې کورنۍ نوم واخیست او ځان ته یې راوبلل.

قریش د صفا له غره څخه د غږ په اورېدلو، چې عادتاً د یوه مهم خبر د ابلاغ لپاره ترسره کېده، په ډېره بیړه پیغمبرﷺ ته ورټول شول.



## د دې پړاو د بلنې مهم نکات

پیغمبرﷺ د صفا پر غره قریشو ته په وینا کې وفرمایل: که درته ووایم، چې د دې غره له شا څخه

د دښمن لښکر پر تاسو د یرغل اراده لري، تاسې به یې ومنئ؟ هغوی وویل: هو! تر اوسه مو له تا څخه دروغ نه دي اورېدلي، کله چې رسول اللهﷺ پر خپل ځان د امینولۍ او رېښتینولۍ په هکله د قریشو ګواهي واورېده، هغوی یې دریو خبرو ته راوبلل: د اللهﷻ توحید، په آخرت ایمان او د خپل رسالت تصدیق ته، په دې ترتیب سره یې خپله پېغمبري قریشو ته اعلان کړه.

## د قریشو عکس العمل

قریش د پېغمبرﷺ له خبرو غلي شول، خو ابو لهب چې غاړه غړوونکی او خورا ناوړه سړی و، په غوسې سره پېغمبرﷺ ته په ځواب کې وویل: هلاک شې د همدې لپاره دې دلته راغونډتي یو؟ اللهﷻ د ابولهب د دې بدې خبرې په ځواب کې د ﴿تَبَّتۡ یَدَآ اَبِي لَهَبٍ وَتَبَّ﴾ (۱) مبارک سورت نازل کړ.

### فعالیت

زده کوونکي دې په خپلو کتابچو کې د المسد (تبت یدا) مبارک سورت معنا ولیکي.

## پر بت لمانځنې باندې یرغل

د اسلام د مقدس دین له علني کېدو وروسته، رسول اللهﷺ د اللهﷻ په باب د قریشو خرافاتي او شرکي عقیدې محکومې کړې، ویې ویل: د کومو بتانو چې تاسې عبادت کوئ، بې سا ډبرې او لرګي دي، او انسان ته هیڅ ګټه او زیان نه شي رسولای. همدا شان پېغمبرﷺ د مشرکینو دغه ګومان، چې ګواکې د خپلو پلرونو د دین تابع دي، باطل اعلان کړ او ویې فرمایل: ستاسو پلرونه او نیکونه هم لار ورکي وو، چې له تیږو او لرګیو څخه د جوړ شویو بتانو عبادت یې کاوه.

### فعالیت

عزتمندو زده کوونکو! په دې هکله چې انسان ولې له خدایﷻ سره شریک پیدا کوي او د بې ځانه او بې حسه مخلوقاتو عبادت کوي، فکر وکړئ او ووایئ آیا دغه کار له عقل سره برابر دی؟

## له لوست څخه زده کړې

● هر مصلح او بلونکی د خپل اصلاحي پلان د پلي کېدو په لارکې کېدای شي د خپل قوم او نږدې خپلوانو له مقاومت او غبرګون سره مخامخ شي، خو نه ښايي چې دغه کار دې دی د خپلې دندې له سرته رسولو او موخې ته د رسېدلو په لار کې له کوښښ څخه منعه کړي.

● هر داعي دې خپل اصلاحي پلان دخپلو امکاناتو او شرايطو په پام کې نيولو سره سم په پړاوونو ووېشي او د خپل پلان د پرمختګ تګلارې دې برابرې کړي.

## ارزونه

**الف**: لاندنۍ پوښتنې ځواب کړئ:

۱. پېغمبرﷺ څو کاله پټ دعوت وکړ او ولې؟

۲. حضرت محمدﷺ خپله پېغمبري په کوم ځای کې قريشو ته اعلان کړه؟

۳. د قريشو او د پېغمبرﷺ د ترونو ځواب د هغه پر وړاندې څه و؟

٤. پېغمبرﷺ د صفا غره پر سر کوم مطالب بيان کړل؟

۵. د المسد سورت په کوم مناسبت نازل شو؟

**ب**: د سمو جملو مخې ته (✓) نښه او د ناسمو جملو مخې ته (✗) نښه کېږدئ:

۱. اسلام ته بلنه هغه مهال ښکاره شوه، چې جبرئيل عليه السلام د حراء غار ته راغی.

۲. مشرکانو حضرت محمدﷺ په رښتيا وينا او امانتدارۍ سره پېژانده.

۳. مشرکينو په دې خاطر اسلامي دين ونه مانه چې د خپلو پلرونو په دين باوري وو.

٤. ابو لهب د رسول اللهﷺ د دښمنانو په کتار کې او ابو طالب د هغهﷺ دملاترو په کتار کې و.

## کورنۍ دنده

ګرانو زده کوونکو پټ دعوت ته د پېغمبرﷺ د اړکېدو او همدارنګه د بلنې د ښکاره کېدو اسباب په خپلو کتابچو کې وليکئ.

پنځه ویشتم لوست

# د مشرکینو مهمې نیوکې

الله جل جلاله له درې کاله پټې بلنې وروسته خپل پېغمبر، حضرت محمد ﷺ ته دخپلې بلنې دښکاره کولو امر وکړ ، چې د بلنې اعلان یې د مشرکینو له سخت عکس العمل او ډول ډول نیوکو سره مخامخ شو. په دې لوست کې به په لنډ ډول هغو ته اشاره وکړو:

## ۱. د الله جل جلاله په وحدانیت نیوکه

د مکې کفارو ویل چې الله جل جلاله د هغوی او نورو شیانو خالق او رب دی، خو له دې سره سره یې د بتانو عبادت کاوه، په دې گومان چې الله تعالی ته د نږدې کېدو او تقرب وسیله دي.

د مکې خلکو ته بت پرستي دگاونډیو ملتونو لخوا راغلې وه، ځکه خو مشرکانو توحید ته له بلنې څخه تعجب کاوه او په کلکه یې رد کړ. دکفارو تصور د الله جل جلاله او له خلکو سره د رابطې په اړه صحیح نه و، ځکه دوی گومان کاوه، چې الله جل جلاله د ځان لپاره له پېریانو څخه یوه ښځه انتخاب کړې، چې پرښتې ترې زېږېدلې دي، نو العیاذ بالله پرښتې د الله جل جلاله لوڼې دي، الله جل جلاله د مشرکینو د باطلوگومانونو په ردکې د قرآن کریم په مختلفو ځایونو کې تاکیداً فرمایلي چې پېریان او پرښتې د انسان په څېر د الله تعالی مخلوقات دي او الله جل جلاله ښځه او اولاد نه لري.

## ۲. د آخرت له ورځې څخه انکار

د آخرت ورځې ته د پېغمبر ﷺ بلنه د کفارو له تکذیب او استهزاء سره مخامخ شوه، هغوی له مرگ وروسته ژوندي کېدل نه منل، گومان یې کاوه، چې د دنیا د ژوند څخه پرته بل ژوند نشته.

د دې لپاره چې د آخرت په ورځ ایمان راوړي، له پېغمبر ﷺ څخه یې وغوښتل چې زموږ پلرونه دې ژوندي شي او له دې حقیقت څخه ناخبره وو چې کوم ذات هغوی د لومړي ځل لپاره پیدا

کړي، پردې قادر دی چې د قیامت په ورځ یې بیا را ژوندي کړي. له مړینې وروسته پر بیا ژوندي کېدلو د قانع کولو لپاره د قرآن کریم اسلوب عقل ته په خطاب او له انساني فطرت سره په انسجام ولاړ و، قرآن کریم استدلال کوي: د جزا او محاسبې لپاره د الله تعالی حکمت غواړي، چې د خلکو بعث (له مړینې وروسته ژوندي کېدل) د آخرت په ورځ شتون ولري، ترڅو بد عمله خلک د خپل بدکار سزا او نیک عمله د خپل ښه کار اجر وویني.

قرآن کریم له مرګ وروسته د انسانانو د بیا ژوندون د حتمي شتون په هکله د نباتاتو د بیا بیا زرغونېدلو مثال راوړي، چې پر دغه حقیقت یو واضح دلیل دی. هغه ذات چې ځمکه له وچېدو وروسته ژوندۍ کوي قادر دی، چې د انسانانو په شرېدلو کالبوتونو او رژېدلو هډوکو کې هم سا واچوي.

**فعالیت**

مشرکینو چې الله تعالی د خپل پیداکوونکي او روزي ورکوونکي په توګه منلو، نو بیا یې ولې د بې روحه، بې حسه او بې وسې بتانو عبادت کاوه؟

## ۳. پر رسول اللهﷺ نیوکه

مشرکینو پر رسول اللهﷺ باندې هم نیوکه درلوده، ځکه هغوی فکر کاوه چې پیغمبرﷺ باید بشر نه وي هغه باید پرښته او یا له پرښتې سره ملګری وي. د هغوی په اند پیغمبر خوړو ته اړتیا نه لري او په بازارونو کې نه ګرځي. ګواکې اورېدلي یې نه وو چې ټول پیغمبران علیهم السلام، خواړه خوري، تګ راتګ، کسب او کار کوي.

همدارنګه هغوی غوښتل چې باید پیغمبر ډېر بډای وي، ترڅو په سترګو کې ستر معلوم شي. سربېره پر دې، پیغمبرﷺ یې لېونی، کاهن، دروغجن او کوډګر باله.

## ۴. د قرآن کریم په اړه د مشرکینو دریځ

کفارو دا حقیقت نه منلو چې قرآن کریم د الله تعالی له خوا نازل شوی دی او هغه یې یو ډول شعر باله، سره له دې چې که قرآن کریم او عربي اشعار سره پرتله شي، څرګنده به شي چې په دوی کې ډېر توپیر شته، ځکه قرآن کریم پر پیغمبرﷺ باندې نازل شوی، د الله کلام دی، د کاهنانو او شاعرانو له کلام سره یې هېڅ ډول ورته والی نشته. قرآن کریم څنګه شعر کېدای شي، په داسې حال کې چې قرآن کریم شاعران رټلي دي؟ کفارو د پیغمبرﷺ په هکله د خپلو تورونو او بهتانونو په لړ کې وویل: محمد له یو عجمي غلام څخه قرآن کریم زده کوي، په داسې حال کې چې د هغه غلام ډېره لږه عربي زده وه. قرآن کریم د دوی له دې وینا څخه په تعجب فرمایي: ((هغه شخص چې دغه قرآن کریم یې له دومره فصاحت او بلاغت او هراړخیزو معناګانو سره راوړی، څنګه کېدای شي، چې له عجمي څخه یې زده کړی وي؟ یقیناً چې د لږ عقل لرونکي هم دا خبره نه کوي)).

همدارنګه مشرکینو دا نیوکه کوله چې قرآن کریم د لږ، لږ نازلېدلو پر ځای ولې یو ځل نه نازلېږي؟ او ویې ویل: قرآن د بشر کلام دی، هماغه و چې الله جل جلاله سیالی ته راوبلل چې ((که رښتیا وایاست، راوړاندې شئ او د دغه قرآن په څېر یو کتاب او یا لس سورتونه او یا د یو سورت په څېر یو سورت راوړئ)). سره له دې چې د مکې کفارو د عربي ژبې په فصاحت او بلاغت کې ځانګړې مهارت درلود، بیا یې هم هېڅ ونشوای کولای او ټول د قرآن کریم له مقابلې څخه بې وسې شول.

### فعالیت

مشرکانو د پیغمبرﷺ په اړه څه فکر کاوه؟ آیا پیغمبرﷺ غیر بشري طبیعت درلودای شي؟ زده کوونکي دې د دغو دوو پوښتنو په هکله خبرې وکړي.

## له لوست څخه زده کړې

● . توحید او اسلام ته د بلنې لار ډېره سخته ده، داعي باید صبر او مقاومت ولري، ترڅو کامیاب شي.

● . له اسلام څخه منکر خلك له عقل څخه خلاص او خورا بې انصافه دي، وګورئ څومره ناروا تورونه او تهمتونه یې د الله تعالی ﷻ پر محبوب پیغمبر ﷺ او قرآن کریم ولګول .

● . قرآن کریم د الله ﷻ کلام او د اسلام د ستر پیغمبر ﷺ تلپاتې معجزه ده او تر قیامته به دغه دعوی او اخطار پاتې وي او هېڅکله به څوك ونه شي کولای د هغه د سورت یا آیت په شان کوم سورت یا آیت راوړي او یایې تغیر او تحریف کړي.

### ارزونه

۱. د مکې په خلکو کې د بت لمانځنې دود له کوم ځایه او څنګه پیدا شو؟

۲. له بت لمانځنې څخه د کفارو موخه څه وه؟

۳. په پیغمبر ﷺ باندې د کفارو عمده نیوکه څه وه؟

٤. د مکې کفارو د قرآن کریم په هکله څه ویلي دي؟

### کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د حضرت محمد ﷺ په هکله د کفارو د افتراءاتو په رد کې یوه مقاله ولیکي.

## شپږویشتم لوست

# د اسلامي دعوت پر وړاندې د قریشو غبرګون

په تېر لوست کې ولوستل شول چې کله پېغمبرﷺ ته د بلنې د ښکاره کولو لارښوونه وشوه، نو په ښکاره یې خلک اسلام ته راوبلل. بت او بت لمانځنه یې ردوله او نیوکه یې پرې کوله، همدا کار د دې لامل شو چې د مکې مشرکین د اسلام د پېغمبر ﷺ او ټولو مسلمانانو په وړاندې دښمنانه دریځ غوره کړي:

### هر مؤمن بلونکی دی

اصحابو کرامو هم له پېغمبرﷺ سره اوږه په اوږه خلک په پټه او ښکاره اسلام ته رابلل، چې حضرت ابوبکرؓ او حضرت عثمانؓ په پټه او حضرت حمزهؓ او حضرت عمر بن الخطابؓ او حضرت ابو عبیده بن الجراحؓ په ښکاره خلکو ته د اسلام د سپېڅلي دین په لور بلنه ورکوله، چې دغه کار د قریشو غوسه راوپاروله او په زړونو کې یې له مسلمانانو سره د کینې او دښمنۍ اور بل شو.

### فعالیت

درنو زده کوونکو د امربالمعروف او نهی عن المنکر په اړه څه پوهېږئ او آیا بلنه یوازې د پېغمبرانو دنده ده او که د هر مسلمان؟

### ابو طالب د حضرت محمدﷺ ملا تړی

په دې منځ کې ابوطالب که څه هم د قریشو پر دین و، خو یوازینی سړی و چې له پېغمبرﷺ څخه یې ملاتړ کاوه او د قریشو د مشرانو د فشار پر وړاندې یې په نارینتوب ودرېده. د ابوطالب د همدې بې کچې ملاتړ له امله حضرت محمدﷺ وکولای شول، چې په ښکاره د بلنې کار ته دوام ورکړي.

## د اسلام د تبليغ لپاره له ديني او فرهنګي فرصتونو څخه ګټه اخيستل

حضرت محمدﷺ د اسلام د تبليغ لپاره هېڅ فرصت له لاسه ورنکړ، د بلنې د ښکاره کېدلو لا څو مياشتې نه وې تېرې شوې چې د حج مهال راورسېد، له اسلام نه وړاندې هم د ټول جزيرة العرب قبيلې دکعبې زيارت ته راتللې، له دې امله قريشو ويره لرله، چې اسلامي بلنه به په عربي حاجيانو کې لار ومومي. په همدې خاطر يې تصميم ونيو، چې کله حاجيان مکې ته راځي، د پېغمبرﷺ په هکله ورته بايد يوه واحده خبره ولري، ترڅو يې د پېغمبرﷺ بلنه پر زړونو اغېز و نه کړي. له اوږده بحث او خبرو وروسته يې د قريشو د يو مشر وليد بن مغيره په وړانديز اتفاق وکړ چې پېغمبرﷺ حاجيانو ته ساحر (کوډګر) وروپېژني.

### فعاليت

- هر مصلح،که هغه پېغمبر هم وي د خلکو له مخالفت سره مخامخ شوی او تر تورونو لاندې راغلی دی. زده کوونکي دې په تاريخ کې داسې بېلګې ومومي.

-درنو زده کوونکو! تر دې وړاندې مو د ساحر (کوډګر)په نوم کلمه اورېدلې ده، آيا په معنا يې پوهېږئ؟

## د پېغمبرﷺ سره د مقابلې په کار کې د قريشو حېرانتيا

پېغمبرﷺ نه يوازې د حج په موسم کې له عربو قبيلو سره تماس نيوه، بلکې د مکې مشهورو سوداګريزو بازارونو لکه عکاظ، ذوالمجاز، ذوالمجنه او داسې نورو ته ورتللو. له هغوی سره به يې په مناسبتونو او فرهنګي محفلونو کې ګډون کاوه او د اسلام تبليغ به يې کاوه. قريش د دغه نوي دين په مقابله کې، هک پک شول، ځکه پيغام راوړونکی يې ټولو خلکو په صادق (رښتيا ويونکي) او امين سره پېژانده. دومره لوړ انساني ارزښتونه او اخلاقي مکارم يې لرل چې دمشرکينو تورونو پرې هېڅ اغېز نه درلود، په پای کې دې ته اړ شول چې د هغهﷺ د تره ابوطالب لمنه يې ونيوله او

ترې وې غوښتل چې خپل وراره د قریشو د خدایانوله ښکنځلو او دین ته یې له بد ویلو، پلرونو او نیکونو ته یې له گمراه ویلو څخه منعه کړي. هغوی ابوطالب ته وویل: یا یې خپله منعه کړه او یا مونږ پرېږده چې مخه یې ونیسو. قریشو د ابوطالب پستې خبرې واورېدې او راووتل او رسول الله د پخوا په شان خپلې بلنې ته دوام ورکاوه.

### فعالیت

گرانو زده کوونکو! په خپلو کتابچو کې د څو عصري وسیلو نومونه ولیکئ.چې په اوسني عصر کې یو داعي ترې د اسلام په بلنه کې کار اخیستلی شي.

## له لوست څخه زده کړې

- هر داعي او مصلح ته لازمه ده چې د خپلو آرمانونو د تبلیغ لپاره له هرې مشروع وسیلې او هر فرصت څخه گټه واخلي.
- د ټولنې اصلاح هواره لاره نه ده چې داعي دې بې رنځه او کړاوه پرې لاړشي.
- که انسان له خپل پروردگار سره صادق او په خپل کار کې مخلص وي د مخالفینو تورونه او خنډونه یې هدف ته په رسېدو کې مانع کېدای نه شي.
- الله ﷻ کله کله خپل دین په بې دینه او کافرو خلکو سره هم تقویه کوي.

### ارزونه

**الف**: لاندنی پوښتنې ځواب کړئ:

۱. ولې قریشو د پیغمبرﷺ او مسلمانانو پر وړاندې دښمنانه دریځ غوره کړ؟

۲. د پیغمبرﷺ له خپلوانو څخه چا د مشرکینو له فشار سره سره له هغهﷺ نه پرېکنده دفاع وکړه او آیا هغه په خپله په پیغمبرﷺ باندې ایمان راووړ؟

۳. حضرت محمدﷺ د تبلیغ لپاره له کومو فرصتونو څخه ګټه اخیستله؟

٤. کله چې قریش د پیغمبرﷺ د مقابلې په هکله حیران شول څه پلان یې جوړ کړ؟

**ب**: د سمو جملو په مقابل کې (✓) نښه او د غلطو جملو په مخکې (✗) نښه کېږدئ:

۱. پیغمبرﷺ یوازې قریش اسلام ته رابلل.

۲. مشرکانو له دې سره سره چې پر پیغمبرﷺ یې ایمان نه درلود، د هغه په صداقت او ایمان دارۍ یې ګواهي ورکوله.

۳. حضرت محمدﷺ د قریشو خدایان بد نه یادول.

٤. قریشو چې پیغمبرﷺ ته کوډګر ویل، موخه یې دا وه چې د هغه بلنه په حاجیانو کې بې اغېزې کړي.

## کورنۍ دنده

ګرانو زده کوونکو! په دې هکله چې یو داعي له کومو عصري وسایلو او فرصتونو څخه د اسلام د تبلیغ لپاره استفاده کولای شي، په خپلو کتابچو کې ولیکئ.

## اووه ویشتم لوست

# له اسلام سره د مشرکینو مقابلې

وړاندې وویل شول چې د قریشو کفار د پېغمبرﷺ د بلنې د مقابلې په کار کې حېران شول او له ابوطالب څخه یې وغوښتل چې هغه منعه کړي، خو ابوطالب د هغوی تر ګواښ لاندې رانغی او له خپل محبوب وراره څخه یې لاس وانخیست. هماغه و چې مشرکان د اسلام له منځه وړلو لپاره د نورو لارو چارو په لټه کې شول، چې لنډیز یې دا دی:

## له پېغمبرﷺ سره د مشرکینو د مبارزې تګلارې

۱. **ملنډې او سپکاوی**: د مشرکینو د تکذیب او استهزاء موخه د مسلمانانو سپکاوی او د هغوی د معنوي ځواک کمزوری کول و، ځکه خو یې پېغمبرﷺ ته بد ویل، تورونه یې پرې لګول، لیونی، کوډګر او دروغجن یې باله. کله به چې له خپلو بېوزلو ملګرو سره ناست و، ملنډې به یې پرې وهلې.

۲. **په اسلامي تعالیمو کې شک پیدا کول**: په اسلامي تعالیمو کې شك او شبهه پیدا کول او د اسلام او پېغمبر په اړه دروغ تبلیغات کول، داسې تګلارې وې چې کفارو د اسلام د کمزوري کولو لپاره کارولې. هغوی به کله کله قرآن کریم ته د پخوانیو قومونو افسانې او کله به یې ورته د دروغو نسبت کاوه او کله به یې هم د یو بشر لارښوونه ګڼله او د پېغمبرﷺ په هکله به یې د ملنډو له مخې ویلی، چې: ((دا څرنګه پېغمبر دی، چې خواړه خوري او په بازارونو کې ګرځي)).

۳. **له لرغونو افسانو څخه په استفادې د قران کریم مقابله**: د دې تګلارې مخکښ نضربن حارث و، چې ((حیره)) ته لاړ او د اسفندیار او رستم په څېر افسانوي پهلوانانو او پاچایانو کیسې یې یادې کړې او د قرآن کریم د لوستلو په غونډو کې به یې د نومړو کیسو په یادولو سره د پېغمبرﷺ مقابله کوله.

**۴. معامله (جوړ جاړی) کول**: مشرکينو زيار وويست چې په نيمايي لار کې اسلام او جاهليت سره مخامخ شي په دې معنا، چې دواړه خواوې دې له خپلو ځينو عقيدوي تعاليمو څخه سترګې پټې کړي. په همدې خاطر يې رسول اللهﷺ ته وړانديز وکړ، چې يو کال دې د هغوی د خدايانو عبادت وکړي، او په مقابل کې به مشرکين يوکال د الله جل جلاله عبادت وکړي!! همدا وه چې د دغه وړانديز په ردکې د ﴿ قُلْ يَا أَيُّهَا الْكَافِرُونَ (١) لَا أَعْبُدُ مَا تَعْبُدُونَ (٢) وَلَا أَنتُمْ عَابِدُونَ مَا أَعْبُدُ (٣) وَلَا أَنَا عَابِدٌ مَّا عَبَدتُّمْ (٤) وَلَا أَنتُمْ عَابِدُونَ مَا أَعْبُدُ (٥) لَكُمْ دِينُكُمْ وَلِيَ دِينِ (٦)﴾ سورت نازل شو او د هغوی پر ټولو بې بنسټو غوښتونو يې د بطلان کرښه وايستله.

### فعاليت

ګرانو زده کوونکو! آيا د اسلام ضد مبارزه کې د مشرکينو تګلارې اغېزمنې وې، که نه وې، نو سبب څه و؟

**د مبارزې نوې تګلاره**: مشرکانو د اسلامي بلنې د پراختيا د مخنيوي لپاره پر لېسی ډول ډول تګلارې په کار واچولې، اوونۍ او مياشتې تېرې شوې، خو کله يې چې دغو تګلارو اغېز نه درلود، د قريشو سرداران سره راغونډ او (۲۵) کسيزه کمېټه يې د ابولهب په مشرۍ جوړه کړه. د کمېټې د غړو له خوا غور وروسته يې د رسول اللهﷺ او د هغه د اصحابو په باب خپله پرېکړه داسې اعلان کړه، چې له اسلام سره د مبارزې او د پيغمبرﷺ او د مسلمانانو د ازار او ځورولو په لارکې به له هېڅ ډول هلو ځلو څخه مخ نه اړوي.

## د کمېټې د پرېکړې پلي کول

د قريشو د (۲۵) کسيزې کمېټې د پرېکړې پلي کول د عامو مسلمانانو په ځانګړې ډول د بې وزلو په باب خورا آسانه وه، خو د رسول اللهﷺ په هکله چې په خپل ذات کې يو باشهامته، باوقاره او بې

مثله شخصیت و، ډېره سخته وه، ځکه پېغمبرﷺ د دښمنانو او دوستانو په زړونو کې له ځانګړې عظمت او هیبت څخه برخمن و. په دې توګه چې له هرچا سره به چې مخامخ شو، په زړه کې به یې د هغه ﷺ درناوی پیدا کېده. له احمقانو او نا اهلو پرته هېچا د دې جرأت نه کاوه، چې د هغه ﷺ پر وړاندې دې بې احترامي وکړي.

سربېره پردې پېغمبرﷺ د ابوطالب تر ځانګړې پاملرنې لاندې و. ابوطالب په مکه کې د ګوتو په شمېر کسانو په ډله کې و او هم د خلکو په منځ کې یو محترم شخص و. هېچا زړه نشو کولای چې د هغه د ژمنې حریم ته لاس وراوږد کړي. دغه کار د قریشو مشرکان اندېښمن کړي وو، خو څه وخت نه و تېر، چې د قریشو د صبر کاسه ډکه شوه، ځکه د دغې وضعې دوام د قریشو دیني زعامت او دنیوي صدارت د عربو په منځ کې له منځه ووړ.

**فعالیت**

له زده کوونکو څخه دې د قرآني حکایتونو او افسانو ترمنځ توپیر او د افسانې معنا وغوښتل شي.

## له لوست څخه زده کړې

- هر داعي او مصلح باید انتظار ولري چې دښمن د بلنې او اسلامي برنامو د بهیر د تم کولو لپاره له هر ډول ناروا وسیلې څخه کار اخلي.
- پېغمبرﷺ ذاتاً پتمن او با وقاره شخصیت و، تردې چې د خپلو دښمنانو په زړونو کې یې هم هیبت او عظمت در لود.
- په اسلامي نصوصو او تعالیمو کې شبهه پیدا کول داسې تګلاره ده چې د اسلام دښمنانو، د اسلام د ظهور په لومړنیو ورځو کې هم کاروله.

## ارزونه

**الف**: لاندنۍ پوښتنې ځواب کړئ:

۱. د اسلام او پېغمبرﷺ پروړاندې د قریشو کفارو له کومو دسیسو څخه کار اخیست؟

۲. د الکافرون سورت د مشرکانو د کوم وړاندیز په ځواب کې نازل شو؟

۳. د قریشو د پنځه ویشت کسیزې کمېټې په سر کې څوک و او د جوړېدو موخه یې څه وه؟

٤. آیا د پېغمبر ﷺ په اړه له ابوطالب څخه د مشرکینو غوښتنې څه لاسته راوړنه لرله؟

**ب**: د سمو جملو مخې ته (✓) او د ناسمو پر وړاندې (✗) نښه کېږدئ:

۱. ابوطالب د قریشو د مشرانو په ګواښ د پېغمبرﷺ له ملاتړ څخه لاس واخیست.

۲. د الکافرون سورت د قریشو د سازش د وړاندیز په رد کې نازل شوی چې غوښتل یې له پېغمبرﷺ سره یو ډول معامله وکړي.

۳. د مکې کفارو د پېغمبرﷺ پرضد تل له یوې تګلارې څخه ګټه اخیسته.

٤. د مشرکانو د تکذیب او استهزاء موخه د مسلمانانو سپکاوی او د معنوي ځواک کمزوری کول وه.

## کورنۍ دنده

مشرکینو د پېغمبرﷺ د آزارولو او ځورولو لپاره له کومو لارو څخه کار اخیست، په لنډ ډول یې په خپلو کتابچو کې ولیکئ.

### اته ویشتم لوست

## پیغمبرﷺ ته د مشرکانو کړاوونه

د ابوطالب له لوري د قريشو وړاندیزونه ونه منل شول او هغه د پیغمبرﷺ ملاتړ ته دوام ورکړ، د قريشو مشرانو کلك هوډ وکړ، چې پیغمبر ته د ډول، ډول ستونزو په رامنځته کولو سره د اسلام د خپراوي مخنیوی وکړي.

### ابولهب د کمېټې د مشر په توګه

د پیغمبرﷺ آزارول او ځورول د ابولهب په مشرۍ د مشرکينو له خوا پيل شو. لکه چې پخوا وويل شول ابولهب د حضرت محمدﷺ د پيغمبرۍ د اعلان  له لومړنيو ورځو څخه ډېر غليمانه دريځ خپل کړی و. دلته په لنډ ډول د ابولهب د ناوړو چلندونو يوې برخې ته اشاره کوو:

- ابولهب د پیغمبرﷺ تر بعثت وړاندې د پیغمبرﷺ لوڼې رقيه او ام کلثوم خپلو دوو زامنو عتبه او عتيبه ته په نکاح کړې خو لا واده شوې نه وې، چې له بعثت وروسته يې په لومړني دښمنانه اقدام کې په خپلو زامنو طلاقې کړې.
- کله چې د رسول اللهﷺ دويم زوی عبدالله مړ شو، ابولهب په خوښۍ خپلو ملګرو ته منډه کړه او زيری يې وروړ، چې د محمد ﷺ نسل قطع شو، خو الله تعالی د کوثر سورت په نازلولو سره د هغه ځواب ورکړ: ﴿إِنَّ شَانِئَكَ هُوَ الْأَبْتَرُ﴾ [الکوثر : ۳]
- دحج په موسم اود بازارونو په ورځو کې به په پیغمبرﷺ پسې ګرځېده او پيغمبر ﷺ ته به يې نه يوازې دروغجن ويل، بلکې په تيرو به يې ويشته تردې چې مبارکې پښې به يې وينې شوې.
- د ابولهب مېرمن د ابو سفيان خور، ام جميل د پیغمبرﷺ په دښمنۍ کې له خپل خاوند ابولهب څخه کمه نه وه، هغې به د اغزيو پنډ راوړلو او د پیغمبرﷺ په لارو او دروازه کې به يې غورځول.
- سر بېره پر دې ام جميل يوه بد ژبې ښځه وه. پر رسول اللهﷺ به يې تورلګاوه او د فتنې اور يې بلاوه. د همدې لپاره په قرآن کريم کې په (حمالة الحطب) سره ياده شوې ده.

## د کایناتو له سردار سره د قریشو بي ادبي

پیغمبرﷺ ته ډېر ازار اوتکلیف دخپلو نږدې ګاونډیانو له لوري متوجه و، په تېره د ابولهب له خوا چې د څنګ ګاونډی یې و، عبدالله ابن مسعود رضي الله عنه روایت کوي: یوه ورځ رسول اکرمﷺ کعبې شریفې ته نږدې لمونځ کاوه چې ابوجهل او ملګري یې لرې ناست وو. په خپل منځ کې یې وویل: څوک د فلاني د اوښ لرى راوړى شي او د سجدې په حال کې یې د حضرت محمدﷺ پر سر اچولی شي؟ عقبه بن ابي معیط، چې تر ټولو ډېر بد بخته و، پورته شو، هغه لرى یې راوړ، کله چې پیغمبرﷺ سجدې ته کوزشو، پراوږو یې ورکېښود. ابوجهل او یارانو یې د دې صحنې په لیدلو په کړس کړس وخندل. پیغمبرﷺ همداسې د سجدې په حال کې پاتې شو، تر دې چې لور یې فاطمه راغله او لرى یې ورڅخه ایسته کړ. بیا پیغمبرﷺ سر اوچت کړ او له الله تعالی څخه یې د دغو اوو تنو بدبختانو د هلاکت غوښتنه وکړه. عبدالله بن مسعودرضي الله عنه وایي: په خدای جل جلاله قسم ددغو کسانو جسدونه مې ولیدل چې د بدر په څاکې وغورځول شول.

### فعالیت

زده کوونکي دې د پیغمبرﷺ د صبر او زغم په هکله خپل معلومات څرګند کړي او ولې حضرت محمدﷺ دغه ټول کړاوونه منلي دي؟

## ابوجهل د اسلام د پیغمبر ﷺ کلک دښمن

په لومړۍ ورځ چې ابوجهل، حضرت پیغمبرﷺ په حرم کې په لمانځه کولو ولید، هغه صلی الله علیه و سلم یې منعه کړ. بل ځل یې بیا ولیده چې مقام ابراهیم ته نږدې لمونځ کوي، هغهﷺ ته یې اخطار ورکړ او ورته یې وویل: محمده آیا ته مې له دې کار څخه منعه کړی نه یې؟ رسول اللهﷺ سخت ځواب ورکړ او ابوجهل په غوسه وویل: محمده له څه شي مې ویروې؟ قسم په خدای جل جلاله دومره ملګري او پلویان لرم چې دغه خوړ وربانديې ډکېږي. هماغه و چې د العلق سورت (۱۷ آیت) ﴿فَلْيَدْعُ نَادِيَهُ﴾ یعنې پرېږده چې خپل ملګري راوغواړي او مرسته ورځنې وغواړي، نازل شو.

## د ابوجهل له خوا د پیغمبرﷺ دوږلو هوډ

ابوجهل په دې بسنه ونه کړه او په راتلونکي کې يې خپله دښمني لا زياته کړه. يوه ورځ ابوجهل د مکې خلکو ته وويل: محمد ستاسو په مخ کې خپل مخ پر ځمکه سولوي (سجده کوي) ؟ هغوی وويل: هو! ده وويل په لات ا و عزی قسم که زه يې په داسې حالت ووينم، نو په غاړه به يې پښه اږدم او مخ به يې په خاورو ککړوم، نو ابوجهل کعبې ته راغی او رسول اللهﷺ يې په لمانځه وليده، قصد يې وکړ چې په غاړه يې پښه کېږدي، ناځاپه په شا شو او خپل لاسونه يې ډال کړل. ورته وويل شول: اې ابوالحکم څه درباندې وشول؟ ويې ويل: د ځان او هغه په منځ کې مې د اور کنده وليده رسول اللهﷺ وفرمايل: که راته نږدې شوی وای نو پرښتو به غړی، غړی کړی او تبنتولی وای.

### فعاليت

پیغمبرﷺ له دغو ټولو بې ادبيوسره چې ورسره کېدلې او د بې پايه کړاوونو په زغملو کوم شي ته هيله من و، چې د اسلام له تبليغ څخه يې لاس نه اخيست او مشرکينو ته نه تسليمېده؟ زده کوونکي دې په دې هکله نظر ورکړي.

دا وه د هغه چا پر وړاندې،د مشرکينو سپين سترګي او بدبختي چې د ځانګړي وقار او جلال څښتن و او پر دې سر بيره د مکې د ډېر محترم او ستر شخصيت ابو طالب حمايت هم ورسره و، فکر وکړئ چې د بې وسه مسلمانانو حال به څنګه و.

### له لوست څخه زده کړې

- هر اصلاح غوښتونکی شخص د خپل اصلاحي پلان په پلي کولو کې له ډېرو ستونزو سره مخامخ کېدای شي. له هغوڅخه د نږدې خپلوانو مخالفت دی چه بايد په پام کې ونيول شي.
- د پیغمبرﷺ دښمنانو خپله انساني عاطفه آن له خپلو نږدې خپلوانو څخه هم سپموله.

• څومره چې د پيغمبرﷺ صبر او زغم بې پايه و، په هماغې کچې د مشرکينو شقاوت او بدبختۍ هم بې کچې وه.

• پيغمبرﷺ ډېر زيار ويست، ترڅو د خپلو دښمنانو په حق کې هم ښېرا ونه کړي، خو کله به چې ډېر وځورول شو، اړ به شو چې په دعا لاس پورته کړي او بيا به قبوله هم شوه.

## ارزونه

١. ام جميل څوک وه او له پيغمبرﷺ سره يې څه وکړل؟

٢. د المسد (تبت يدا) سورت د چا په هکله نازل شو؟

٣. هغه سرې څه نومېده چې پر پيغمبرﷺ باندې يې د اوښ لرى وغورځاوه؟

٤. کله چې ابوجهل غوښتل د پيغمبرﷺ پر غاړه پښه کېږدي، څه يې وليدل؟

## کورنۍ دنده

د مشرکينو د ځورونو پر وړاندې د پيغمبرﷺ د (زغم) په اړه يوه مقاله وليکئ.

## نهه ویشتم لوست

# د مسلمانانو ربړول

خصوصاً د هغو مسلمانانو ربړول چې قبیلوي ملاتړ یې نه درلود او په مکه کې بې وسې وو، خورا زړه بوګنوونکي وو، که څه هم د مکې ټولو قبیلو په یو مهال د خپلو مسلمانو خپلوانو په ځورولو پیل وکړ، خو په دغو مسلمانانو کې ځینې داسې وو چې په ډېرې بې رحمۍ او سخت زړیتوب وربړول شول، چې دلته یې څو بېلګې یادوو:

## د بې وزلو تعذیب

- مصعب بن عمیر﵁، چې د قریشو یو نازولی ځوان و، کله یې چې کورنۍ له اسلام راوړنې خبره شوه، وږی یې کړ، له کوره یې وایسته، او دومره کلاوونه یې ورکړل چې آن د بدن پوستکی یې وچ شو.

- بلال بن رباح د امیه بن خلف غلام له لومړنیو مسلمانانو څخه و. امیه به د هغه په غاړه کې رسۍ واچوله او کوچنیانو ته به یې په لاس ورکړ چې لوبې پرې وکړي، خو بلال ﵁ دغه عذاب د الله ﷻ د دین لپاره تحمل کاوه. د غرمې پر مهال به هره ورځ امیه د مکې له ښاره وایست او د بطحاء په سوځوونکو شګو کې به یې څملاوه او یوه لویه ډبره به یې پر خېټه ورته کېښوده، ورته ویل به یې: په خدای ﷻ قسم تل به همداسې وې، ترڅو مړ شې. یا به پر محمد کافر کېږې او لات او عزی به منې، خو بلال دغه ټول غمونه په ورین تندي زغمل او په هغې سوځنده ګرمۍ کې یې چې د انسان پوټکی په کې پخېده، صبر کاوه او یوازې احد، احد، یعنې الله ﷻ یو دی، الله ﷻ یو دی شعار یې ورکاوه. تر هغې چې یوه ورځ ابوبکر﵁ پر هغه ځای تېرېده او بلا ل﵁ یې په دغه کړاو کې ولید زړه یې پرې وسوځېد او هغه یې وپیرووده او آزاد یې کړ.



سوزنده دښته

## فعالیت

بلال رضي الله عنه د کوم احساس له امله د مشرکینو ټول کړاوونه زغمل او د مشرکینو د آزار او غوښتنو لپاره یې چې یو ځواب درلود، هغه څه و؟

## د اسلام لومړنۍ شهیده

د هغو کسانو په ډله کې چې د مشرکینو تر سخت عذاب لاندې وو، د عمار بن یاسر رضي الله عنه کورنۍ وه. پلار او مور یې دواړه مریان وو او د حضرت محمد ﷺ په رسالت یې ایمان درلود.

د مشرکینو په سر کې ابوجهل به هره ورځ د یاسر رضي الله عنه کورنۍ د ابطح سیمې ته بېوله او په سوځوونکې ګرمۍ کې به یې تعذیبوله.

یوه ورځ پیغمبر ﷺ له هغه ځای څخه تېرېده، چې یاسر رضي الله عنه او کورنۍ یې د مشرکینو له لوري په تعذیب کې وموندل، ویې فرمایل: صبر کوئ ای د یاسر رضي الله عنه کورنۍ ستاسو لپاره جنت دی. یاسر رضي الله عنه تر تعذیب لاندې ساه ورکړه. ابوجهل د عمار رضي الله عنه مور، سمیه رضی الله عنها د نېزې په وهلو سره ووژله، چې په دې ډول سمیه رضی الله عنها د اسلام لومړنۍ شهیده ده، خو عمار رضي الله عنه چې تر سختې شکنجې لاندې و، کله به په سوځوونکې لمر کې او کله به یې پر خېټه د ګرمې ډبرې

په ایښودلو سره تعذیبولو او تر دې ډېره سخته دا وه چې ورته ویل به یې، تر هغې تا نه پرېږدو چې حضرت محمدﷺ ته ښکنځل ونه کړې او لات او عزی په نېکۍ یاد نه کړې. عمارؓ د مجبوریت له مخې ورسره ومنله او د کفر کلمه یې وویله، همدا و چې ځینو مسلمانانو وویل: عمارؓ کافر شو، خو رسول اللهﷺ وفرمایل: په خدایﷻ قسم عمارؓ کافر شوی نه دی او له سره تر پونده پورې له ایمان څخه ډک دی، عمار رضی الله عنه په ژړا او عذر پیغمبرﷺ ته راغی، چې په هکله یې ﴿مَنْ كَفَرَ بِاللَّهِ مِنْ بَعْدِ إِيمَانِهِ إِلَّا مَنْ أُكْرِهَ وَقَلْبُهُ مُطْمَئِنٌّ بِالْإِيمَانِ﴾ [النحل: ۱۰۶] ایت نازل شو.

ژباړه: څوک چې له ایمان راوړلو وروسته پر الله کافر شي، له هغه چا پرته چې زور پرې وشي او زړه یې په ایمان ډاډه وي.

**فعالیت**

ګرانو زده کوونکو! څه فکر کوئ عمارؓ ته روا وه چې د ځان ژغورلو لپاره یې د مشرکینو غوښتنو ته تن کېښود او د کفر کلمه یې وویله؟

همدارنګه مشرکینو د پیغمبرﷺ ځینې یاران د اوښ او غوایي په پوستکو کې راتاوول او پر سرو شګو به یې څملول او ځینو نورو ته به یې اوسپنیزې زغرې وراغوستې او په تودو ډبرو به یې اچول. کومې وینزې چې مؤمنانې شوې وې، له نارینه وو مسلمانانو څخه یې حالت ښه نه و. هغوی هم دې ته ورته کړاوونه د مشرکینو له لاسه لیدلي دي. حضرت ابوبکرؓ ټولې مؤمنې وینزې په خپلو پیسو وپیرلې او آزادې یې کړې.

دا د بېوزلو مسلمانانو د حالت بېلګې وې، چې د مشرکینو له خوا کړول کېدل. د هغو مسلمانانو لست چې په دې لار کې کړول شوي او ربړول شوي، ډېر اوږد او دردوونکی دی، داسې مسلمان نه و، چې مشرکین به یې په ایمان خبر شول او منع به یې نه کړ او ځور او آزار به یې نه ورکاوه.

## له لوست څخه زده کړې

- د پیغمبرﷺ پیروان د نورو پیغمبرانو په څېر ډېری د ټولنې له بېوزلې طبقې څخه وو، نو بلونکې ته نه ښایي، چې دغه طبقه له سترګو وغورځوي.

• کوم خوند او حلاوت چې مؤمن يې په ايمان کې ګوري له هېڅ شي، آن له خپل ځان سره يې هم نه برابروي.

• پر حضرت محمدﷺ د ايمان راوړلو لپاره نر او ښځه يو شان رېږيدل، د اسلام لومړنۍ شهيده ښځه وه.

• که د زور له مخې کوم مسلمان د کفر د کلمې ويلو ته اړ شي، خو چې په زړه کې مؤمن وي، ايمان ته يې هېڅ تاوان نه رسېږي.

• حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه د مسلمانانو په خلاصون او د مريانو په آزادۍ کې د ستاينې وړ ونډه درلوده.

## ارزونه

**الف**: د لاندنيو پوښتنو ځوابونه په خپلو کتابچو کې وليکئ:

١. بلال بن رباح رضي الله عنه د چا غلام و او کله يې چې کافر کېدو ته راوباله، څه يې وويل؟

٢. د عمار بن ياسر رضی الله عنهما کورنۍ له تعذيب وروسته څرنګه حالت درلود؟

٣. کله چې عمار رضي الله عنه د کفر کلمه وويله، خلکو څه وويل او پېغمبرﷺ د هغه په اړه څه وفرمايل؟

٤. د اسلام لومړنۍ شهيده څوک وه او د چا له خوا شهيده شوه؟

**ب**: د سمو جملو مخې ته (✓) نښه او د ناسمو جملو مخې ته (✗) نښه کېږدئ:

١. مصعب بن عمير له يوې فقيرې کورنۍ څخه و.

٢. عمار بن ياسر د مشرکينو تر کړاو لاندې د کفر کلمې ويلو ته اړ شو.

٣. حضرت عمر رضي الله عنه، حضرت بلال رضي الله عنه وپيره او آزاد يې کړ.

٤. مشرکانو مسلمانې ونزې هم د نرانو په څېر تعذيبولې.

## کورنۍ دنده

د اسلام د پيروانو کومې طبقې ته مشرکينو ډېر تعذيب ورکړ، نومونه يې په خپلو کتابچو کې وليکئ.

### دېرشم لوست

# ابوطالب ته د قریشو ګواښ

مشرکینو د اسلامي بلنې پر وړاندې له ډول ډول فشارونو څخه کار واخیست.

د مشرکینو تهدید چې د پیغمبرﷺ او مؤمنانو د ربړولو او ځورولو په بڼه کې و، د مشرکانو لپاره یې ګټورې پایلې نه درلودلې ، نو یو ځل بیا یې خپل فشار پر ابوطالب چې د قریشو له مشرانو څخه و او د پیغمبرﷺ یوازینی ځواکمن ملاتړ و، ډېر کړ.

## ابوطالب تر ډېر فشار لاندې راځي

د قریشو مشران یو ځل بیا ابوطالب ته راغلل او ویې ویل: ابوطالبه! زموږ په منځ کې یو شریف مخور او د لوړ مقام خاوند یې. له تا څخه مو وغوښتل چې وراره دې منعه کړې، تر دې زیات زغم نه لرو چې د خپلو خدایانو (بتانو) عیبونه او د پلرونو بشکنځلې واورو، نو وړاندیز کوو چې یا په خپله د خپل وراره مخه ډب کړه او یا دا چې له محمد او تا سره به مبارزه کوو، ترڅو یو له مونږ او تاسو څخه له منځه لاړشي. دا ځل ابوطالب ته له یوې خوا د قوم پرېښودل او له هغوی سره دښمني ګرانه وه. له بلې خوا یې نه غوښتل چې محمدﷺ هغوی ته وسپاري، نو ابوطالب پېغمبرﷺ خپل ځانته راوغوښت او ورته ویې ویل ای وراره! ستا قوم او قریش ما ته راغلي وو او هاغه او دغه یې ویل په ما او خپل ځان رحم وکړه او پر ما هغه پېټی مه ږده چې د پورته کولو وس یې نه لرم.

## له خپله کاره هېڅکله لاس اخستونکی نه یم

کله چې پېغمبر﵇ دابوطالب دغه خبرې واورېدې، فکر یې وکړ چې ابوطالب د قریشو دګواښ له امله د ده له مرستې او ملاتړ څخه لاس اخیستی دی، ویې ویل: ((تره! په خدایﷻ قسم که لمر په ښي او سپوږمی په کیڼ لاس کې راته کېږدي، اسلام ته له بلنې به لاس پر سر نشم، ترڅو یا اللهﷻ دغه دین بریالی کړي او یا د هغه په لار کې سا ورکړم!))

په مبارکو سترګو کې یې اوښکې را تاوې شوې،او ویې ژړل. بیا له ځایه پاڅید او ولاړ، ابوطالب

وريسي غږ وکړاو ورته ویې ویل: لاړ شه هر څه دې چې زړه غواړي کوه يې، په خدای ﷻ قسم چې تا به هیڅ ته پرېنږدم، پر دې ټولو جسمي ربړونو او کړاوونو سربېره به پیغمبر ﷺ ته کفارو د لیوني، کوډګر، شاعر او کاهن او... خطاب کاوه. دغو خبرو حضرت محمد ﷺ ته چې تر ټولو نازولی انسان وه له جسمي کړاوونو څخه ډېر زیات درد رساوه.

## فعالیت

ګرانو زده کوونکو! د پیغمبر ﷺ له دې وینا څخه ((که په ښي لاس کې لمر او په کیڼ لاس کې سپوږمی راته کېږدي، د اسلامي بلنې کار به پرېنږدم)) څه معنا اخیستلی شئ؟

مشرکینو د پیغمبر ﷺ له آزار او ربړولو څخه لاس وانخیست. یوه ورځ د قریشو اشراف په حجر اسماعیل کې راټول شوي وو او رسول الله ﷺ طواف کاوه، پیغمبر ﷺ ته یې بدې ردې ویلې. رسول الله ﷺ ودرېد او سختې خبرې یې ورته وکړې. مشرکینو د پیغمبر ﷺ له ویرې خپلې خبرې نرمې کړې او په زاریو شول. د بلې ورځې سهار مهال مشرکین هماغلته ناست وو چې رسول الله ﷺ راغی او دوی په ګډه پرې یرغل وکړ او له غاړې یې څادر تاو کړ. حضرت ابوبکر ﷺ په داسې حال کې چې ژړل یې مشرکینو ته وویل: آیا تاسې هغه سړی وژنئ! چې وایي زما رب الله ﷻ دی.هغه و چې مشرکینو پیغمبر ﷺ خوشې کړ او ابوبکر ﷺ یې تر وهلو لاندې ونیو سرېې ورمات او ږیره مبارکه یې پرې وشکوله.

یوه ورځ حضرت ابوبکر ﷺ پورته شو او خلک یې اسلام ته رابلل چې مشرکین راوپارېدل او هغه یې تر پښو لاندې کړ او سخت یې وواهه. عتبه بن ربیعه په خپلو پڼو (نعلین) سره ابوبکر رضی الله عنه پر مخ سخت وواهه بني تیم (د ابوبکر ﷺ قبیلې چې د هغه په مړینه کې یې شک نه درلود ) هغه له ځمکې څخه پورته کړ. ابوبکر ﷺ د ورځې په پای کې په هوښ راغی او بې له ځنډه یې د پیغمبر ﷺ پوښتنه وکړه. ډاډ ورته ورکړل شو. چې الحمد لله روغ او جوړ دی.

## فعالیت

زده کوونکي دسیرت د کتابونو په مرسته او د معلم په لارښوونه د نبی کریمﷺ او صحابه و د زیار او تعذیب په هکله په خپلو منځو کې مباحثه وکړي.

## له لوست څخه زده کړې

• پیغمبرﷺ د نورو انسانانو په څېر، بشري خصوصیات درلودل. کله به یې چې د یوازیتوب او بې کسی احساس وکړ، انساني عواطف یې څرګندیدل او ژړل به یې.

• حضرت ابوبکرؓ د اللهﷻ په لار کې ستر فداکار و او له پیغمبرﷺ سره یې بې مثاله اخلاص درلود. څنګه چې په هوښ شو، د ځان په فکر کې نه و، بلکې د رسول اللهﷺ په هکله اندېښمن و.

• پیغمبرﷺ سره له دې چې تر زیاتو ګواښونو او فشارونو لاندې و، خو یوه شیبه هم په خپل کارکې شکمن نشو او په پوره مېړانه ولاړ و.

## ارزونه

**الف**: لاندنی پوښتنې ځواب کړئ:

۱. کله چې مشرکینو ابوطالب تهدید کړ چې پیغمبرﷺ هغوی ته وسپاري، د ابوطالب غبرګون څه و؟

۲. پیغمبرﷺ خپله دغه خبره (که لمر راته په ښي لاس او سپوږمۍ په کیڼ لاس کې راکړي په کوم مناسبت کې کړې وه؟

۳. آیا ابوطالب د مشرکینو په فشار د پیغمبرﷺ له ملاتړ څخه لاس واخیست؟

٤. د ابوبکر ؓ قبیله څه نومېده؟

**ب**: په لاندې جملو کې یوه ناسمه ده هغه معلومه کړئ او کرۍ ترې تاو کړئ:

۱. کله چې د قریشو ګواښ پر ابوطالب زیات شو، زړه یې غوښتل پیغمبرﷺ هغوی ته وسپاري.

۲. کله چې پېغمبرﷺ له ابوطالب څخه بې سابقې خبرې واورېدې، گومان یې وکړ چې د ده له ملاتړ څخه یې لاس اخیستی دی.

۳. د (کوډگر، شاعر، کاهن، لیوني) تورونه پر پیغمبرﷺ له بدني کړاو څخه ډېر دردوونکي وو.

٤. کله چې حضرت ابوبکرؓ په هوښ راغی، لومړنی پوښتنه یې د رسول اللهﷺ له حال څخه وه.

## کورنۍ دنده

د پیغمبرﷺ د بلنې پر وړاندې د هغه د دوو ترونو (ابوطالب او ابولهب) د دریځ په هکله په خپلو کتابچو کې یوه مقاله ولیکئ.

## يوديرشم لوست

# په مکه کې د جګړې نه کولو حکمت

مسلمانانو له خپل ځان څخه د دفاع لیوالتیا لرله او ځوان مسلمانان له سوله ییز دریځ څخه خوښ نه وو. عبدالرحمٰن بن عوف ﷺ او خپلوان یې په مکه کې پیغمبرﷺ ته راغلل، ویې ویل: کله چې مشرکان وو هغو خلکو راته درناوی کاوه او چې ایمان مو راوړ، له ډېرو ستونزو سره لاس او ګرېوان شوو. پیغمبر علیه السلام وفرمایل: زه په عفو کولو مامور شوی یم، له خلکو سره شخړې مه کوئ.

### فعالیت

ګرانو زده کوونکو! له تېرو لوستونو څخه په استفادې سره عزت په اسلام او شرک کې پرتله کړئ.

## په مکه کې د مسلمانانو د جګړې نه کولو څو حکمتونه

په مکه کې مسلمانانو دنده لرله چې هر شرعي حکم ومني او د کفارو د ظلم او آزار په بدل کې عفوه وکړي. پر دغه کار که څه هم د زړه له کومې خوښ نه وو، خو دا چې د اسلام غوښتنه وه، په ماته غاړه یې ومنله، له جګړې څخه د مسلمانانو ځان ساتنه ډېر حکمتونه لري، چې ځینې یې په لاندې ډول یادوو:

۱. په مکه کې د مسلمانانو ژوند په ځانګړو شرایطو کې د وګړو د روزنې پړاو و، ځکه عربان عادتاً د تېرې پر وړاندې صبر کوونکي نه وو، اسلام هغوی صبر او زغم ته راوبلل، ترڅو په معتدل طبیعت سره په نوې ټولنه او نظام کې ګټور غړي ثابت شي.

۲. د قریشو په خېر ټولنه کې په سوله ییزه توګه د بلنې اغېز مثبت و، که له داسې حکمت څخه کار نه وای اخیستل شوی، اسلام ته د بلنې پر ځای به غچ اخیستنه پیل شوې وه ، چې په دې ترتیب به د اسلامي فکر اصول هېر شوي وو.

۳. همدارنګه الله جل جلاله پوهیده، هغه کسان چې مسلمانان ځوروي، په راتلونکي کې به د اسلام ستونکي جوړ شي، لکه عمر بن خطاب چې د مسلمانانو لارښوود وګرځېد.

٤. همدارنګه د جګړې نه کولو بل لامل د مسلمانانو کموالی ؤ چې يوازې په مکه کې موجود وو، ځکه تر هغه وخته پورې چې نورې قبيلې د اسلام په دين مشرف شوې نه وې، که کومه جګړه پېښه شوې وای، نورې قبيلې به بې طرفه پاتې شوې وای.

په دې ترتيب ليدل کېږي چې په مکه کې د دعوت پړاو، چې ديارلس کاله و، د روزنې او تيارې نيولو او د مسلمانانو په زړونو کې د (لا اله الا الله) د ترسيخ او معنا داخلولوپړاو و، عقيدې او ايمان دوامدارې پاملرنې ته اړتيا درلوده. په چالاکۍ او بيړې سره عالي موخو ته رسېدل نه کيږي او يوازې هغه کسان د جاهلې ټولنې پر ضد مقابله کولای شي چې په زړونو کې يې په الٰهي ذات عقيدې او توحيد ځای نيولی وي.

## فعاليت

ګرانو زده کوونکو! له يادو شويو حکمتونو پرته چې د جګړې د نه کولو په اړه وو، نور حکمتونه ووایاست.

## له لوست څخه زده کړې

- اسلام ته بلنه په حقيقت کې د خلکو هر اړخيز ټولنيز او عقيدوي بدلون دی چې دغه مطلب د پيروانو ذهني روزنې او تيارې ته اړتيا لري.
- د قايد او لارښوود اوامر منل ښې او مثبتې پايلې لري.
- د هغه مصلحت پرېښودل غوره دي چې د لوی فساد لامل ګرځي.

## ارزونه

١. آيا د پېغمبرﷺ ياران له خپل ځان څخه دفاع ته تيار وو؟

٢. آيا پېغمبرﷺ په جګړې نه کولو مامور شوی و او که خپله يې دا هوډ نيولی و؟

## کورنۍ دنده

هغه حکمتونه چې پوهانو په مکه کې د جګړې نه کولو په هکله ويلي دي، په خپلو کتابچو کې وليکئ.

دوه دېرشم لوست

# مصالحه او د قريشو پر شا تګ

په اسلام کې د ډېرو خلکو شاملېدل په ځانګړي ډول د قريشو د دوو اتلانو (حضرت حمزه بن عبدالمطلب او عمر بن الخطاب) تر مسلمانېدو وروسته حالاتو څه ناڅه د مسلمانانو په ګټه بدلون وموند. مشرکينو د دې خبرې هڅه وکړه چې هر څه پېغمبرﷺ وغواړي، دوی به ورسره جوړجاړی وکړي. په دې ترتيب به پېغمبرﷺ اسلام ته له بلنې څخه لاس واخلي.

## د قريشو د خبرو اترو وړانديز

د قريشو يو مشر عتبه بن ربيعه يوه ورځ د قريشو په استازيتوب د حضرت محمدﷺ مجلس ته ورغی او ويې ويل: ای وراره! ته په موږ کې د نسب له مخې لوړ مقام لرې، خو خپل قوم ته دې ستره ستونزه پيدا کړې ده. هغوی ناپوه او پلرونه يې کافر ګڼې، څو خبرې درته وړاندې کوم، ښه فکر په کې وکړه!

رسول اللهﷺ ورته وويل: اورم وايه! عتبه وويل:

- که غواړې چې له دې لارې بډای شې، نو موږ به درته دومره مال او شتمني ټوله کړو چې له موږ ټولو څخه زيات شتمن شې.
- که سرداري او مشري غواړې، نو تا به خپل مشر کړو او ستا له مشورې پرته به هېڅ کار نه کوو.
- که پاچاهي غواړې، پاچا به دې کړو.
- که نفسي ناروغي لرې درملنه به دې وکړو.

## د قريشو استازي ته د پېغمبرﷺ ځواب

کله چې د عتبه خبرې تمامې شوې، رسول اللهﷺ وويل: آيا خبرې دې خلاصې شوې؟ عتبه وويل: هو! پېغمبرﷺ وويل: اوس واوره، بيا يې د «بسم الله الرحمن الرحيم» په ويلو سره د فصلت سورت څو لومړي آيتونه تلاوت کړل او عتبه ته يې وويل: اوس خپله پوهېږې ، چې څه تصميم ونيسې او دا يې هم ورته وويل: له تاسوڅخه د ما ل ټولولو په مقصد نه يم مبعوث شوی او نه د دې لپاره چې پر تاسو رياست او پاچاهي وکړم، بلکې اللهﷻ تاسو ته د پېغمبر په توګه را استولی يم. کتاب راباندې نازل شوی دی، امر يې کړی، چې تاسو ته د جنت زيری درکوونکی اوله دوزخ څخه ويروونکی اوسم.

## د استازي ستنېدل او د قریشو د وړاندیزونو ماتې

عتبه خپلو دوستانو ته ورستون شو او ورته وېې ویل: په خدای قسم داسې خبره مې واورېده چې تر اوسه مې اورېدلې نه وه. په خدای قسم هغه خبره نه شعر دی، نه کوډې او نه هم کهانت او نه د غیبو وینا. ای قریشو! د هغه مزاحمت مه کوئ، پرېږدئ چې خپل کار ترسره کړي، دا زما نظر دی، نور تاسې خپله پوهېږئ، چې څه وکړئ.

### فعالیت

خوږو زده کوونکو د پیغمبرﷺ کړنه له عتبه سره څنګه ارزوئ؟

### له لوست څخه زده کړې

- کله چې د پیغمبرﷺ یارانو له عتبه سره د پیغمبرﷺ خبرې واورېدې، پر خپلو اصولو او عقیده لا کلك او ثابت قدم شول.
- د رسول اللهﷺ حلم او زغم د قریشو د ناروا او حماقتونو پر وړاندې.
- د قریشو د مادي وړاندیزونو پر وړاندې د حضرت محمدﷺ بې پروایي، که بل څوك وای، هرو مرو به د مال، مقام او دنیوي منزلت وړاندیز د هغه په تګلاره کې بدلون راوستی وای.

### ارزونه

۱. عتبه بن ربیعه کوم مطالب رسول اللهﷺ ته وړاندې کړل؟

۲. د عتبه د وړاندیزونو پروړاندې د رسول اللهﷺ ځواب څه و؟

### کورنۍ دنده

د قریشو د استازي وړاندیزونه او د پیغمبرﷺ ځواب په خپلو کتابچو کې ولیکئ.

### درې دېرشم لوست

# له قریشو سره د یهودو لاس یو کول

کله چې قریشو خپله کمزوري د اسلامي بلنې پر وړاندې ولیدله، نو نضر بن حارث او عقبه بن ابي معیط یې د مدینې یهودو ته واستول، ترڅو د اسلامي بلنې له حقیقت څخه خبر شي.

## د مدینې له یهودو سره د قریشو استازي

د قریشو مشران پوهېدل، چې یهودو له ټولو پېغمبرانو او حق ویونکو سره د حسد او کینې چلن کړی او د حضرت محمدﷺ بعثت یوه لویه صدمه ګڼي. هغوی په جزیرة العرب کې اوږده موده ژوند کړی او هیله من دي چې راتلونکی پېغمبر به له یهودو څخه وي او د یهودو پرګنې به سره یو کړي.

د قریشو مشرکانو او یهودو د اسلامي بلنې په مخنیوي کې ګډه موخه درلوده. د مکې دوه مشرکان د مدینې یهودو ته ورغلل او د مسلمانانو د حالت کیسه یې ورته بیان کړه. له هغوی څخه یې وغوښتل چې د تورات په رڼا کې د پېغمبرﷺ په هکله څه معلومات د دوی په واک کې ورکړي.

### فعالیت

ګرانو زده کوونکو! ولې د رسول اللهﷺ پروړاندې یهودو او د قریشو مشرکانو یو دریځ ونیو؟

## له حضرت محمدﷺ څخه درې پوښتنې

یهودي علماوو د قریشو استازو ته وویل: د لاندې دریو مطلبونو په اړه ورڅخه پوښتنه وکړئ که سم ځواب یې درکړ، بې له شکه پېغمبر دی، هغه درې مطلبونه دادي:

١. د هغو ځوانانو حالت څنګه و چې د ظالمو حاکمانو له ظلم څخه یې په غره کې پناه اخیستې وه؟
٢. له هغه سړي څخه چې د ځمکې ختیز او لویدیز ته یې سفر کړی و څه، خبر لرې؟
٣. روح څه شی دی ؟

## له مدینې منورې څخه د قریشو د استازو راستنیدل

د قریشو استازي مکې ته راستانه شول او له پېغمبرﷺ څخه یې پورته ذکر شوې درې واړه پوښتنې وکړې، هماغه و چې د کهف سورت نازل او د درې واړو پوښتنو ځواب په کې ورکړی شوی و،

په دې ډول د مدينې يهودو غوښتل چې له قريشو سره په لاس يو کولو د اسلام دسپيڅلي دين رڼا چې نوې يې خپلې وړانګې خپرې کړې وې، تته کړي.

### فعاليت

ګرانو زده کوونکو! د اصحاب کهف کيسه د پيغمبرﷺ په وخت کې د مسلمانانو له وضعې سره څه تړاو لري؟

## له لوست څخه زده کړې

• د اصحاب کهف حکايت له ستونزو څخه د مسلمانانو خلاصون او برياوو ته اشاره ده.
اللهﷻ رښتيني او صادق مسلمان په خپلې پناه کې ساتي. لکه څنګه يې چې د کهف اصحابو ته پناه ورکړه او ويې ژغورل.

• يهودو، سره له دې چې د پيغمبرﷺ ظهور او صفات يې په تورات کې لوستي وو، له قريشو سره د اسلام د مخنيوي په دسيسه کې شريک شول.

• پر کومو اشخاصو، چې نفساني خواهشات برلاسي وي او خپلې ګټې او مصلحتونه پر هر څه لوړ ګڼي. پرهغوی دليل، برهان او معجزه اغيز نه کوي. غوږونه يې حق نه اوري او سترګې يې حق نه ويني.

### ارزونه

۱. ولې د قريشو مشرکانو يهودو ته استازي ولېږل؟ چې د اسلامي بلنې د مخنيوي لپاره يوه حيله او دسيسه جوړه کړي.

۲. د مکې د مشرکانو استازي څوک وو؟

۳. د يهودو علماوو له پيغمبرﷺ څخه د پوښتلو لپاره کوم مطالب مطرح کړل؟

### کورنۍ دنده

د يهودو او پيغمبر ﷺد پوښتنو او ځوابونو لنډيز په خپلو کتابچو کې وليکئ.

## څلور دېرشم لوست

# حبشې ته د مسلمانانو هجرت

د قريشو له ماتې او ناهيلۍ وروسته چې د اسلامي بلنې او د پېغمبرﷺ د فعاليتونو په مخنيوي کې ور په برخه شوه، د حضرت محمدﷺ د وژنې په فکر کې شول. د دوی دغه له مېړانې لرې فکر د دې سبب شو چې دوه تنه اتلان يې مسلمان شي، چې په مسلمانېدو سره يې اسلام ځواکمن شو. دغه دوه تنه حمزه بن عبدالمطلبؓ او عمر بن الخطابؓ وو.

### ۱. د حضرت حمزهؓ مسلمانېدل

حضرت حمزه بن عبدالمطلبؓ د بعثت د شپږم کال په وروستيو کې اسلام ته راواوښت. د هغه د مسلمانېدو لامل دا و، چې يوه ورځ ابوجهل د صفا غره ترڅنګ پېغمبرﷺ ته بدې ردې وويلې. بيا کعبې ته راغی او له قريشو سره کېناست. د دې پېښې راپور حضرت حمزهؓ ته چې د قريشو نامتو اتل او د حضرت محمدﷺ تره و، ورسېد. حضرت حمزهؓ په داسې حال کې چې له ښکار څخه نوی راستون شوی و، له ابوجهل څخه د غچ اخيستلو په تکل په غوسه مسجدالحرام ته ورغی او د ابوجهل مخې ته ودرېد، ويې ويل: (ته زما وراره ته ښکنځل کوې، په داسې حال کې چې زه د هغه پر دين يم؟) بيا يې په خپلې لیندۍ ابوجهل په سر وواهه، چې سخت ټپي شو. د حضرت حمزهؓ مسلمانېدل په پيل کې، د هغه د غيرت او غوسې ښکارندوی وو، چې د خپل دوست او وراره سپکاوی يې نه غوښت، خو الله ﷻ يې بيا زړه په اسلام مين کړ او مسلمان شو.

#### فعاليت

زده کوونکي دې د حمزه ؓ د وينا (ته څما وراره ته ښکنځل ....) په هکله خپله رأيه څرګنده کړي پداسې حال کې چې دی لا مسلمان شوی نه و.

## ۲. د حضرت عمر بن خطاب رضي الله عنه مسلمانېدل

د حضرت حمزه رضي الله عنه له مسلمانېدو درې ورځې وروسته، حضرت عمر بن خطاب رضي الله عنه د اسلام په مبارك دين مشرف شو. پيغمبر صلى الله عليه وسلم لا له پخوا دحضرت عمر رضي الله عنه په اسلام مشرف كېدل له الله جل جلاله څخه غوښتل او ويل به يې: يا الله جل جلاله! اسلام ته د دغو دوو تنو عمر بن خطاب يا عمرو بن هشام (ابوجهل) څخه د يوه په واسطه چې هريو ستا په دربار كې محبوب وي، عزت وركړه.

## حضرت عمر رضي الله عنه د خپلې خور كره

يوه ورځ حضرت عمر رضي الله عنه چې له پيغمبر صلى الله عليه وسلم سره يې نه پخلاكېدونكې دښمني لرله، توره را واخېسته او د حضرت محمد صلى الله عليه وسلم د وژلو په اراده له كوره ووت. په لاره كې د مسلمانانو له يو تن سره چې د اسلام څخه يې دی نه ووخبر مخامخ شو. كله چې نوموړی د ده په اراده پوه شو، نو د ده د مسير د بدلولو په موخه يې ورته وويل: لومړی دې دخپلی كورنۍ غم وخوره خور او اوښی دې ستا دين پرېښی دی، هغو ته ورشه.

د دې خبرې په اورېدو سره عمر په غوسه شو خپل مسير يې بدل كړ او له اجازې پرته د خپلې خور فاطمې رضي الله عنها كور ته، چې خباب بن ارت رضي الله عنه هغې او دهغې خاوند سعيد بن زيد ته د قرآنكريم تلاوت كاوه، ورننوت. خباب بن ارت رضي الله عنه ځان پټ كړ خو حضرت عمر د قرآنكريم لوستلو غږ اورېدلی و، خپله خور او اوښی سعيد بن زيد يې تر وهلو او ښكنځلو لاندې ونيول. فاطمې په داسې حال كې چې وينې يې له مخ څخه بهېدې عمر رضي الله عنه د ايمان اظهار وكړ عمر رضي الله عنه لږ وروسته پښېمانه شو، ويې غوښتل هغه ايتونه چې هغوی لوستل، ولولي. خور يې لارښوونه ورته وكړه چې غسل وكړي او خپل ځان پاك كړي، بيا يې د طٰه له سورت څخه څو آيتونه ولوستل. كله چې: ﴿إِنَّنِي أَنَا اللَّهُ لَا إِلَٰهَ إِلَّا أَنَا فَاعْبُدْنِي وَأَقِمِ الصَّلَاةَ لِذِكْرِي﴾[طه : ١٤] آيت ته راورسېده عمر وويل:

دا ښومره ښه کلام دی، همدا ذات یوازې د عبادت لایق دی ما حضرت محمدﷺ ته بوځئ!! کله چې حضرت عمرؓ د ارقم بن ابی الارقم کور ته چې رسول اللهﷺ په کې و، ورننووت، پېغمبرﷺ وویل: عمره!دخه لپاره راغلی یې؟ حضرت عمر بن خطابؓ وویل: د الله رسول ته راغلی یم، ترڅو په خدایﷻ او د هغه په رسول ایمان راوړم. پېغمبرﷺ د تکبیر غږ پورته کړ: ټول اصحاب چې په کور کې وو، پوه شول چې عمر مسلمان شوی دی.

له دې وروسته حضرت عمرؓ پېغمبرﷺ ته وویل: آیا موږ په حقه نه یو؟ پېغمبرﷺ وویل: ولې نه! عمرؓ وویل: نو ولې پټ و اوسو! بیایې مسلمانان په دو وکتارونو کې تنظیم کړل چې د یوه په سر کې حضرت حمزه ؓ او د بل په سر کې حضرت عمرؓ روان وو، مسجد الحرام ته ننوتل. کله چې قریشو هغوی ولیدل، خفه شول، په همدغه ورځ رسول اللهﷺ حضرت عمرؓ ته د فاروق لقب ورکړ.

## فعالیت

ګرانو زده کوونکو! دخپل استاذ په لارښوونه د عمرؓداسلام قبلولو په هکله په خپل منځ کې مباحثه وکړئ.

## له لوست ښخه زده کړې

- . پر لوستونکي او اورېدونکي باندې د قرآن کریم فوق العاده اغېز.
- . د مظلوم ساتنه او طرفداري د هر غیرتي او عدل خوښوونکي انسان دنده ده.
- . کېدای شي الٰهي ذات ته په دعا او التجاء سره ښې راتلونکې ته هیله من اوسو.

## ارزونه

۱. حضرت حمزهرضي الله عنه او حضرت عمررضي الله عنه په کوم کال مسلمان شول؟

۲. د کوم آيت لوستلو حضرت عمررضي الله عنه حېران کړ؟

۳. ولې پېغمبرصلی الله علیه وسلم د حضرت عمررضي الله عنه له مسلمانېدلو وروسته د تکبير غږ پورته کړ؟

## کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د حضرت حمزهرضي الله عنه او د حضرت عمررضي الله عنه د مسلمانېدلو لاملونه په خپلو کتابچو کې وليکي.

## پنځه دېرشم لوست

# د دوو اتلانو مسلمانېدل

په لومړيو کې د مسلمانانو ربړول لړ وو، خو ورځ په ورځ يې زوراخيست او د بعثت د پنځم کال په منځ کې خپل اوج ته ورسېد، ان تر دې چې په مکه کې د مسلمانانو اوسېدل ناشونی شو، نو رسول الله ﷺ دې ته اړ شو چې له دې حالت څخه د خپلو صحابه وو لپاره د وتلو کومه لاره او چاره وسنجوي، چې نه يوازې دوی له دغه ځوروونکي حالت څخه خلاصون ومومي، بلکې د اسلام په لور بلنې ته په نوي بڼې ورکولو سره لاره پرانستل شي.

## هجرت ته هڅونه

په دغو سختو شېبو کې د کهف سورت نازل شو او د اصحاب کهف کيسه د کفر او ظلم له ځمکې څخه د هجرت کولو لاربښوونه ده، تر څو مسلمانان د عقيدې د زوال له وېرې د امن او ډاډمن ځای ته پناه يوسي او په الله توکل وکړي. وروسته بيا د زمر سورت لسم آيت ﴿لِلَّذِينَ أَحْسَنُوا فِي هَذِهِ الدُّنْيَا حَسَنَةٌ وَأَرْضُ اللَّهِ وَاسِعَةٌ إِنَّمَا يُوَفَّى الصَّابِرُونَ أَجْرَهُمْ بِغَيْرِ حِسَابٍ﴾[الزمر : ١٠]) نازل شو، چې هجرت ته پکې اشاره ده او د دې خبرې څرګندوونکی دی، چې د خدای ﷻ ځمکه پراخه ده.

### فعاليت

د مسلمانانو په نزد هجرت څه معنا افاده کوي؟

## د مسلمانانو لومړی هجرت

د الله تعالی رسول د حبشې ځمکه چې نجاشي يې پاچا وه او يو نېک، عادل او ښه سړی وه،په حکومت کې يې پر چا تېری نه کېده. د مسلمانانو د هجرت لپاره وټاکله او امر يې وکړ چې د خپلې

عقیدې د ساتنې او ژغورنې لپاره حبشې ته هجرت وکړي. لکه چې په خطاب کې یې مسلمانانو ته ویلی وو (لو خرجتم الی الحبشة فان بها ملکا لا یظلم عنده احد و هي ارض صدق حتی یجعل الله لکم مخرجا)[1] یعني: د حبشې ځمکې ته لاړشئ ځکه هلته یو بادشاه دی چې د هغه په وړاندې په چا ظلم نه کیږي، او هغه د رښتیاؤ ځمکه ده تر هغې هلته اوسئ چې الله ستاسی لپاره له ستونزې څخه د وتلو لاره غوره کړي. له همدې امله د بعثت په پنځم کال د رجب په میاشت کې د پیغمبرﷺ د یارانو لومړنۍ ډله چې شمېر یې شپاړسو تنو ته چې (۱۲)یې نارینه او (٤)یې ښځې وې، د عثمان بن عفان په مشرۍ، چې میرمن یې (رقیه د پیغمبرﷺ لور) هم ورسره وه، دحبشې ساحل ته د شپې روانه شوه او شعیبه بندر ته ورسېده. د الله ﷻ پرېکړه داسې وه، چې سوداګریزې بېړۍ دې هغوی له ځان سره حبشې ته یوسي. قریش له خبرېدلوسره سم په لټه کې شول، خو بندر ته یې له ورتللو څخه مخکې بېړۍ حبشې ته تللې وه.

## حبشې ته دویم هجرت:

کله چې مهاجرینو ته د نجاشي له پناه ورکولو او ښه چلن څخه قریش خبر شول، نو سخت خفه شول او له بلې خوا مهاجرینو ته خبر راورسېد چې د قریشو مشرکین مسلمانان شول او د خدایﷻ دین یې ومانه. هماغه وو چې مکې ته بېرته راغلل. کله چې په حقیقت پوه شول، رسول اللهﷺ بله چاره نه درلوده، مګر دا چې خپلو یارانو ته د دویم ځل لپاره د هجرت اجازه ورکړي، خو دا دویم هجرت له لومړني هجرت څخه ستونزمن و، ځکه قریش د دې هجرت په جریان پوه وو. تصمیم یې ونیو چې مخه یې ونیسي، خو مسلمانانو له بیړې کار واخیست. مخکې له هغې چې مشرکین ورته راورسیږي، په بېړیو کې حبشې ته روان شول، په دې هجرت کې د مسلمانانو شمېر(۱۲۰) تنه وو چې (۸۳) تنه یې نارینه او پاتې نور یې ښځې وې او د حضرت جعفر بن عبدالمطلب رضي الله عنه په مشرۍ ترسره شو.

۱- د ابن اسحاق او ابن هشام روایت.

## فعالیت

زده کوونکي دې د استاد په لارښوونه له حبشې څخه د مهاجرینو د راستنېدلو په اړه په خپلوکې بحث وکړي.

## له لوست څخه زده کړې

- له تېرولو کړاوونو وروسته د مسلمانانو ثبات او استقامت، په عقیده او ایمان کې د هغوی د اخلاص دلیل دی.
- د دین او عقیدې د ژغورنې په موخه له وطن او ټاټوبي څخه د وتلو مشروعیت.
- د کفرله ځمکې څخه د ایمان ځمکې ته هجرت عبادت ګڼل کېږي.
- د هجرت اجازه ورکول د پیغمبرﷺ د مهربانی نښه ده چې د امت د حفاظت او امن په اړه یې درلود.

## ارزونه

د سم ځواب مخې ته (✓) نښه کېږدئ.

۱- لومړی هجرت په اسلام کې عبارت دی له:

الف- مدینې ته هجرت

ب- طائف ته هجرت

ج- حبشې ته هجرت

د- یمن ته هجرت

۲- ولې مهاجرین له حبشې څخه خپلو کورونو (مکې) ته راستانه شول؟

۱. ځکه چې نجاشي راوشړل.

۲. ځکه مال او شتمني يې خلاصه شوه.

۳. ځکه چې فکر يې وکړ پر مسلمانانو باندې د مکې د خلکو ظلم لږ شوی دی.

٤. رسول اللهﷺ ورته ويلي وو چې بېرته راشئ.

۳- د لومړي ځل لپاره له مکې څخه حبشې ته د مسلمانانو هجرت څه ډول و؟

ا- په ويره او تيښته ولاړل.

ب- له خپلو کورنيو سره په خدای پامانی او ښکاره ولاړل.

ج- له خو شحالی او ډاډ سره ولاړل.

د- ناڅاپه او په اوښانو سواره ولاړل.

### کورنۍ دنده

په خپلو کتابچو کې وليکئ، چې مسلمانانو ته څرنګه د هجرت لارښوونه وشوه او د لومړي ځل لپاره يې کوم ځای ته هجرت وکړ او ولې او شمېر يې څو تنه وو؟

## شپږ دېرشم لوست

# له حبشې څخه د مهاجرینو د راستنولو لپاره هلې ځلې

مشرکین په دې ډېر خفه وو چې مسلمانانو د خپل دین او ځانونو د ساتنې لپاره د پناه ځای پیدا کړی دی، نو ځکه یې له حبشې څخه د راستنولو لپاره عمرو بن عاص او عبدالله بن ابي ربیعه له قیمتي تحفو سره نجاشي ته واستول.

## له نجاشي څخه د قریشو د استازو غوښتنه

د مشرکینو دغه دوه استازي له خپلو تحفو سره نجاشي ته ورغلل او د مهاجرینو د ستنولو په اړه یې په خبرو پیل وکړ، ویې ویل:

ستا هېواد ته زموږ یو شمېر ناپوهانو پناه راوړې چې د خپلو پلرونو دین یې پرېښی، داسې دین یې راوړی چې خپله یې جوړ کړی. پلرونو او قبیلو یې موږ تاسو ته راولېږلو چې دوی له موږ سره بېرته ولېږئ.[1]

### فعالیت

قریشو د اسلام د خپراوي د مخنیوي لپاره څه ډول کارونه وکړل؟

---

١- السیرة النبویة، الصلابي ص. ١٩٧.

## د نجاشي پوښتنې او د مسلمانانو ځوابونه

نجاشي هوډ ونيو چې دا موضوع وڅېړل شي او د دواړو خواوو دلايل واورېدل شي، نو يو تن يې په مهاجرو مسلمانانو پسې واستاوه او خپل دربار ته يې راوغوښتل. مهاجرو مسلمانانو پرېکړه وکړه چې حقيقت به وايي. نجاشي له مسلمانانو وپوښتل، چې اسلام څنګه دين دی؟

حضرت جعفر رضي الله عنه د مسلمانانو په استازيتوب وويل: موږ داسې ناپوهه قوم وو چې د بتانو عبادت مو کاوه. د مردارو څارويو غوښې مو خوړلې. ناروا کارونه مو کول. د خپلوۍ اړيکې مو شلولې. له ګاونډي سره مو بد چلندکاوه او ځواکمنو به مو بې وسه خلک ځپل.[1] هو! زموږ همدا حال و چې الله جل جلاله زموږ له منځه پيغمبر غوره کړ چې لوړ نسب يې درلود. د هغه رښتينولي، امانتداري مو ومنله. موږ يې توحيد او د الله جل جلاله عبادت ته راوبللو اوغوښتنه يې راڅخه وکړه چې بت پرستي پرېږدو. رښتيا ووايو او امانت ساتونکي و اوسو. د خپلوۍ اړيکې مراعات کړو او ښه ګاونډيتوب ولرو. له دروغ ويلو، د يتيم د مال له خوړلو څخه ځان وژغورو. لمونځ وکړو، زکات ورکړو او روژه ونيسو. د هغه ويناوې مو ومنلې او ايمان مو پرې راووړ. هماغه وو چې زموږ قوم پر موږ تېری وکړ. موږ يې ربړولو او له اسلام څخه يې منعه کولو. موږ ستا هېواد ته راغلي يو او هيله من يو چې ستا په ګاونډکې ونه کړول شو.

## د نجاشي په حضور کې د خو آيتونو تلاوت

بيا د نجاشي په غوښتنه جعفر رضي الله عنه د مريم د سورت لومړني څو آيتونه تلاوت کړل، نجاشي وژړل ويې ويل: بې شکه دا او هغه څه، چې عيسٰی[2] عليه السلام راوړي، له يوې نوراني منبع څخه راوځي.

---

۱- هماغه مرجع، ص. ۱۹۸.

۲- په ځينو مراجعوکې د عيسٰی په لفظ او په نوروکې د موسٰی په لفظ روايت شوی دی.

## فعالیت

هغه اسلامي ارزښتونه چې جعفرؓ د نجاشي پر وړاندې بیان کړل، د جاهلیت له ارزښتونو سره پرتله کړئ.

## د مشرکینو د دسیسې شنډېدل

بیا نجاشي د قریشو استازو ته وویل: ځئ! په خدای قسم، چې دوی به تاسو ته ونه سپارو. مسلمانانو ته یې وویل: تاسې زما په هېواد کې ډاډ من یاست او خپلو شاوخوا کسانو ته یې وویل: د قریشو د استازو تحفو ته اړتیا نه لرم او هغه بېرته ورکړئ. د قریشو مکاري رسوا او دسیسه یې پر اوبو لاهو شوه.

## له لوست څخه زده کړې

- د مشرکینو د ټولو تعذیبونو او کړاوونو پر وړاندې د مسلمانانو ټینګښت، په عقیده او ایمان کې د هغوی د صداقت او اخلاص دلیل دی.
- د هجرت اجازه ورکول پر اصحابو د حضرت محمدﷺ د شفقت څرګندونه ده او پیغمبرﷺ زیار وېست، چې اصحاب یې په امن، راحت او سوکالۍ کې ژوند وکړي.
- حبشې ته د مسلمانانو په هجرت سره پیغمبرﷺ وکولای شول د مکې شاوخوا سیمې وپېژني او ویې ارزوي.

## ارزونه

۱. د قریشو استازي د څه لپاره نجاشي ته ورغلل؟

۲. نجاشي د دواړو خواوو (مسلمانانو او مشرکینو) د نظر له اورېدلو وروسته څه تصمیم ونیو؟

۳. حضرت جعفرؓ د نجاشي په حضور کې کوم آیتونه ولوستل او د نجاشي نظر په دې هکله څه و؟

## کورنۍ دنده

زده کوونکي دې په خپلو کتابچو کې د حضرت جعفرؓ د اسلامي دین د ارزښتونو او د مشرکینو د غبرګون د بیانولو څرنګوالی ولیکي.

اووه دېرشم لوست

# هر اړخیز بندیز او متارکه

د اسلام دین ته د خلکو ورځ په ورځ زیاتېدونکی میلان په ځانګړي ډول د حضرت حمزهؓ او حضرت عمرؓ مسلمانېدل او د بني هاشم او بني عبدالمطلب قبیلوترمنځ د کافرو او مسلمانو افرادو په ګډون ژمنه کول، چې یو له بل څخه د دفاع او ملاتړ په موخه تر سره شوې وه، مشرکین وارخطا کړل. پوه شول چې که حضرت محمدﷺ ووژني، خطرناکې پایلې به ولري، نو له پخوا دېرې لویې او ظالمانه توطئې ته یې لاس واچاوه.

## د بندیز تړون

د قریشو مشرکین سره راټول شول او د بني هاشم او بني عبدالمطلب پر ضد یې یو تړون وکړ چې له هغوی سره به خپلوي نه کوي.پلورل او پېرودل به ورسره نه کوي. خبرې به ورسره نه کوي او کورونو ته به یې نه ورځي، ترڅو چې رسول اللهﷺ د وژلو لپاره هغوی ته ونه سپاري. پورتني مطالب یې په یوه تړون پاڼه کې ولیکل او پاڼه یې دننه په کعبه کې ځوړنده کړه. له دې وروسته بنو هاشم او بنو عبدالمطلب، مسلمان او کافر یې له ابولهب پرته د بعثت د اووم کال د محرم په لومړۍ شپه د ابوطالب په دره کې کلابند شول.

## فعالیت

ولې مشرکینو د بني عبدالمطلب او بني هاشم قبیلو پر ضد بندیز ولګاوه؟

## په شعب ابوطالب کې څه تېرېدل

د دغه درې کلن اقتصادي بندېز پرېنسټ له مسلمانانو او بنی هاشمو سره هر راز معامله او راکړه ورکړه بنده شوه او په پای کې بني هاشم له داسې سختۍ او کړاو سره مخامخ شول چې د ونو د پاڼو او د حیواناتو د اوچو پوستکو په خوړلو مجبور شول او له درې څخه د ډېرې لوږې له امله د ښځو او کوچنیانو چیغې پورته کېدې، له هغه څه پرته چې په پټه وروړل کېدل، نور ورته هېڅ شی نه رسېدل.

## د بندیز پای او د تړون پاڼې شلول

درې کاله همداسې تېر شول، او مشرکینو په قساوت او بې رحمۍ سره د مسلمانانو محاصرې ته ادامه ورکړه، د قریشو یو څو غیرتمندو لکه: هشام بن عمرو، زهیر بن ابی امیه، مطعم بن عدي د دې لوزنامې مخالفت وکړ او د ماتولو هڅه یې ورکړه چې د ابوجهل له سخت مخالفت سره مخ شول، د بعثت په لسم کال د محرم په میاشت کې رسول کریم ﷺ خپل تره ابوطالب ته خبر وکړ چې د الله تعالی په حکم دلوز نامې ټول مواد د الله تعالی دنوم څخه پرته چینجو خوړلي. ابوطالب چې د رسول الله ﷺ په خبره یقین درلود د قریشو د مشرانو مجلس ته ورغی او ورته یې و ویل: زما وراره خبر راکړ چې ستاسې لوز نامه له منځه تللې ده.

که دروغ یې ویلي وي، نو هغه تاسو ته سپارم او که رښتیا یې ویلي وي، نو له موږ سره د اړیکو له پرېکولو او ظلم کولو څخه لاس واخلئ! مشرکینو دا خبره ومنله، مطعم بن عدي اوچت شو

چې هغه تړون پاڼه څېرې کړي، ګوري چې د الله تعالی له نامه(باسمک الهم) پرته ټول لیک وینه وو خوړلی دی، په دغه ترتیب نوموړی تړون مات شو، رسول اللهﷺ او ملګري یې له محاصرې ووتل. مشرکینو د نبوت د دې سترې نښې له لیدو سره سره د نبوت له دغې معجزې څخه مخ واړاوه اوکفر اوسرغړاوی یې تر پخوا ډېر شو.[1]

### فعالیت

تړون پاڼه د انساني حقوقو له پلوه څنګه ارزوئ؟

## له لوست څخه زده کړې

- د اسلامي بلنې په لار کې د ستونزو او کړاوونو پر وړاندې صبر او زغم.
- د بني هاشمو او بني المطلب نا مسلمانو ډلو د جاهلي دود او عصبیت له مخې د حضرت محمدﷺ ملاتړ وکړ.
- دغه اقتصادي او ټولنیز بندیز چې د حج په موسم کې ټول قبایل ورڅخه خبر شول د جزیرة العرب د ټولو قبایلو پام اسلامي دعوت ته راواړاوه.
- دغه اقتصادي او اجتماعي بندیز د دې لامل شو چې د عربو قبیلې په پیغمبرﷺ او یارانو یې شفقت وکړي او د بندیز د لرې کېدو سره سم خلکو کرار کرار اسلام ته مخه وکړه.

---

۱- السیرة النبویه ابوالحسن الندوي ص. ۱۳۹، الرحیق المختوم، مبارکپوري د خاموش هروي ژباړه، ص. ۱۸۱.

## ارزونه

۱. د چا پر ضد مشرکینو تړون کړی و؟

۲. په تړون پاڼه کې څه لیکل شوي وو؟

۳. دغه اقتصادي بندیز څو کاله و؟

٤. دغه تړون څرنګه مات او تړون پاڼه څنګه وشلول شوه؟

## کورنۍ دنده

د پېغمبرﷺ د معجزې نښې د تړون پاڼې په له منځه تلو کې څه وې او دا چې کوموکسانو دتړون د ماتولو هلې ځلې وکړې، نومونه یې ولیکئ.

### اته دېرشم لوست

## ابو طالب ته د قریشو وروستی استازی

حضرت محمدﷺ له شعب ابوطالب څخه راووت او د پخوا په څېر يې د بلنې کار او فعالیت ته دوام ورکړ، خو مشرکینو هڅې کولې چې د خلکو د مسلمانېدو مخه ډب کړي. ابوطالب هم له خپلې جسمي کمزورتیا سره سره د پخوا په شان د خپل وراره (حضرت محمدﷺ) ملاتړ کاوه.

### له ابوطالب سره د قریشو مشران

ابوطالب ناروغ شو او د ناروغی خبر يې قریشو ته ورسېد. مشرکینو په خپل منځی جلسه کې وویل: حمزهؓ او عمر بن الخطابؓ مسلمان شوي دي.د مسلمانانوکار مخ پر وړاندې روان دی، راځئ چې ابوطالب ته ورشو او له مړینې وړاندې يې د وراره په باره کې ورسره یوې پرېکړې ته ورسېږو.

### ابوطالب ته د قریشو د مشرکینو وړاندیز

د قریشو مشران نږدې پنځه ویشت کسان ابوطالب ته ورغلل او وړاندیز يې وکړ چې خپل وراره راوغواړه او د هغه لپاره پر موږ او زموږ لپاره پر هغه شرط کېږده، ترڅو هغه پر موږ او موږ پر هغه کار ونه لرو. موږ دې خپل دین ته پرېږدي او موږ به هغه د هغه دین ته پرېږدو.

**فعالیت**

ولې د قریشو مشرکینو داسې وړاندیز مطرح کړ؟

### د قریشو د مشرانو مجلس ته د پیغمبرﷺ راتلل

ابو طالب پیغمبرﷺ راوغوښت او ورته ويې ویل: ای زما وراره! دوی ستا د قوم مشران دي، ستا لپاره راټول شوي او وايي چې موږ به پر ده غرض نه کوو او دی به پر موږ غرض نه کوي. رسول اللهﷺ هغوی ته وویل: آیا خوښه مونه ده، چې داسې یوه کلمه دروښیم چې ويې وایئ، له برکته به يې د عربو پاچاهان شئ او عجم به هم ستاسو فرمان منونکي شي؟

ټول خوښ شول. ابوجهل وویل: دا کومه کلمه ده؟ پیغمبرﷺ وویل: لااله الا الله وواییٔ او نور ټول خدایان پرېږدئ.

## له اسلامي بلنې څخه د مشرکانو سرغړاوی

((مشرکینو لاسونه ومروړل او ویې ویل: ای محمده! له ګڼو خدایانو څخه یو خدای جوړوې؟ د حیرانتیاخبره ده. بیا مشرکینو په خپل منځ کې وویل: په خدای قسم څه چې غواړئ دا سړی یې نه درکوي، نو د خپلو پلرونو پر دین کلک اوسئ، بیا خواره شول)).

### فعالیت

د (لا اله الا الله)کلمې ویل څنګه د سرلوړی لامل جوړېږي؟

### له لوست څخه زده کړې

- د سولې او یو پر بل د نه تېري وړاندیز د مشرکینو له خوا د هغوی د کمزورۍ او بې وسی نښه وه.
- د توحید د کلمې ویل د بندګانو د آ خرت او دنیا د سرلوړی وسیله ده.
- اسلام ته د بلنې په لار کې د پیغمبرﷺ ثبات او کلکوالی.

### ارزونه

۱_ د قریشو مشرکانو پیغمبرﷺ ته کوم مطالب وړاندې کړل؟

۲_ د پیغمبرﷺ ځواب د هغوی د وړاندیز په هکله څه و؟

۳_ د مشرکینو د وړاندیز او د پیغمبرﷺ د ځواب پایله څنګه وه؟

### کورنۍ دنده

په خپلو کتابچو کې د پیغمبرﷺ د ځواکمنی او د مشرکینو د بې وسۍ لنډیز ولیکئ.

## نهه دیرشم لوست

# عام الحزن یا د غم کال

د بندیز له پای ته رسېدلو او د ترون پانې له شلولو وروسته پیغمبرﷺ او کورنی یې د ابوطالب له دري څخه راووتل او خپل پخواني فعالیت ته یې د پخوا په څیر دوام ورکړ. مسلمانانو لا د آرام سا نه وه اخیستې چې ابوطالب د پیغمبرﷺ تره او ام المؤمنین حضرت خدیجه رضي الله عنها یو په بل پسې مړه شول.

### د ابوطالب مړینه

ابوطالب، د پیغمبرﷺ تره چې د مشرکینو د مخالفت په سختو شیبو کې یې د اسلام د ستر پیغمبر ملا تړ کاو، د بعثت په لسم کال د یوې سختې ناروغۍ له امله مړ شو، که څه هم پیغمبرﷺ هیله لرله چې تره یې مسلمان شي، خو هغه د خپلو نیکونو په دین پاتې شو.[1]

**فعالیت**

ولې د بعثت لسم کال ته عام الحزن وایي؟

### الٰهي رحمت ته د حضرت خدیجې رضی الله عنها وصال

حضرت خدیجه رضي الله عنها د حضرت محمدﷺ لپاره د الله جل جلاله له خوا ستر نعمت ګڼل کېده، د خفګان په شیبو کې یې شفقت پرې کاوه. د خدای د پیغام په رسولو کې یې مرسته ورسره کوله، خپل مال یې د حضرت محمدﷺ په واک کې ورکړی و.

ام المؤمنین خدیجې رضي الله عنها د ابوطالب له مړینې څو ورځې وروسته د (٦٥) کالو په عمر له نړۍ څخه سترګې پټې کړې.[2]

**فعالیت**

ولې پیغمبرﷺ هیله من و چې تره یې مسلمان شي؟

---

١- الرحیق المختوم، مبارکپوري د خاموش هروي ژباړه، ص. ١٨٩، السیرة النبویة، الصلابي ص. ٢٠٩.

٢- الرحیق المختوم، مبارکپوري د خاموش هروي ژباړه، ص. ١٩٠.

## له لوست څخه زده کړې

- د ژوند د ستونزو پر وړاندې زغم.
- د اسلام د تقويې او تبليغ په ډگر کې مرسته.
- له خپلو خپلوانو سره مرسته.

## ارزونه

**الف**: لاندينی پوښتنې ځواب کړئ:

۱. ابوطالب په کوم کال مړ شو؟

۲. آيا ابوطالب مسلمان شوی و؟

**ب**: د سم ځواب مخې ته ( ✓ ) نښه کېږدئ

۱. حضرت خديجه رضي الله عنها د مړينې پر مهال:

- پنځوس کلنه وه.
- پنځه ويشت کلنه وه.
- پنځه شپېته کلنه وه.
- پنځه څلوېښت کلنه وه.

۲. حضرت خديجه رضي الله عنها په:

- اووم هجري کال مړه شوه.
- د بعثت په لسم کال مړه شوه.
- د بعثت په دويم کال مړه شوه.
- د هجرت په دولسم کال مړه شوه.

## کورنۍ دنده

په خپلو کتابچو کې د خديجې رضي الله عنها او ابوطالب هغه خدمتونه وليکئ چې پيغمبر ﷺ ته يې کړي دي.

## څلوېښتم لوست

# حضرت محمدﷺ په طایف کې

په څو ورځو کې د دوو پرله پسې دردوونکو پېښو ( د ابوطالب او خدیجې وفات) راتلل، پېغمبرﷺ خفه کړ او ورسره د مشرکینو له لوري پر پېغمبرﷺ د خورا درنو تکلیفونو، کړاوونو او رنځونو لړۍ پیل شوه، خو پېغمبرﷺ پر خدایﷻ د ایمان او ټینګ عزم په وسیله غوارې له مکې څخه د باندې د طایف اوسیدونکوته بلنه ورکړي.

## طایف ته د تلو اراده

د بعثت په لسم کال د شوال په میاشت کې رسول اللهﷺ د زید بن حارثه په ملتیا طایف ته، چې د مکې په شپېته میلۍ کې پروت دی، روان شو.

د طایف د لارې په اوږدو کې به چې د هرې قبیلې ترڅنګ تېرېدل، هغوی به یې اسلام ته رابلل، خو یو هم مثبت ځواب ورنکړ. کله چې طایف ته ورسېدل، تر لسو ورځو د قبیلو مشرانو ته ورتلل او هغوی یې خدایﷻ او د اسلامي بلنې مرستې ته رابلل، خو د طایف خلکو یې په ځواب کې وویل: زموږ له سیمې څخه ووځه، خپل مریان او ناپوهان یې ور پسې کړل او دومره یې په کاڼو وویشتل چې پښې یې له وینو ډکې شوې[1]. په همدې حال کې پېغمبرﷺ د ربیعه د زامنو عتبه او شیبه باغ ته ور ننووت او د یوې ونې سیوري ته کېناست او اللهﷻ ته یې د خپلې بې وسۍ او د خلکو په سترګو کې د بې ارزښتی شکایت وکړ[2]. کله چې د ربیعه زامنو پېغمبرﷺ ولید، زړه یې

---

١- الرحیق المختوم، مبارکپوري د خاموش هروي ژباړه، ص. ٢٠٨.
٢- ابن هشام سیرت، ٤٢٠/١.

سوی وکړ او خپل نصراني غلام ته يې چې عداس نوميد او د نينوی هستوګن و، وويل: يو وږی انګور هغه سړي ته يوسه. کله چې عداس ورته وږی په مخکې کېښود، حضرت محمدﷺ د بسم الله په ويلو لاس وراوږد او په خوړلو يې پيل وکړ،[1] عداس چې له پيغمبرﷺ څخه د انګور خوړلو په پيل کې بسم الله واورېده، د خو پوښتنو او ځوابونو په تبادلې سره وپوهېد، چې حضرت محمدﷺ د الله جل جلاله پيغمبر دی، نو د هغه په لاسونو او پښو ورولوېد او ښکل يې کړل.[2]

## فعاليت

له رسول اللهﷺ سره د طايف د خلکو چلن د مکې د خلکو له چلن سره پرتله کړئ، همدارنګه د دوه‌ی له خوړلو وړاندې د بسم الله ويل ستاسې په ذهن کې څه مطلب پيدا کوي؟

## مکې ته بېرته راتګ

رسول اللهﷺ له باغه راووت او په مات زړه د مکې پر لور وخوځېد. کله چې قرن المنازل ته ورسېد، دالله جل جلاله له لوري د جبرئيل عليه السلام او د غرونو د پرښتې په ورلېږلو يې چې د مکې پر مشرکينو د عذاب نازلېدلو او پيغمبرﷺ ته د برياوو زيري يې له ځان سره لرلو، ورپيښه خواشيني او ناهيلي له منځه لاړه او پيغمبرﷺ هوډ ونيوه، چې مکې ته به ځي او په جديت سره به الٰهي پيغام خلکو ته رسوي.

---

۱- السيرة النبوية الصلابي ۲۱۹.
۲- الرحيق المختوم، مباركپوري د خاموش هروی ژباړه، ۲۱۱ السيرة النبوية الصلابي ۲۱۹.

## د نورو قبیلو له مشرانو څخه د پناه غوښتنه

پېغمبرﷺ مکې ته د راستنېدو په لارکې د حراء غار ته لاړ او یو سړی یې له قریشو پرته د دوو نورو قبیلو مشرانو ته واستاوه، ترڅو هغه (محمدﷺ) په خپلې پناه کې ونیسي، هغوی دواړو یې له پناه ورکولو معذرت وغوښت. بیا یې مطعم بن عدي ته چې د قریشو بنو مخزوم قبیلې ته منسوب ؤ یو څوک ورولېږه. هغه پېغمبرﷺ ته پناه ورکړه. نوموړي خپله وسله واخیسته، زامن او قوم یې راوغوښتل او ورته یې وویل: وسله واخلئ او کعبې ته نږدې اوسئ، ما محمدﷺ ته پناه ورکړې او رسول اللهﷺ ته یې پېغام واستاوه، چې مکې ته راشي.(۱)

## مکې ته د پېغمبرﷺ ننوتل

پېغمبرﷺ له زید بن حارثه سره مکې ته راننوت او مسجد الحرم ته ورسېده. مطعم بن عدي په داسې حا ل کې چې په خپل اوښ سپور و، په لوړ اواز یې نارې کړې! ای قریشو وپوهېږئ، چې ما محمد ته پناه ورکړې، تېری پرې ونه کړئ.

رسول اللهﷺ حجر اسود ته ورغی ښکل یې کړه او دوه رکعته لمونځ یې وکړ. بیا خپل کور ته ولاړو، په داسې حال کې چې مطعم بن عدي او زامن یې په وسلو سمبال شا اوخوا ته ولاړوو.

### فعالیت

اسلام ته د بلنې لپاره پېغمبرﷺ ولې له مکې څخه بهرولاړ او ولې یې طایف انتخاب کړ؟

۱- ابن هشام سیرت ۱/۳۸۱ و الرحیق المختوم، مبارکپوري، د خاموش هروي، ژباړه: ص. ۲۱۵.

## له لوست څخه زده کړې

- هدف ته د رسېدو په لارکې موانع او ستونزې شته چې باید وزغمل شي.
- رسول الله ﷺ د دویم ځل لپاره په څه ډول مکې ته راستون شو؟
- نصراني غلام څنګه پوه شو چې حضرت محمد ﷺ پېغمبر دی؟
- ولې پېغمبر ﷺ مکې ته د بیا تګ اراده وکړه؟

### کورنۍ دنده

په دې سفرکې د اسلامي دعوت په ډګرکې د حضرت محمد ﷺ هلې ځلې وارزوئ او خپلو کتابچو کې یې ولیکئ.

## یو څلوېښتم لوست

# اسراء او معراج

د اسراء او معراج پېښه هغه وخت رامنځ ته شوه چې اسلام ته بلنې د مشرکینو د فشار او بریاوو ترمنځ لاره پرانستله.

### د معراج او اسراء د واقعې جریان

له عام الحزن څخه وروسته او مدینې ته له هجرت څخه یو کال وړاندې د اسراء واقعه پېښه شوه.

پیغمبرﷺ په بدن او روح سره د مسجدالحرام څخه مسجد اقصٰی ته د براق په سورلۍ او د جبرائیلؑ په ملتیا یوړل شو او هلته د پیغمبرانو په ګډون دحضرت محمدﷺ په امامت لمونځ اداشو.

### له بیت المقدس څخه آسمانونو ته عروج

بیا پیغمبرﷺ په هماغه شپه له بیت المقدس څخه آسمانونو ته یووړل شو. د دنیا په آسمان کې یې حضرت آدمؑ په دویم کې یې حضرت یحيٰ او عیسٰی علیهما السلام او په دریم کې یې حضرت یوسفؑ او په څلورم کې یې حضرت ادریسؑ او په پنځم کې یې حضرت هارونؑ او په شپږم کې یې حضرت موسٰیؑ او په اووم کې یې حضرت ابراهیمؑ ولیدل. بیا سدرة المنتهٰی، بیت المعمور او له هغه ځایه یې د الله رب العزت حضور ته تشریف یووړ.

### د پنځو وختو لمونځونو فرضېدل

اللهﷻ په دې مهال پر مسلمه امت باندې پنځوس لمونځونه فرض کړل. د بېرته راتلو پر مهال، چې کله رسول اللهﷺ حضرت موسٰیؑ ته راورسېد او دخپل سفر حال یې ورته بیان کړ او د پنځوسو لمنځونو خبره یې هم ورته وکړه، موسٰیؑ وویل: ستا امت د پنځوسو لمونځونو د ادا کولو وس نه لري، بېرته لاړ شه او کمښت یې ورڅخه وغواړه، بالآخره د څو ځلې تلو راتلو په پایله کې پنځه وخته فرض لمونځونه پاتې شول.



**فعالیت**

د اسراء او معراج معنا ته ځیر شئ، اسراء له کوم ځایه کوم ځای ته او معراج له کوم ځایه کوم ځای ته وشو؟

### د اسراء او معراج حکمت:

حضرت محمدﷺ د اسراء او معراج پېښې په ترځ کې دوزخ او جنت ولیدل چې د خلکو له سترګو څخه پټ دي. اللهﷻ په دې هکله فرمايي: ﴿لِنُرِيَهُ مِنْ اٰيَاتِنَا﴾ [الإسراء : ۱] همدارنګه

اللهﷻ فرمايي: ﴿لَقَدْ رَآَى مِنْ اٰيَاتِ رَبِّهِ الْكُبْرَى﴾ د النجم- ۱۸ آيت. او همدا د پيغمبرانو په هکله د اللهﷻ سنت دی.

## د پيغمبرﷺ لخوا د اسراء او معراج د واقعې حکايت

پيغمبرﷺ د هماغې شپې په سهار، چې د اسراء او معراج واقعه په کې پېښه شوې وه، د دې پېښې جريان حکايت کړ. خلکو دپيغمبرﷺ خبرې نه منلې، ځکه تر شام پورې تګ راتګ د عادت له مخې يوه مياشت يا له هغې څخه زياته زمانه نيسي. خلك ابوبکر صديقؓ ته ورغلل او ورته وويل: ستا دوست وايي: چې نن شپه بيت المقدس ته تللی، لمونځ يې کړی او بېرته مکې ته راغلی، ابوبکر صديقؓ وويل: که پيغمبرﷺ دغه خبرې کړې وي، نو رښتيا يې ويلي. بيا ابوبکر صديقؓ پيغمبرﷺ ته راغی او د پېښې جريان يې واورېد او تصديق يې کړ، چې په همدې ورځ د صديق لقب ورکړ شو.

### فعاليت

ځينې اعتقادي امور غيبي دي. د معراج او اسراء واقعه د دې قاعدې په چوکاټ کې څنګه ارزوئ.

### ارزونه

۱- پنځه وخته لمونځونه څه وخت پر مسلمانانو فرض شول؟
۲- د اسراء او معراج کيسه د مسلمانانو او مشرکانو پر وړاندې څه عکس العمل درلود؟
۳-د اسراء او معراج حکمت څه ؤ؟

### له لوست څخه زده کړې

- په غيبي امورو عقيده او باور.
- دا چې پيغمبرﷺ د نورو پيغمبرانو امامت کوي، په دې دليل دی چې ټول پيغمبران د نبی کريمﷺ په رهبری قناعت لري او له اسلام څخه مخکني شريعتونه منسوخ شوي دي.
- د معراج په شپه د لمانځه فرضيت د دې الهي فريضې په ارزښت دلالت کوي.
- د اسراء او معراج واقعه د باطل په وړاندې يو ډول د حق ويل دي.

## دوه څلوېښتم لوست

# د لومړي ځل لپاره له انصارو سره د پیغمبرﷺ اړیکې

د بعثت د لسم کال په ذی القعده میاشتې کې چې خلک له لرې او نږدې ځخه د بیت الله د زیارت په موخه سپاره او پلي د مکې په لور راتلل. پیغمبرﷺ تصمیم ونیو چې هرې قبیلې ته لاړ شي او اسلام ورته وړاندې کړي.

د حج موسم چې د عربو د قبیلو د یو ځای کېدو وخت و، پیغمبرﷺ له منظم پلان او ځانګړیو موخو سره اسلام ته د قبیلو بلنه کوله. ابوجهل او ابولهب چې پیغمبرﷺ به یې آزاراوه، د هغوی له آزار ځخه دخوندي پاتې کېدلو له امله به یې دشپې له پلوه د هرې قبیلې له خلکو سره خبرې کولې او یا به د قبیلو تم ځایونوته په تیارې کې ورتلو او د قریشو د ازار او تکلیف رسونې له اندیښنې پرته به یې اسلام ته رابلل، ترڅو د قریشو مشرکین د پیغمبرﷺ پر ضد د قبیلو په منځ کې اسلامي بلنه بې اغېزې نه کړي. پیغمبرﷺ به د حضرت ابوبکر صدیقؓ او حضرت عليؓ په څېر اشخاص له ځان سره بیول، ترڅود قبیلوخلک ګومان ونه کړي چې پیغمبرﷺ یوازې دی او پیروان نه لري.

### فعالیت

ولې پیغمبرﷺ د قبیلو مشرانو ته ډېره پاملرنه کوله؟

## قبیلې او هغه وګړي چې اسلام ورته وړاندې شو

رسول اللهﷺ اسلام د بنو شیبان، بنو عامر، بنو حنیفه، بنو نضیر او نورو قبیلو مشرانو ته چې په دې کال بیت الله ته راغلي وو، وړاندې کړ، خو هغوی منفي ځواب ورکړ.

همدا شان پیغمبرﷺ په همدې موسم کې ځینو اشخاصو ته هم اسلام وړاندې کړ، چې ځینو یې مثبت ځواب ورکړ او دحج د موسم له تېرېدو سره سم سوید بن الصامت، ایاس بن معاذ، ابوذر غفاري، طفیل بن عمرو الدوسي او ضماد الازدي په حضرت محمدﷺ باندې ایمان راوړ[۱].

## د بعثت په یوولسم کال د حج په موسم کې د بلنې دوام

د بعثت د یوولسم کال دحج په موسم کې د شپې پر مهال پیغمبرﷺ، ابوبکر صدیقؓ او حضرت

---

۱- الرحیق المختوم، مبارکپوري، د خاموش هروي ژباړه، ص. ۲۱۷ ـ ۲۲۴ السیرة النبویة، الصلابي ص. ۲۳۷.

علي‌رضي‌الله‌عنه د قبیلو د بلنې لپاره د منی له عقبې څخه تېرېدل، چې د ځینو کسانو اواز یې واورېد، پېغمبرﷺ او ملګري یې د هغوی په لټه کې شول او ورغلل، هغوی شپږ تنه پاک سیرته له یثرب څخه راغلي د خزرج قبیلې غړي وو، د خزرج قبیله چې له یهودو سره هم ژمنه وه او له پخوا یې له هغوی څخه د یو پېغمبر د ظهور خبر اورېدلی و، کله چې پېغمبرﷺ اسلام ورته تشریح کړ او هغوی یې د خدای‌جل‌جلاله دین ته راوبلل او قرآن کریم یې ورته تلاوت کړ. الله‌جل‌جلاله د شپږو واړو هر یو (اسعد بن زراره، عوف بن الحارث، رافع بن مالک، قطبه بن عامر، عطیه بن عامر او جابر بن عبدالله) زړونه په اسلام مین کړل او اسلام یې راووړ. کله چې دغه ډله مدینې ته ورسېدله، د پېغمبرﷺ او د هغه د بلنې د یادونې په ترڅ کې یې خلک اسلام ته رابلل. په دې ترتیب سره ټول د پېغمبر د ظهور او اسلامي بلنې څخه خبر شول[1].

## فعالیت

ګرانو زده کوونکو! هغه عوامل، چې په مدینه کې یې د اسلام له خپراوي سره مرسته وکړه، کوم وو؟

## له لوست څخه زده کړې

- د پېغمبرﷺ پلان د یثرب (مدینې منورې) په خلکو ترکیز و او هغه شپږ تنه، چې په همغه کال مسلمانان شول، د اسلامي بلنې په خپراوي کې یې ستر اغېز درلود.
- پېغمبرﷺ د قبیلو له مشرانو څخه ځکه مرسته غوښته چې هغوی له پېغمبرﷺ او اسلامي بلنې څخه د ملاتړ ځواک درلود.

## ارزونه

١. پېغمبرﷺ کومې قبیلې دعوت کړې؟
٢. د بعثت په لسم کال د حج له موسم وروسته کومو کسانو ایمان راوړ؟
٣. د لومړي ځل لپاره د خزرج د قبیلې کومو کسانو په کوم کال ایمان راوړ؟
٤. د خزرج د قبیلې هغو کسانو چې ایمان راوړی و، له بېرته تللو وروسته یې څه وکړل؟

## کورنۍ دنده

په خپلو کتابچو کې د هغو قبیلو او کسانو نومونه ولیکئ چې اسلام ورته وړاندې شو او و یې مانه؟

١- ابن هشام سیرت ١/ ٤٢٩.

### درې څلوېښتم لوست

## په عقبه کې لومړی تړون

د بعثت یوولسم کال د حج پرمهال د یثرب شپږ تنه اوسېدونکي، له پېغمبرﷺ سره مخامخ شول اوله اسلام منلو وروسته یې خپل قوم ته د پیغمبرﷺ د رسالت رسولو ژمنه وکړه، چې له برکته یې د اوس او خزرج د یو شمېر خلکو پام اسلام ته راواوښت.

### له پېغمبرﷺ سره بیعت

د بعثت دوولسم کال د حج په موسم کې دوولس تنه چې لس تنه یې د خزرج او دوه تنه یې د اوس له قبیلې څخه وو، پېغمبرﷺ ته راغلل. دغوکسانو چې پنځه تنه یې تیرکال هم راغلي وو، د اوو تنو نویو راغلیو په ګډون له رسول اللهﷺ سره په عقبه کې بیعت وکړ. هغوی ژمنه وکړه، چې یوازې د خدایﷻ عبادت به کوي. غلا او زنا به نه کوي، خپل اولاد به نه وژني او په ښو کارونو کې به فرمان منونکي وي. په مقابل کې یې پېغمبرﷺ ورته ددې زیری ورکړ چې که په دې ژمنې مو وفا وکړه، نوتاسو به په جنت کې یاست او که مو خیانت وکړ، ستاسو کار به له خدای سره وي. که وغواړي په عذاب به مو کړي او که وغواړي ویه مو ښښي.

### په مدینه کې د اسلام سفیر

پېغمبرﷺ د حج له موسم وروسته مصعب بن عمیرؓ مدینې ته دسفیر په توګه وټاکه، ترڅو د مدینې مسلمانانو ته قرآن او د اسلام احکام او قوانین ورزده کړي.

**فعالیت**

ګرانو زده کوونکو! د دواړو خواوو ژمنې څنګه ارزوئ؟

### د مدینې د لویانو مسلمانېدل

مصعب بن عمیرؓ په مدینه منورې کې له اسعد بن زراره سره دېره شو. دواړو په جدیت سره د مدینې په خلکو کې د اسلام خپراوی پیل کړ . اسید بن حضیر او سعد بن معاذ چې د بني عبدالاشهل قوم له مشرانو څخه وو، د مصعب او اسعد په بلنې پرلپسې اسلام ومنلو. دنوموړو په اسلام راوړلو سره د اوس د قبیلې د بني عبدالاشهل دېښې ټول نارینه او ښځې مسلمانان شول،

مصعب چې کومه دنده درلوده، په بري یې سر ته ورسوله. د قرآني احکامو د ښودلو، د اسلامي قوانینو تشریح کولو اود هغو قبیلو د وګړو په منځ کې چې اسلام یې منلی و، د وروروګلوۍ اړیکو په ټینګولو او همدارنګه د یوه ډاډ من مرکز د پیداکولو لپاره یې ډېرې هلې ځلې وکړې، ترڅو له هغه ځایه اسلامي بلنه خپره کړي. مصعب په داسې حال کې مکې ته راستون شو چې د بریاوو زیری او د اوس او خزرج د قبیلو د مسلمانېدو او د هغوی د دفاعي ځواک راپور ورسره و.

### فعالیت

زده کوونکي د معلم په لارښوونه د مصعب بن عمیر ﷛ د دعوت او د اسید بن حضیر او سعد بن معاذ د ایمان راوړلو په هکله په خپل منځ کې مباحثه وکړي.

## له لوست څخه زده کړې

- داسلامي بلنې د پرمختګ لپاره باید قومي مشران او وتلي خلک ځان بیلګه وګرځوي.
- داعي باید په تدریجي ډول له سوله ییزو لارو په استفادې بلنې ته دوام ورکړي.
- پېغمبرﷺ د یثرب له خلکو څخه د بیعت اخیستلو په حکمت سره د دعوت او لارښوونې لپاره یو بل مرکز پرانیستل غوښتل.

### ارزونه

١ــ پېغمبرﷺ ولې مصعب بن عمیر مدینې ته واستاوه؟

٢ــ د بعثت په دوولسم کال څو کسانو له پېغمبرﷺ سره بیعت وکړ؟

٣ــ مصعب بن عمیر﷛ د چا په مرسته په یثرب کې اسلام خپور کړ؟

٤ــ د عبدالاشهل له قبیلې څخه څو کسان مسلمانان شول؟

### کورنۍ دنده

د یثرب له خلکو سره د پېغمبرﷺ د بیعت پایلې په خپلو کتابچو کې ولیکئ.

## څلورڅلويښتم لوست

# په عقبه کې دويم بيعت

د حج موسم چې د اسلامي بلنې لپاره خورا مناسب وخت و، پيغمبرﷺ له همدې موقع څخه په استفادې غوښتل اسلامي بلنه شاوخوا لرې او نږدې قبيلو ته ورسوي.

### د بيعت عزم

د بعثت ديارلسم کال د حج په موسم کې د يثرب (مدينې منورې) د مسلمانانو درې اويا تنه نارينه او دوې ښځې د حج د مناسکو د اداکولو لپاره راغلي وو. هغوی په پټه له پيغمبرﷺ سره ژمنه وکړه، چې د تشريق په ورځو کې به په عقبه کې سره ګوري.

### د يثرب د يو سردار مسلمانېدل

هغه شپه چې د يثرب خلکو له رسول اللهﷺ سره ټاکلې وه، راورسېده. د يثرب يو سردار د عبدالله بن عمرو بن حزامرضي الله عنه په نوم هم ورسره و، هغه يې په حال خبر کړ او اسلام ته يې راوباله او فوراً يې اسلام ومانه او په عقبه کې يې ګډون وکړ.

### فعاليت

ولې د حج موسمونه د بلنې لپاره غوره شول؟

## په عقبه کې ستره غونډه

له خپلې ژمنې سره سم د یثرب خلك ورو ورو د عقبې درې ته راتلل او سره یو ځای شول. پېغمبرﷺ له خپل تره حضرت عباس رضي الله عنه سره، چې لا مسلمان شوی نه و، راغی. کله چې ټول غونډې ته حاضر شول، د یوه دیني او عسکري پیوستون د تړون د لیکلو لپاره خبرې پیل شوې. لومړی حضرت عباس رضي الله عنه د هغه مسؤولیت پر اهمیت ، چې د دې تړون په پای کې د هغوی پر اوږو پرېوځي، رڼا واچوله.

## د بیعت مطالب

له ګډون کوونکو څخه حضرت جابر رضي الله عنه پېغمبرﷺ ته وویل: د الله رسوله! له تا سره په څه شي بیعت وکړو؟ حضرت محمدﷺ وفرمایل: د خوښۍ او خفګان په حال کې په اورېدو او فرمان وړلو، په سختۍ او آسانۍ کې د الله جل جلاله په لار کې د ما ل په مصرفولو، په امر بالمعروف او نهی عن المنکر کولو، په دې چې د الله جل جلاله په لار کې ثبات ولرئ او په دې لار کې د هیڅ ملامتوونکي له ملامتیا څخه ویره ونه کړئ او پر دې چې کله تاسو ته درغلم، ملاتړ به مې کوئ او د خپلو ماندینو او اولادونو په شان به مې پالئ او حفاظت به مې کوئ ، چې د دې په بدل کې به مو جنت په برخه شي.

## تړون ( د بیعت پلي کول)

د بیعت د مطالبو له تثبیت وروسته، بیعت د لاس په ورکولو سره پیل شو، لومړنی سړی چې خپل لاس یې د پېغمبرﷺ په لاس کې کېښود، براء بن معرور و، بیا هر نارینه په خپل وار له پېغمبرﷺ سره مصافحه وکړه او تړون یې وکړ او بیعت کوونکو له ډلې څخه د ښځو بیعت په ژبې یعني

وينا سره وشو.

دغه بيعت پر اسلام د ثابت پاتې کيدلو په موخه له دوستۍ او اعتماد څخه ډکه فضا کې د مسلمانانو د بېلا بېلو ډلو په منځ کې ترسره شو.

## فعاليت

د انصارو د بيعت په مقابل کې رسول الله ﷺ د هغوی سره څه وعده وکړه؟ زده کوونکي دې دخپل نظر اظهار وکړي.

په پټه د يثرب له خلکو څخه د بيعت اخيستل څه مفهوم لري؟

## له لوست څخه زده کړې

- دبيعت لپاره د اوس او خزرج د قبيلو د مشرانو چمتووالی د هغوی پر زړونو د ايمان د اغيز بيانوونکی دی.
- په سختو شرايطو کې د دې بيعت پلي کول د مشرکينو لپاره يو چلنج ګڼل کيږي، ځکه په خاص ځای او وخت کې په منظم او سري ډول راټولېدل او د ذی الحجې د دیارلسمې شپې ټاکل چې د حج وروستۍ شپه ده، د بيعت د پلان په کاميابۍ کې ستر اغېز درلود.
- په خپل ورځنيز ژوند کې له حق څخه دفاع کول او د عقيدې او اسلامي بلنې په لار کې ثبات او مقاومت لرل.
- له دې لوست څخه دا هم زده کوو، چې کېدای شي، له مناسبتونو څخه د ديني او اجتماعي کارونو د اصلاح لپاره ښه ګټه واخيستل شي.

## ارزونه

۱. د دويمې عقبې بيعت په کوم کال و او چېرته او څو کسانو پکې ګډون درلود؟

۲. ولې د پېغمبرﷺ تره په دې بيعت کې ګډون وکړ؟

۳. لومړنی شخص څه نومېده چې د بيعت لاس يې رسول اللهﷺ ته ورکړ؟

٤. پېغمبرﷺ له ښځو سره څه ډول بيعت وکړ؟

## کورنۍ دنده

له پېغمبرﷺ سره د مدينې منورې د خلکو د بيعت مطلب په خپلو کتابچو کې وليکئ.

## پنځه څلوېښتم لوست

# د مسلمانانو د صبر او ثبات لاملونه

مسلمانانو دځپل اسلامي دین د خپراوي په لار کې ډېرې ستونزې او مصیبتونه وزغمل، تردې چې په دې لارې کې د ژوندله لاسه ورکولو پورې ورسېدل. دلته هغه لاملونه او وسیلې یادوو چې مسلمانان یې له زښته ډېر صبر او زغم ته په غاړه ایښودلو قانع کړل:

### ۱. په خدای ﷻ ایمان او د الٰهي ذات رښتینې پېژندنه

کله چې رښتینی ایمان د مسلمانانو په زړونو کې ځای ونیسي، کړاوونه او مصیبتونه که څومره لوی او دردانده هم وي، په خوښۍ سره یې ګالي، له همدې سببه نور لاملونه رامنځ ته کېږي او د ثبات او صبر تقویه پرې کیږي.

### ۲. داسې لارښوود او قیادت چې زړونه راماتوي

حضرت محمد ﷺ د ټول بشریت لارښوود دی. په پاک لمنی، امانت ساتنې او د ښو کارونو سرته رسولو کې داسې پوړ ته رسېدلی و چې یوازې دوستانو او یارانو نه، بلکې دښمنانو هم د هغه په حقانیت او صداقت باور درلود.

### ۳. د مسؤولیت احساس

د پیغمبر ﷺ یارانو احساسوله چې دومره درونډ مسؤولیت ورپه غاړه دی چې هېڅ کله یې باید په هکله بې غوري و نشي ، څکه پوهېدل چې له دې مسؤولیت څخه غاړه غړول، خورا بدې پایلې لري.

## فعالیت

د خلکو په ورځنیو کارونو کې د مناسبې لاربښوونې اغېز څنګه ارزوئ؟زده کوونکي دې خپله رأیه ښکاره کړي.

## ۴. د قیامت او آخرت په ورځې ایمان

مسلمانانو یقین درلود چې په آخرت کې به د هر ښه او بد کار په اړه پوښتل کېږي او له هغې وروسته به بیا جنت او یا دوزخ ته لېږل کېږي. هغوی پوهېدل چې دنیا له خپلو ټولو نعمتونو او عذابونو سره د آخرت پر وړاندې د غوماشې د وزر په اندازه ارزښت نه لري،څکه خو د دنیا ترخې او ستونزې هغوی ته خورا وړې او ناڅیزه معلومېدې.

## ۵. قرآن کریم

قرآن کریم، مسلمانان صبر او ثبات ته هڅولي. له عبرتونو ډکې کیسې او د هغو حکمتونه یې ورته بیان کړي دي. قرآن کریم مسلمانان له یوې داسې نړۍ سره اشنا کوي چې د جاذبې پر وړاندې یې هېڅ خنډ مقاومت نشی کولای.

## ۶. د بري زیری

مسلمانان د اسلام له پیله پوهېدل چې اسلام ته د ننوتلو معنا یوازې د کړاوونو زغمل نه و، بلکې د هغوی هدف د جاهلي ټولنې اصلاح او د اسلام د سیاسي نفوذ او قدرت خپراوی و، ترڅو

انسان د بتانو له عبادت څخه د یوه خدایﷻ عبادت ته راوبولي. د قرآن کریم د آیتونو نزول او د پخوانیو قومونو د حالاتو حکایت او له خپلو پیغمبرانو سره د هغوی دښمنۍ داسې حالات وو چې د مکې د مسلمانانو او کافرانو له وضعې سره یې پوره سمون درلود.

په دغو کیسو کې دې ته اشاره وه چې د مکې خلک به په نږدې راتلونکې کې ماتې خوري او اسلامي بلنه او مسلمانان به بریالي کیږي. مسلمانان پر خدایﷻ د قوي ایمان او د اسلام د پیغمبرﷺ د اوامرو د پیروۍ له امله په دې باور وو چې جنت ته داخلېدل لوی بری دی. هغه رنځونه او فشارونه چې دوی یې کلابند کړي وو، و زغمل او یقین یې درلود چې ډېر ژر به دغه ستونزې له منځه لاړې او بری به یې په برخه شي.

## فعالیت

ګرانو زده کوونکو! د کامیابۍ او بریاوو زیرې د مسلمانانو لپاره کوم وو او د صبر او ثبات پایلې څنګه ارزوئ؟

## له لوست څخه زده کړې

- د مسلمانانو وروستی موخه د جاهلي ټولنې اصلاح او د الٰهي ذات عبادت و؟
- په خدایﷻ او د قیامت په ورځ ایمان، د مسؤولیت احساس او د مناسب قیادت او لارښوونې شتون د مسلمانانو د صبر، ثبات او بریاوو له سببونو څخه وو.
- پر هغو وعدو او وعیدونو باور او یقین، چې پیغمبرﷺ به مسلمانان بریاوو ته هیله من کول او د جهنم له عذاب څخه یې ویرول.

## ارزونه

۱. د مسلمانانو د برياوو زېري په قرآن کريم کې څنګه شوي دي؟

۲. د پېغمبرﷺ لارښوونو د اسلام د لارويانو په روحيه کې څه اغېز درلود؟

۳. په دې لوست کې مو چې د مسلمانانو د صبر او ثبات عوامل ولوستل کوم دي؟

## کورنۍ دنده

په لنډ ډول د مسلمانانو د صبر او ثبات عوامل په خپلو کتابچو کې وليکئ.

## شپږ څلوېښتم لوست

# د هجرت مخکښان

په عقبه کې له دويم بيعت وروسته مسلمانانو له مکې څخه بهر د يو مرکز په جوړولو ستر برى ترلاسه کړ، چې له امله يې رسول اللهﷺ مسلمانانو ته د هجرت اجازه ورکړه.

## له مشکلاتو سره هجرت کول

مسلمانانو سره له دې، چې پوهېدل په هجرت کې منافع، ما ل او شتمني له منځه ځي، له هلاکت او بې برخليکى سره مخامخ کېږي، هجرت يې پيل کړ. د هجرت د سالارانو څو بېلگې يادوو:

١. د لومړنيو کسانو په ډله کې چې هجرت يې وکړ، يو هم ابو سلمهؓ دى، هغه له دويمې عقبې څخه يو کال مخکې تصميم ونيو چې له خپلې ميرمنې او يو زوى سره هجرت وکړي، خسرگنى يې ورسره د ښځې په بيولو کې مخالفت وکړ او هغه يې ترې ستنه کړه، د ابو سلمهؓکورنى هم په غوسه شوه. زوى يې له مور څخه واخيست او ځان سره يې خپلې قبيلې بنو مخزوم ته بوتلو. ابو سلمه يوازې مدينې ته لاړ. ام سلمه رضى الله عنها ته چې تل به د خپل گران خاوند ابو سلمه په ياد ژړيدله، يو کال وروسته اجازه ورکړاى شوه چې مدينې ته لاړه شي. هماغه و چې خپل زوى يې له خسر خېلو څخه واخيست او په يوازې ځان يې د مدينې لاره ونيوه. کله چې عثمان ابن ابي طلحه له موضوع څخه خبر شو، تر مدينې پورې يې د هغې ملتيا وکړه او هغه ښارگوټي (قبا) ته يې ورسوله، چې خاوند يې پکې و اوخپله بېرته مکې ته راغى.

٢. همدارنگه کله، چې صهيب بن سنان رومي ؓ د هجرت اراده وکړه، د مکې خلکو ورته وويل: فقير وې، دلته شتمن شوې، شونې نه ده، چې شتمني او مال له ځان سره يوسې. صهيب ؓد خپل مال په پرېښودو له قريشوڅخه د هجرت اجازه ترلاسه کړه. کله چې حضرت محمدﷺ له دې پېښې خبر شو، وېې فرمايل: صهيب گټه وکړه! صهيب گټه وکړه!

**فعاليت**

گرانو زده کوونکو! له پخوانيو درسونونه په گټې اخستوسره کولاى شئ ووايئ چې له مکې بهر د مسلمانانو مرکز څنگه او چېرته و؟

٣. عمر بن خطاب، عياش بن ابي ربيعه او هشام بن عاصؓ وعده وکړه چې سهار مهال به د مکې څخه د باندې په فلاني ځاى کې سره يو ځاى شي او بيا به د مدينې په لور هجرت وکړي. عمر او عياش همغه ځاى ته ورسېدل، خو هشام ونشواى کړاى چې ورسره يو ځاى شي.

دوی دواړه مدینې ته ورسېدل. ابوجهل او ورور یې حارث، عیاش ﷺ ته چې د دربېوارو موریوه وه، ورغلل او ورته یې وویل: مور پر ځان نذر کړئ چې تا ونه ویني، سر به ږومنځ نه کړي او له لمر څخه به سیوري ته لاړه نه شي. زړه یې د خپلې مور په حال وسوځېده او هوډ یې وکړ، چې خپلې مور ته ورشي، خو عمر ﷺ ورته وویل: عیاشه! دوی ستا په هکله بله اراده لري، غواړي تا له خپل دین څخه واړوي. ځان ترې وساته! خوکله چې عمر پوه شو چې عیاش خپلې مور ته د ورتلو اراده کړې، خپل اوښ یې ورکړ، د لارې په نیمایي کې ابوجهل او ورور یې پر عیاش حمله وکړه لاسونه او پښې یې پرې وتړلې او مکې ته یې یووړ او ویل یې: ای د مکې خلکو! تاسې هم له خپلو جاهلانو سره همداسې چلند وکړئ، لکه چې موږ له دې احمق سره وکړ. دا و د هغو کسانو په وړاندې د مشرکینو غبرګون چې هجرت کول یې غوښتل. خو د دې هر څه سره سره خلک ډلې ډلې، اویوازې، یوازې یو د بل پسې مهاجرکیدل.

## فعالیت

ګرانو زده کوونکو! سره له دې چې صهیب خپله شتمني او مال پرېږدي، پیغمبر ﷺ څنګه وایي چې صهیب ګټه وکړه؟

## له لوست څخه زده کړې

- مسلمانان د خپل ایمان او عقیدې د ساتلو لپاره له خپل ځان او مال څخه تېرېږي.
- د قریشو مشرکینو د خلکو د مسلمانېدو د مخنیوي لپاره هره وسیله وکاروله.

## ارزونه

۱. د مشرکینو سخت زړي توب د ابو سلمه د هجرت پر وړاندې څنګه و؟
۲. کله چې صهیب د هجرت تصمیم ونیو د مکې خلکو څه ورسره وکړل؟
۳. له هجرت وروسته عیاش بن ابي ربیعه ﷺ څه ډول د مشرکینو په دام کې ونښت؟

## کورنۍ دنده

د اسلام د سالارانو د کړاوونو د زغملویوه بېلګه په خپلو کتابچو کې ولیکئ.

## اووه څلوېښتم لوست

# په دارالندوه کې د قریشو تصمیم

د مسلمانانو د هجرت هوډ، چې له خپلو مالونو او کورنیو سره مدینې ته تلل، مشرکین سخت اندېښمن کړل او خپل اقتصادي او سیاسي تهدید یې په خپلو سترګو لیده. هماغه و چې د قریشو مشرانو په دارالندوه کې یوه غونډه جوړه کړه، ترڅو د پېغمبر علیه السلام د فعالیتونو مخه ونیسي.

### د مسلمانانو پرمختګ او د قریشو اندېښنه

قریش د حضرت محمدﷺ په جذاب شخصیت او د اوس او خزرج د قومونو جنګي استعداد او د مدینې منورې پر ستراتیژیکي موقعیت، چې د یمن او شام د تجارتي لارې پر سر پرته وه، پوهېدل او له بلې خوا په مدینه کې د اسلامي دعوت تمرکز د قریشو لپاره یو ستر خطر شمېرل کېده.

په عقبه کې له دویم بیعت څخه دوې نیمې میاشتې وروسته د قریشو د قبیلو استازو په دارالندوه کې یوه ستره غونډه ترتیب کړه، ترڅو د پېغمبرﷺ د فعالیتونو، چې د اسلامي بلنې مخکښ دی، مخه ونیسي. په دې غونډه کې ابوجهل بن هشام، جبیر بن مطعم، شیبه بن ربیعه، عتبه بن ربیعه، ابوسفیان بن حرب، نضر بن حارث، ابوالبختري بن هشام، امیه بن خلف او یو شمېر نورو د قریشو مشرانو ګډون درلود.

په دې منځ کې ابلیس د سپین ږیري سړي په قیافه کې راغی او ویې ویل: د نجد د خلکو سپین ږیری یم، ستاسو له غونډې خبر شوم راغلم، چې ستاسې خبرې واورم او دغونډې په اړه به خپله لازمه څرګندونه او لارښوونه و نه سپموم.

### فعالیت

په مدینه کې د اسلامي دعوت تمرکز ولې د مشرکینو د اندېښنې موجب شو؟

### د پېغمبرﷺ د وژلو پرېکړه

په یادې شوې غونډې کې وړاندیزونه و شول، ابوالاسود وویل: هغه وباسئ او تبعید یې کړئ. ابلیس په هماغه یادې شوې قیافې کې وویل: نه دا ښه نظر نه دی، ځکه هغه که هرې قبیلې ته ورشي، خبرې وکړي، خلک د هغه مني او تاسې به د خپلو لارویانو په مټ له منځه یوسي.

ابوالبختري وویل: هغه ځنځیر او زولانه کړئ او په خپل کور کې یې بند کړئ، بیا یې د مرګ انتظار کوئ. ابلیس له هماغې قیافې سره وویل: نه، دا نظر هم ښه نه دی، په بندي کولو سره د هغه د بلنې مخه نشئ نیولای، بلکې یاران یې ورسره مرسته کوي او خوشې کوي یې.

په دې وخت کې د پیغمبر عليه السلام لوی دښمن ابوجهل دریمه طرحه وړاندې کړه، ویې ویل: له هرې قبیلې څخه یویو ځوان غوره کوو، چې د ښه نسب او شرف خاوند وي، هر یو به توره واخلي د یو یرغل په ترڅ به یې له منځه یوسي او وینه به یې په قبیلو کې ووېشل شي او بیا به یې دیت ورکړو! په همدې ترتیب به د هغه څخه خلاص او آرام شو.

ابلیس په دې وخت کې وویل: زما په نظر دغه رایه او نظر ښه او سم دی. د قریشو مشرانو له پرېکړې څخه خپل ملاتړ وښوود او د ژر اجراکولو هوډ یې وکړ.

## فعالیت

ګرانو زده کوونکو! دمشرکینو د کینې نور موارد که درته یاد وي ووایاست؟

## له لوست څخه زده کړې

- مشرکینو د پیغمبر ﷺ د وژنې تر حده د دعوت په مخنیو لو کې زیارګاله.
- ابلیس په خپلو ډول ډول حیلو غواړي د اسلام او مسلمانانو د پر مختګ مخه ډب کړي.

## ارزونه

۱- د قریشومشرکان څه وخت او په کوم ځای کې او کوم غرض را ټول شوي وو؟

۲- ابلیس ولې دغې دښمنۍ ته لمن وهله؟

۳- داسلامي بلنې د مخنیوي په هکله د مشرکانو خطرناک وړاندیز د چا له لوري او په کوم ترتیب وړاندې شو؟

## کورنۍ دنده

په خپلو کتابچو کې ولیکئ چې په دارالندوه کې څوک راغونډ شوي وو او د اسلامي دعوت د مخنیوي لپاره یې څنګه وړاندیزونه وکړل.